



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دکتاب پېژندنه

---

دکتاب نوم :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: ټولنه لیونۍ ده

لیکوال نوم :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: عبدالقادرمجرم

خپروونکی :: :: :: :: :: :: :: هیواد ادبي یون کلاسیف الله

چاپکال :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: اپریل ۲۰۱۵م

کمپوزوونکی :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: عبدالقادرمجرم

چاپشمېر :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: (۵۰۰) ټوکه

بیه :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: (۲۵۰)روپۍ



اړیکه :- qmujrim@yahoo.com Facebook(search)

03023809538

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

خپلې ګرانې مورکۍ ته ، چې ما ته یې بېحده مینه راکړې ، زما د پاره بې خوبه شوې هم یې په هر حالت کې زما روزنه کړې او تل یې زما دښه ژوند او روغ صحت غوښتنه کړې ده ، زه یې د دعاګانو محتاجه یم .....

عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کتاب د قدرمن

**نوابزاده عابدجوگیزی**

ضـلعي زکـواة چېـرمېن ضـلع
کلاسیف الله په مالي لګښت چاپ
شو،

د زړه لـه تلـه ورتـه کـور ودانـی
وايم ، داسي خلك دې تـل ښاد او
بريالي وي......

( عبدالقادرمجرم )

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

(1)

په هوټل ورد ننه شوم ، شا و خوا مې وکتل ـ یوه ټولۍ خلګ یوې خوا ته ناست وو ، له رنګه او خبرو تعلیم یافته ښکارېدو ـ بلې خوا ته درې کسان چې په عمر پاخهٔ له رنګه کلیوال ښکارېدو.

یو بل ګړدی صور تمن سړی دېوال ته پروت وو ، څنګل یې پر مڅکه لګولې وه ، سر یې پر خپل لاس یښی وو ، پښې یې غځولې وې ـ لوڅ بېر سر چې په وېښتانو کښې یې ببخې له لرې ورې ورې خا شې ښکارېدې ـ ببره په تور او سپین قمره ېبره هغه هم د سر په شان له خاشو ډکه ، لاړې پکښې بندې وې ـ تور لنډ خیرن کوټ یې په غاړه وو.

د هوټل له چائینکې څخه یې په یوه لاس یو یو غوړپ چای په پیاله کښې اچولې چې هغه به یې غوړپ کړې بیا به یې بل غوړپ په پیاله کښې ورواچولو ـ سړی سم لېونی ښکارېدو.

زهٔ یوې خوا ته له لېوني څخه لرې کښېنستم ـ هوټلي ته مې د چای ږغ وروکړ ـ دې بلې خوا ته د هغو ځوانانو تود بحث روان وو ـ لېوني چې خپلې چای په یوهٔ یوهٔ غوړپ ختمې کړې ـ پر خپلو لړلو برېتو یې لاس تېراوو چې کله به ما تر سترګو لاندې ورو کتل د لېوني نظر به هم په ما کښې وو.

**لېونی**: "مرې که یې وژنې ! تا سو لس لس را واړوئ".

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خلک ټول خاموشه شو، لېوني ته متوجه شول. چا و چا جېب ته لاس کړو لس لس روپۍ یې ورکړې۔ لېوني چې لس لس روپۍ ترلاسه کړې ویې خندل۔
"مرې که یې وژنې ! ښځه یې ویلي دي د سپیو په دنیا همېش د مېړو برېتونه غوړ وي".
په هغو ناستو خلکو کې یوه مخ ورواړاوو "یاره ! ښځه یې ویلي دي (ښځه مه کوه بد نه درځي) ".
لېونی را پورته شو، پرګونډو کښېنستو
"مرې که یې وژنې ! ته دا بې کاره خبرې پرېږده . ته دا راته ووایه قام لېونی دی که تاسو؟".
هغو ټولو بیا په کټ کټ وخندل. یوه چې د خپلې خندا اوښکې یې له سترګو پاکولې
"ستا څه اندازه ده؟".
لېوني په هوټل کښې یوې او بلې خواته وکتل
**لېونی**: "مرې که یې وژنې ! که تاسو ټول په یوه شمار کړم نو زما په خیال هغه متل به شي چې
(کلي پر لېوني خندل لېوني پر کلي)".
دوی ټولو بیا په کټ کټ وخندل . هغه سړي بېرته ورغبرګه کړه
"یاره لېونیه ! ته ډېر هوښیار یې".
**لېونی**: "مرې که یې وژنې ! هو خو خلک مې نه مني".

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه سړی چې له لېوني سره يې خبرې کولې هوټلي ته يې وررږغ کړو "ته راوړه دوې چائينکې". بيرته يې لېوني ته مخ ور واړاوو "ستا په خيال څۀ کول پکار دي؟".
لېوني چې د هغه سړي ومخ ته پروت کتاب وروا خيستـه "مرې که يې وژنې ! زما په خيال دا تاسو چې په سلګونو کتابونه ويلي دي يوه معنا به نۀ لري. وما ته داسې ښکاري لکه له يوې لائبريري څخه چې بلې ته کتابونه وړې".
هغه له لېوني سره په خبرو اخته سړي چای په پيالو کښې اچولې "ستا په خيال څۀ کول پکار دي؟".
لېوني له ډکو پيالو څخه يوه ورپورته کوله
"مرې که يې وژنې ! تاسو داسې وکړئ پښتنو ته ووايا ست .د سيلاب په مخ کښې مو اړولي دي. يو داسې سړی پيدا کړئ چې لاره ايستلای شي هم يې باره زده وي".
هغه له لېوني سره په خبرو بوخت سړي خپلې سړې چای ور پورته کولې "بل څۀ کول په کار دي؟".
لېوني تشه پياله په لاس کښې پورته کښته کوله
"مرې که يې وژنې ! بل که داسې سړی وي چې د جومات په کوڅه کې يوه شراب خانه خلاصه کړي بل پر هغه خالي مځکه داسې اداره جوړه کړي چې اول يو څوک ورشي ډېره ګټه پکښې کولای شي. سو که سو که يې له وخته سره ګټه کمېږي. اخر دې ځای ته را ورسېږي چې ويوه روپۍ ته يې نفس خېژي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا دي د دې کوڅې په سر کښې ورته کښېني ګوري دې چې څوک چېرې ځي او څوک چېرې ځي"؟
هغه سړي چې په سړو چايو يې نشه نۀ وه ماته په چائينکو کښې يې نورې چای کتلې
"نور څۀ کول پکار دي؟".
لېونی چې سره وغځېدو ويې هم خندل
"مرې که يې وژنې ! کارونه خو ډېر دي.دا يو کار که لا کولای شې چې ملايان را وغواړې پرېښ، پېښور، موځي او نايي په دا سې نومونو ونوموي کوم چې دوی ارځي بل به دا سې وکړې يو څۀ او به ورته راوړې دوی به غوړي ځينې جوړ کړي".
هغه سړي په کټ کټ وخندل
"لېونيه ! دا به زما په خيال نۀ کړي وه".
لېوني يوار هغه سړي بيا ماته، په اخر کښې هغو کليوالو خلګو ته ښۀ په غور وکتل و يې خندل
"مرې که يې وژنې ! ولې ملا عثمان له او بو غوړي جوړ ولای شو.دوی خو يو مولويان دي او بل ډېر دي".
لېونی د خبرې له ختمېدو سره سم پرېوت.د هوټل په منځ کښې يې پښې وغځولې.په دې وخت کښې ټولو يو بل ته په حېرانۍ سره کتل. اذان و شو.هغه کليوال خلګ ولاړ شو، يو بل ته وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



"درځه د جمعې شریفې لمونځ دی بیا د اودس موقع نۀ پیدا کېږي".
لېونی چې ژر راپورته شو
"مرې که یې وژنې! په دې ښار کښې د جمعې لمونځ نۀ کېږي".
هغه ساده خلګو ځواب څۀ شا ته یې لا نۀ را وکتل.بېرته هغه له دۀ سره په خبرو بوخت سړي وویل
"ولې؟".
لېوني د ولاړېدو پر مهال د هغه سړي د خبرې ځواب څۀ داسې ورکړی
"مرې که یې وژنې! دوی وای په ښار کښې چې هر ډول خلګ نۀ وي،په هغه ښار کښې د جمعې لمونځ نۀ کېږي".
هغه سړي چې په ناسته یې د لېوني و مخ ته کتل
"یاره لېونیه! هر قسم خلګ خو شته هم".
لېونی چې روان شو،مخ یې شا ته را واړاوو
"مرې که یې وژنې! ما ته معلوم دي په دې خلګو کښې یو بې غیرته بل ناپوه نشته-دریم د لمانځۀ د پاره پاکې جامې ضروري دي.دلته د چا د حلالې روزۍ جامې په غاړه دي؟-مزدور په مزدوري کښې، استاد په استادي کښې، ډاکټر په ډاکټري کښې، ملا په ملایي کښې،خان په خاني کښې غلا کوي. شته یو څوک چې خپله ذمه واري یې پوره کړې ده؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې خبرې سره لېونې په زوره زوره چيغې کړې درې څلور واره

"مرې که يې وژنې !"

"مرې که يې وژنې !"

"مرې که يې وژنې !".

بد يې شروع کړل .دلته په هوټل کښې ناست خلک هم ټول راغلو.په ټولو مو لېونی تکيه کړی.په دې وخت کښې زما خولۀ له وينو ډکه وه چې د نيولو په وخت کښې لېوني يو کافر سوک پر خولۀ راکړی.د دۀ هم سر په ديوالۀ کښې ټک وهل شوی ميختبلې سره ولګېدو ، بېخي ډېر مات شو.وينې پر تويدې هم بې هوښه شو.پر مخکه را پرېوتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○
(2)

ژر ژر مي شيخ استاد ته زنګ ووهلو ـ ښۀ وو چې هغه نژدې د موټرو په اډه کښې ولاړ وو ـ ښېخي ژر راغلو ـ لېونی مي هسپتال (روغتون) ته یوړی.

اوس نو د هسپتال خلکو ته وګوره . مور په وینو لړلي یو، دوی پولیس والا ته فون (زنګ وهي) کوي چې "د جنګ کېس دی تاسو ژر راشئ".

دلته ما د ډاکټر په خوا خولۀ ور خلاصه کړه چې څۀ پر خولۀ راتلو هغه مي ورته ویل

دا چا درته وویل چې مونږ جنګ کړی دی . په شناخته سترګو نۀ شرم، نۀ حیاء لرئ . ژر ژر د دې سرې علاج وکړئ".

ډاکټر یوه اوږده ساه واخیسته

"خدای به یې خېر کړي ـ مونږ څۀ وکړو، مجبوري ده چې پولیس خبر نۀ کړو بیا نو مونږ یو، عدالت او پېښانې وي بیا له پېښیانو ځان نۀ شو خلاصولای".

ډاکټر د لیوني په درملنه بوخت شو او کمپوډر یې زما خولۀ له وینو راپاکه کړه چې لېوني پر خولۀ په سوک وهلی وم چې بېرته راغلم د ډاکټر له څنګه ولاړ وم ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر ته مې کیسه کوله چې پولیس ماما راغلو، یو څو نور پولیس هم ورسره وو.د ښار پولیسو اکثرو د ماما په وجه زۀ پېژندلم.پولیس والا خو زۀ پېژندمه خو ایس ایچ او نوی اوس اوس له بله ځایه راغلی وو هغه څۀ ځان دلي دوري کاوو.

څۀ زۀ هم په ځان کښې خالي (ملامت)وم .ما لېونی نۀ پېژندو چې څوک دی او د کوم ځای دی؟ خو بیا ما او پولیس ماما په څۀ سخترو (خوارئ او زارئ) لېونی داخل کړ او د لیوني هره ذمه واري مونږ په خپل سر واخیسته .له لیوني سره نۀ شناختي کارډ، نۀ یې بل داسې کاغذ په جېب کښې وو چې نوم یا یې د کور درک پر کېدو.

په هسپتال کښې مې د لیوني د پاره ځان له ځای (یوه شخصي خونه ) وموندله.د لېوني علاج شروع شو.پوره درې ګنټې (ساعته) پس لیونی په هوښ کښې راغلی-ورو ورو یې سترګې خلاصې کړې .یو وار یې چت ته بیا یې پنکې ته او ورسته یې ما ته وکتل.

زما په زړۀ یو خدای ښۀ خبر وو .زما دا وېره کېده چې بله دوره پرې را نۀ شي. پر خولۀ بل سوک در نۀ کړي.

**لېونی**: "مرې که یې وژنې !دا راته ووایا ست چې زۀ دلته څنګه او چا راوستم؟".

ما لېوني ته کتل.په وېره وېره مې تو له کېسه ورته وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېونی را پورته شو۔ شا و خوا یې وکتل بیا ولاړ شو۔ لاړو اودس یې تازه کړ۔ په لوڅ سر، په هغو خیرنو جامو کښې پر لمانځه ودرېدو چې لمونځ یې سم وکړو۔ دلته زۀ هم لږ څۀ مطمینه شوم.

**لېونی**: "مرې که یې وژنې! پولیس، قانون او عدالت اوف! اوف! توبه توبه که مه خپلې خبرې درته وکړې ۔ حېران به پاته شې۔
مرې که یې وژنې! نسوار راکړه".

**زۀ**: "نسوار نۀ کوم".

**لېونی**: "سګرېټ راکړه".

**زۀ** : "سګرېټ هم نۀ څکوم".

**لېونی**:"هاهاهاهاها۔ مرې که یې وژنې! سګرېټ هم نۀ څکوې؟۔ باوو هاهاها څه سمه ده ۔ دغه رنګه خماري مې پرېږده۔چای خو نو راوغواړه منا چې کیسه درته وکړم".

زما په زړۀ یو خدای شۀ خبر وو۔ یوازې زۀ او لېونی وو۔ له ځان سره مې وویل
"څه اوس خو هسې هم کښېوتی یې".
زما دغه خبره پر زړۀ وه چې کیسه پرېږده ځان را وپېژنه چې ما به دا خبره کوله۔ په دې وخت کښې ور خلاص شو۔ نرسه راغله چې لېوني ته (ستن) پېچکاري ور ولګوي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیوني خپل لاس نرسي ته نۀ ور پرېښود و۔ هغې غریبې سوالونه ورته کول چې
"دا ستا د روغتیا د پاره در لګوم".
**لېوني**: "مرې که یې وژنې ! د روغتیا د پاره ؟ هاهاهاهاها.په ما څۀ شوي دي ؟".
**نرسه**: "چې څۀ نۀ دي درباندې شوي بیا په هسپتال کې ولې پروت یې؟".
**لېوني**: "مرې که یې وژنې ! خوره ! زۀ په تا ستن نۀ لګوم . ما ته به نر ستن را لګوي .که نرشته بیا خو سمه ده ګنې زۀ ستن نۀ لګوم".
دلته نو ما ته هم خښم راغلو چې
"دغه کم عقله وګوره، هغه غرېبه په دومره خوږه او پسته ژبه ورته ږغېږي .والله که مور ورته ږغېدلې وي"۔ پر ږغ مې کړ
"لاس ورښکاره کړه چې ستن درولګوي۔دا غرېبه خو به توله ورځ وتا ته نۀ تېروي .دا ستا په شان نور هم دېر دي .د هغو چوپړ به هم وهي".
لیوني برګ را وکتل
"مرې که یې وژنې ! تۀ خپله خوردې ته پرېږدې چې په دې هسپتال کښې ولاړه وي .د دا سې لېو نیا نو چوپړ وهي.نارینه وته ستنې ولګوي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د سر په ښورولو د نهٔ جواب ورکړ.
لیوني کلک (په کټ کټ) وخندل
"مرې کـه یې وژنې ! خورکۍ ! وینې زموږ ښـهٔ مېړونـه خپلـه خوردې تـه نـهٔ پرېـږدي چې داسـې د تـولنې خدمت وکړي. ما ته وایي لاس ورښکاره کړه".
نرسي له ورې خندا سره زما په خوا سترګې را واړولې.
ویې ویل
"هو دې خو هم دغسې". لیوني لاس ورښکاره کړ.
**لیوني**: "مرې که یې وژنې ! خوره ! خپله ستن ولګوه".
نرسې ستن ولګوله او ووته .لیوني کـاره د هسپتال څادر پر ځان ورکش کړ، پرېوتو-زهٔ ووتم ، هوټل لـه لاړم . خپلې چای مې دورې ښې پـه تسلي وڅیښلي بیا مې د لیوني د پاره هوټلي تـه د چای وویل .خونـه مي وروښودهٔ . سګرېټ او نسوار مې را اخیستو-پـه لاره را روان وم د نرسې او لیوني پر خبرو مي فکر کاوو چې
"دا دواړه څنګه خبرې وې".

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

3

هوټلي چای راوړي ،ما لېونی راویښ کړ ـ دۀ چې سر تر ځادر را بهر کړ

"هاهاهاها. مرې که یې وژنې ! چای دي، چای دي".

ژر ژر له کټ څخه را کوز شو ـ ما نسوار او سګرېټ هم ورکړو.

لېونی ولاړ شو ، په ټوپونو شو ـ اتڼ یې شروع کړ ـ وی تر دین دي وګرزم او په اوچت رږغ یې وویل

"چناره ! چې په سر ، وی چناره ! چې په سر کې دي ګل نشته.

چې زموږ په اتڼ ګډ وو

له هغو ځوانانو یو را سره نشته".

ما په ډېره ویره ورته وویل

"راشه شور مۀ جوړوه. هسپتال (روغتون) دی وروره !".

**لېونی**: "هاهاهاها ـ مرې که یې وژنې ! ما نو کله ویل چې سامینا (سنېما) ده" ـ را غلی څنګ ته مې کښېنستو ، پوري یې وهلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"وخکېږه کـه زمـا د پـاره هسـپتال دی نـو سـتا خـو هـم د پـلار کور نۀ دی".

زۀ هم ژر ژر وخکېدم.

ورور ته مي زنګ ووهلو چې

"د غرمې ډوډی له کوره څخه راوړه".

لیـونی پـر را غوټـه شـو ، پـه مـخ یـې مـچ کـړم ـ "ډوډی ډوډی ، خبره یوه ها د مړی ده بله ها د مړی ده"

بیا پر را وغورزېدو

"هله وبښ چا را کړی دی؟".

زۀ نور هم څیني ووېرېدم.

لېـوني یـوه چینکـه چـای پـه نـیم سـاعت کښـي وغورپلـه ـ لـه غرو او غوندېو خپت وو.

وروړ مـــي ډوډی را ورســـوله ـــ لیـــونی ولاړ شـــو ، بیرته پـــر کټ وغځېدو.

د وروړ مـي هـم خـاص خوښـه نـۀ وه چـې لـه دې لېـوني سـره دي اوسم ـ خو څۀ مـي کـړي وای لـه یـوې خـوا انسـانیت ، لـه بلـې خـوا مسـلماني او دریمـه پښـتونوالـه وه ـــ پـه دې هـره رشـته کښـي زمـا فـرض وو چـې د دې سـړي خـدمت مـي کـړی وای چـې وروړ مـــي ووت ، لېـوني بېرتـــه را کـــوز شوـــ پـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ خوړلو يې شروع وکړه ـ د ډوډۍ خوړلو پر وخت خاموشه وو خو چې زما په لوري به يې وکتل، سر به يې وښوراوو ـ دا سې ښکارېده لکه زما پر حال چې افسوس کوي.ـزۀ هم په ډوډۍ خوړلو ورسره بوخت وم.

چې ډوډۍ وخوړل شوه ـ هغه نرسه بيا د ستني لګولو په غرض راغله خو ليوني بې له څۀ زحمت کولو لاس ورښکاره کړـ نرسې بيا زما په خوا وکتل له وړې خندا سره يې ويل "لالا ! د دې سړي ښۀ خيال ساته"

روانه شوه، ووته.

لېوني ما ته وکتل

"مرې که يې وژنې ! الف مد ها (ب ) ماکوپ ودي ليده؟".

بيا ولاړ شو ،پر پونده وڅرخېدو.

"لېلو لښته ده".

ما په قهر ورته وکتل ـ دی ژر ژر خاموشه شو ـ راغلو پر کټ کښېنتسو

"مرې که يې وژنې !هو هو دا خو هسپتال (روغتون) دی ـ ما خو ويل چې هغه خيرن هوټل دی".

ما له ځان سره وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



"یا خدایه! دا اوس په څهٔ بلا واوښتم. کاش! چې زهٔ په هغه ګړۍ په هوټل کښې مهٔ وایه. یو خوا د کور کارونه را څخه پاته دي او بل یې ډاکټر هم ژر نهٔ رخصتوي. کله به له دې لېوني خلاص شم. لیونی نهٔ سمه دمه ډرامه ده".

زهٔ لا په دغه سوچ کښې وم چې ډاکټر راغلی. لیوني منډه کړه په څادر کښې یې ځان پټ کړ. په زوره زوره یې ویل

"مرې که یې وژنې! زهٔ نه وم، په خدای که زهٔ وم".

ډاکټر بېرته څادر ځینې لرې کړ. ماته یې اشاره وکړه چې "راشه".

زهٔ ورغلم لیوني وخندل بیا راغلې "لچې ملایې".

ډاکټر په غصه ورته وویل

"خاموش!".

**لېوني**: "مرې که یې وژنې! ډاکټر صېب! تهٔ خو به د پولیس والا نه یې چې دا سي غړومبی دې جوړ کړی دی. تر تا خو هغه ترکی ترسه ښه ده. غصه خو نهٔ راته کوي. تهٔ خو سړی وهروې.

دا کیسه خو به دې اورېدلې وي (که به مو نه وهروي) نور نو تهٔ په خپله سر خلاص کړه. مرې که یې وژنې!".

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ د لېوني په دې خبرو ډېر و خوږېدم خو ډاکټر خندل، باک يې نه په کاوو.

**زۀ:** "ډاکټر صېب ! موږ ته رخصتي کله راکوې".

**ډاکټر:** "په هغه ورځ چې لرا او بريو شي يا يې تر منځ پاسپورټ او ويزه نۀ وي".

ما ورغبرګه کړه "علاج يې شته يا کېږي؟".

**ډاکټر:** "هو شته خو ما ته داسې ښکاري چې د دې سړي علاج به وخت کوي.زۀ او تۀ يې نۀ شو کولای".

له دې خبرې سره ډاکټر ووت.

زۀ حېران غوندې کښېنستم.پر دې مې سوچ کاوو چې

"يو ځاى د کور کارونه پاتې دي بل ځاى د هسپتال (روغتون) خرڅه ده بل د ليوني فرمايشونه ،دال نۀ خورم ، بېنډۍ نۀ خورم،ولاکه يې وخورم-خامخا به د پسه غوښې وي".

ما يې هم هر فرمايش په ورين تندي منلو ځکه خو مې بارخوګان د دۀ له مچو پرسېدلي وو.

دا يو عجيبه اتفاق وو چې دۀ به کيسه را ته شروع کوله-لا به ډاکټر راغلو،لا به پر دۀ دوره راغله، بې هوښه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو-زما هغه خبره په زړه کښي وه چې دۀ راته وويلي وو چې

"زۀ د پوليس او عدالت کيسه درته کوم".

زۀ په دې تلوسه کښي وم-کېدای شي په کيسه کيسه کښي خپل ځان راته معارفي کړي نو مي ځکه غوښتو چې په خپله کيسه پيل وکړي او زۀ له دې اغزنه باره ځان خلاص کړم.نو مي ورته وويل

"هغه د پوليس او عدالت کيسه؟".

**لېوني**: "مرې که يې وژنې! سګرېټ راکړه-مفته کيسه غواړې".

ما له ځانه سره وويل

"واقعي چې لېوني دی-د دومره ښو برسېره دی کيسه په سګرېټ يا د چای په غوښتلو درته کوي".

**زۀ**: "سګرېټ نه سګرېټونه وغواړه خو کيسه شروع کړه".

**لېوني**: "مرې که يې وژنې! زۀ خو لېوني يم-که تۀ نۀ وايې ټول جهان وايي-که کيسه غواړې بيا نو ټولې کسې درته کوم خو کله که هم په کيسه کښي دمه راتله بيا به ما ته کيسه بېرته راپه ياد وې-ولې چې زما په دماغ کښي بيا دا کيسه نۀ وي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زۀ**: "هوکه وروره! زۀ به ستا کیسه د رپه یادوم".

**لیوني**: "مرې که یې وژني! بیا نو راته غوږشه- د مني وخت وو- نری شمال ډېر بد لګېدو خو دا ښۀ وو چې د عدالت وڅنګ ته ډېر ښۀ لمرخېکی وو- عدالت ته ور څېرمه لمر خړېکی ډېر ښۀ لګېدو- په مني او ژمي کښې به کله کله زۀ هم هغه لمر خړېکي ته کښېنستم.

دلته یو وړوکی چائینکي هوټل هم وو نو دې لمر ته به په دې موسم کښې د خلګو ګڼه ګوڼه ډېره وه- زما بیا دا عادت وو چې د خلګو پر خبرو به مې غوږ نیولی وو- د دوی پر خبرو به مې خوند اخیستو.

د لیونتوب دا لویه ګټه وه چې ما ته یې را رسولې وه- هغه په دې چې خلګو زما ترمخ هر څۀ ویل- هغه که به څۀ د کور کهول خبره وه، هغه یې لا هم نۀ پټوله- زۀ به کرار کرار ورڅکېدم، د دوی په خرڅه مې چای څیښلې- کله کله یې خرڅه لا هم راکوله- ما به د دوی پر پالتو پالتو خبرو هم کلک کلک خندل- که به یوۀ بل ته ویل خیال کوه، په زوره مۀ ږغېږه- دا سړی خبرې اوري بل به وخندل دا لیونی دی- دی نو څوک پېژني؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه رنګه یو ورځ د عدالت ګېټ ته نژدې د هوال ته ناست وم ــ د دوو کسانو پر غیبت مې خوند اخیستی وو چې ناري بغاري شوې ـ شرنګی مې تر غوږ شو ـ تا ته خو مالومه ده.

مرې که یې وژنې ! شرنګی خو مو ږ ته ډېر خوند راکوي چې سترګې مې ور واړولې ـ پولیسو یو سړی را روان کړی وو په پښو کښې یې بېړۍ او لاسو نو کښې یې زولنې وراچولې وې ـ هغه پر شا تپالی وهلې، دوی په زوره کشاوو. یو بل پولیس پر ملا په ډنډو وهلی.

له ما سره نژدې یو سړی ناست وو ـ هغه یو پولیس ته ور نږغ کړ. پولیس راغلی.

**سړی**: "کښېنه چای به هم وڅښې او ګپه به هم راته وکړې".

**پولیس**: "جج په دې سړي د پهانسي حکم کړی دی، جېل ته یې وړو. دی ځکه زورونه وهي نه ځي".

**سړی**: "ظالیمانو وهی یې ولې؟".

دې خبرې پر ما دومره بد تاثیر وکړ چې زما له خولې بې اختیاره دغه ناري ووتې

"مرې که یې وژنې ! جج لیونی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرې که يې وژنې ! جج ليونی دی
مرې که يې وژنې ! جج ليونی دی
مرې که يې وژنې ! جج ليونی دی".

ور منډې مې کړې ـ د سړي د خلاصېدو هڅه مې کوله ـ ور سره مې د غه ناري بغاري وهلې ـ پوليسو پر ما لرګي وګرزول.

د عدالت د رخصتۍ وخت وو ـ په ګېټ کې ګڼه ګونه وه ـ د جج موټر پر راوتلو وو ـ جج را کوز شو ، په ډډ ن ږغ يې وويل "پرېږدئ څه دي؟".

تول پوليس خاموشه شول ـ يو برېتو پوليس ور مخ ته شو ـ زما د لېونتوب کيسه يې ورته وکړه.

جج وخندل بيا يې هغسې په ډډن ږغ وويل

"ها ليونو ! دا سړی دي څه وو چې تا دومره شور جوړ کړی دی؟".

وما ته د هغه جج په خبرو کښې يو اثر ښکاره شو ـ خلک هم حيران دريان ولاړ وو ـ اخر جج راغلی پر اوږه يې لاس را کښېښود ی ، ويې خندل

"ليونو ! ليوني په خدای به تولـه يـو خـو څوک ښکاره شي ، څوک پټ. ته څه وايې ـ څه دي وشي؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما چې شا و خوا وکتل-ټول خلک منډه(ځوپه) خولۀ ولاړ وو-ما ورته ویل مرې که یې وژنې !دې سړي به خود لوی جرم کړی وي چې د مرګ غوندې سزا دې ورته مقرره کړه- ډېرو ته به دې مخکې ورکړې وي او ډېرو ته به یې په را روان وخت کښې ورکوې.

زما په خیال که دا سې وشي چې هغو خلکو اوعلتونو ته پهانسی ورکول شي کوم چې په ټولنه کښې خلک پر دا سې جرم کولو مجبوره کوي.ښه به نه وي؟.

جج سر ښوراوو-جېب ته یې لاس کړ، پنځۀ سؤوه روپی یې را کړې بیا چې خبر شوم هغه جج استفا ورکړې وه".

وروتکېدو زۀ ور ولاړ شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○
(4)

چې ورمې خلاص کړ، لېوني ترسه ولیده ویې خندل "مرې که یې وژنې! بیا راغلې-راشه تا دې الله راولي- هسې ستن رالګوه".

ترسې هم واړه واړه خندل-د ستنې له لګولو سره سمه ووته.

**لېوني**: "مرې که یې وژنې! ما او تا څهٔ سره ویل؟".

ما کیسه ور په یاد کړه.

**لېوني**: "مرې که یې وژنې! یو وخت مې یو لېوني په غاړه کښې ولوېدو-دا سې په کښېوتم لکه زهٔ چې ستا په غاړه کښې لوېدلی یم.نن په خان حېران یې.

زما په خیال دا د لېونتوب رنځ هم یو اخېستونکې رنځ دی-ولې چې دا ناروغې ماته له هغه لېوني را پېښه شوه.اوس پر دې وېرېږم چې له ما څه دا ناروغې تا ته نه شي در. خیر دا خبره به هم پر دې ځای پرېږدم.

دا کیسه چې درته کوم-دا د هغه لېوني ده -اوس په کیسه کې لېونیان دوه کېږو-زه به لېونی یم هغه چې زه یې کیسه درته کوم هغه به لېونی جانان وي

له هغه لېوني سره مې ورو ورو شناخت ډېرېدو-تر دې چې زهٔ هم ور سره لېونی شوم چې لېونی به په ښار کښې نهٔ وو، ښار به خوند نهٔ راکاوو.په هغه مغزي ماتې پسې به لیونی ګرځېدم -د کور،یارانو، دوستانو او ملګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې مي پر ځان ورلې خو لېوني مي نهٔ شو پرېښودلای ـ بې له لېوني د هيچا خبرو خوند نهٔ راکاوو ـ هغه ځکه چې کومي خبرې هغه لېوني کولې ، هغسي خبري هيچا نه کولې.

يو ورځ د ليوني په لټون پسې په بازار کښي کښته پورته تلم را تلم لکه دا ځيني غټان خلک چې يکي يواځي په موټر کښي دلي دوري ځي راځي.

د ناستې پاستې څوک يې نه وي ـ د دوی له اولسه بد کېږي ، د اولس له دوی.

"مرې که يې وژنې ! د غرمې خوا ته مي لېوني جانان پيدا کړ ـ پر وغورېدم لکه د سړي چې ورک ورور پېدا شي. مونږ يو هوټل ته ددننه شوو ـ په هوټل کښې تر ډېره ولاړ وو ـ دهٔ شا و خوا کتل ـ په اخر کښې يو سړي چې په عمر پوخ له خلګو لرې يوې خوا ته ناست وو ، هغه ته نژدې کېښنستو ـ د چای ږغ مې ور وکړ. لېوني چې د سړي په خوا کتل ، سړيې وښورا وو چې مخ يې زما په خوا راواړاوو ، سترګې يې له اوښکو ډکې وې چې دا خبره يې کوله ـ مرې که يې وژنې ! په ناروا کښې څومره خوند دی".

ما چې د دهٔ وډکو سترګو ته وکتل

"هو".

لېوني جاجان اوښکې په خپله لمنه پاکولې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ته زما رنګه ناروا وي او زيناوي دي نه دي کړي. تا کله خپله مور او خور يا لور ته لاس وراچولی دی؟".

د لېوني جانان خبره لا نه وه خلاصه، هغه سړي وما ته را ړغ کړو

"پرخوله يې لاس ور ونيسه.دا څه غول خوري؟

ما مخ د هغه سړي پر خوا ور واړوو، خبره مې ور پرېکړه.

"کاکا! لېونی دی او وايي چې دا مې خوب ليدلی دی".

هغه سړي بېرته د ېوال ته شا ووهله.

**سړی:** "ښه ښه بيا خو مې نو شپيان درو کړه".

لېوني چې له جېبه روپۍ راوکښې، تر خالي چائينکه يې لاندي کولې، واړه يې وخندل له ځان سره يې ووېل.

"مرې که يې وژنې! لوي استاذ يې".

ولاړ شو، تر هوټل ووت.په تلو تلو کښې يې مخ پر شا راوا ړاوو.

**لېونی جانان** : "دا سړی پېژنې؟".

**زه:** "نه".

**لېونی جانان:** "دا هغه سړی دی چې لور او ښځه يې د خان په کور کښې ناستي وې.خان ته يې لور ويلي وو چې ما ته دې خپل پلار لاس را واچاوو.ما ته د ښځو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره را په یاد شوه چې وایي (خدایه! ته مې شرم پر بازار مه کړې)".

په دې وخت کښې ما او لېوني جانان په تلو تلو کښې لاس هم سره ورکړي وو.

زه: "پېژندلی مې نه او رېدلي مې وو".

لېوني چې زما لاس پرېښودو، پر خپلو سترګو یې ونیوو. په زوره یې چیغې کړې، کښېنستو. څه وخت پس چې څه کرار شو. ما یې پر اوږه لاس کښېښودو.

زه: "خیر دی! پر څه دې دومره په زوره وژړل"؟

ده سر را پورته کړو، زما پر خوا یې راوکتل. ما یې بادامي غټې سترګې له اوښکو ډکې لیدلې، په ژړانده رږغ یې وویل.

"مرې که یې وژنې! ته په دې څه خبر یې چې په دې تولنه کښې څومره حقیقتونه تر پښو لاندې کېږي (پټېږي). څه ناروا او ناجایزې پر خلکو لګېږي (تپل کېږي). څه بې ګناه د ګناه ګارو سزاګانې تېروي.

کوم زورور ګناه کوي او څه بې ګناه مظلومان د هغو ګناهونو سزاګانې تېره وي؟

وماته داسې ښکاري لکه یو حرموني ماشوم چې تر مرګه د هغه خپلې ګناه ګارې مور او د مورد یار سزا تېره وي".

په دې وخت کښې یې زه تر لاس ونیولم، د روانېدو هڅه یې کوله ما یې لاس ونیوو. د ښار خلکو ته مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر شو چې حېران حېران يې راته کتل-خود به يې دا ويل چې
"د دهٔ له لېونې سره څهٔ پاته دي"؟
**لېونی جانان**: "مرې که يې وژنې ! درځه
زهٔ: " زوی مرې اخو چېرې؟".
**لېونی جانان**: "مرې که يې وژنې ! د هغه سرې لور ته-ته به يې په خپلو سترګو ووينې، هم به يې خبرې په خپلو غوږونو واورې".
لېونې لاس پر يوه کشاوو ما يې په بله- لېونې د تلو هڅه کوله، ما د نهٔ تللو. اخر مې لېونی پردې سخ کړ چې پرېميږدي.
بېرته هوټل ته راغلو،هغه سړی نهٔ وو. د هغه پر ځای موږ کېنښستو-د چای ږغ مې وروکړ-لېونی يو څهٔ وخت خاموشه ناست ووچې کله هوټلي چای راوړلې، ما چای په پيالو کې اچولې.
دهٔ په هوټل کې شاوخوا کتل چې مطمينه شو، په هوټل کښې بل څوک نژدې نشته،يو هوټلي دی هغه هم لرې دی ، په قهر يې را وکتل ،په تونده لهجه يې وويل
"مرې که يې وژنې ! دا خوار په دې ټولنه کښې اوس چا چا ته ځان سپين کړي-په دې ټولنه کښې نور هر څهٔ کېږي او کېدای شي خو دا کار لکه پر دې سرې چې خلګ وايي ،دا زهٔ په دې ټولنه کښې نهٔ شم منلی-

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولي چې دا هغه څوک هم نهٔ کوي چې مور، لور او خور ته خلک راولي او نهٔ يې هغه مور،لور او خور کوي چې بېشمېره پردي ورته راځي".

هوټلي خالي چائينکه پورته کوله، ما په قصد وويل "ته څهٔ خبر يې چې دا ټول حقيقت دي؟".

زهٔ پوهېدم چې پردهٔ دا زما خبره ډېره بده ولګېده په قهر يې را وکتل.يو څو دقيقې چوپ ناست وو بيا يې سر را پورته کړی ويې ويل

"مرې که يې وژنې ! ته نه وينې چې ښار او علاقه دې له حراميانو ډکه شوه-ورځ دې له حرموني نهٔ ده خلاصه.پردې وېرېږم چې دا علاقه له حرمونو ډکه نهٔ شي چې بيا به حلالوني دومره په زحمت د ژوند شپې او ورځې پکښې تېره وي لکه اوس چې يې حرموني تېروي.

تهٔ خبر يې چې دا خلک له خلګو سره دښمني کوي-هسې دا ښځه او دا کور بدنامه کوي چې د خانه منصوبه بندی اسباب په هر دکان کښې موجوده دي- و دې ښځو ته حېرانتيا وړی يم چې د منصوبه بنديو دا دومره سنتيرونه....

بل حېران ودې ته يم،دا نور قامونه چې تعليم وکړي قام ته لارښوونه کوي- مونږ چې تعليم په وکړو هغه هم د نهٔ سري زوی شي چې په ښځه يې وکړو هغه هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوارخو خلک د خدای په روی دې لارې ته نهٔ راتلو چې یو څه راغلو، هغه بیا زموږ تعلیم یافته ځوانان ودونه کوي او پرېږدي یې- ښځې مېړونه کوي پرېږدي یې.دا سې نور بېشمېره ناواړه کارونه ـکوم غلط کار دی چې تعلیم یافته نهٔ دی کړی ـنالوستي او ساده کلیوال کړی دی؟.

تهٔ دا د ښار دوکانونه وګوره، ټول د ښایې ښځو په عکسونو او وېډیوګانو ډک دي. دا هم هغو غېر ملکي خلګو راوړو، په کومو پسې چې دې سپین کالیو خولې خلاصې کړي دي چې وایي "موږ،خور او لور یې نه ده معلومه"که موږ خپله یو؟".

ډاکټر راغلي،لیوني بیا منډه کړه. په شړی کي پټ شو
"

مرې که یې وژنې !بیا راغلی.لچې ملایې".
ډاکټر هم وخندل ـما ته یې مخ را واړوه"دا لیونی دي چیري پیدا کړی؟".
لیوني ناره کړه
"مرې که یې وژنې !په جومات کښې".
ډاکټر په خندا خندا کښي له کمرې ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(5)

چې ډاکټر ووت، ما ژر ژر دروازه بنده کړه ــ ولې زما د لېوني و زړه را کښونکو خبرو ته تلوسه وه ــ ما ویل چې نوري نا تراشي هم راته وکړي ـ کله کله خو به یې داسې خبره وکړه چې زما به له ډېري خندا ګخه پر تشو درد شو.

کیسه مي ور په یاد کړه، دۀ لاس راته ونیوو

"مرې که یې وژنې ! یوه خوږه خو راکړه".

زۀ: "یاره ! اوس خو دي زۀ هم لېونی کړم ـ که لېونی نۀ یم دا سره چپ خو په خدای به یم".

لېوني وخندل، ویل یې

"مرې که یې وژنې ! خو اول مې درته وویل چې لېونتوب اخیستونکي ناروغي ده ـ خیر خپله کیسه به شروع کړم . یو وخت زۀ لا ماشوم وم، کلي ته د بېزو والا راغلی وو ـ بېزو چې به یو تماشه وکړه، مالک ته به یې لاس ورمخ ته کړو، هغه به یوه خوږه ورکړه. هغه وخت را په یاد شو.

زۀ: "زوی مرې ! تا هم له ما هغه د بېزو مالک جوړ کړی دی؟".

لېوني وخندل ویې وویل



بوسه بېونی ده .............................. عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



"خو تا هم له ما هغه بيزو جوړه کړې ده، ځنځير دي را اچولی دی، تماشې درته کوم چې خوړه نۀ وي والله که کيسه درته وکړم".

ما هم جيب ته لاس کړو ـ دۀ لاس را اوږد کړو، ما خوړې ورکړې.ورته و مې ويل چې

"تۀ نوري کيسې مۀ په ګډوه ـ ليونيه! هغه د ليونې کيسه کوه".

له دې واره يې له هغه ځای څخه کيسه شروع کړه چېرته چې يې پرېښې وه".

زۀ: "دا عکسونه او وېډوګاني خو ما نۀ دي ليدلي، نۀ تر اوسه دغه دوکانو له ورغلی يم".

**لېوني جانان**: "مرې که يې وژنې !راځه چې اوس دي ورولم".

په دې وخت کښې په جومات کې علان شروع شو چې شاه ګل د بادام ګل زوی په حق رسېدلی دی، په لس بجې يې د کوز کلي په هديره کښې خاورو ته سپاري ـ که څوک ورځي ـ دا اعلان دا اورېدلو پس لېوني سندره شروع کړه

"تن يارا سکول ته نۀ تلی ول هلکان مې تنګوي
چې کښېنم په کلاس کښې ماستران مې تنګوي
راته تسه يې بستې کړه
تبر يې را واخيست درې ورې يې تختې کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر سخته په غوسه وو ځيري ويري يې کاپي کړه
يو سړی خو نۀ دی ټول جهان مي تنګوي.........
مري کـه يـې وژنـې !دا دوکانونـه خـو بلـه ورځ هـم د ربانـدي کـتلای شـم خـو دا هـديره ضـروري ده چـې شـرکت پکښـې وکړو-ډېر ثـواب لـري-نـور نـو مـوږ ګنـاه ګـارانو کـوم ښـۀ کـړي دي-زۀ چې خبـر شـم د هـرچا جنـازې تـه ورځـم- هغـه ځکـه چي هغـه سړی بيا مـوږ پـه ټول ژونـد نـۀ شـو ليدلای-زۀ او لېـونی هـديرې تـه ورغلـو-هـديره يـې کـورتـه دومـره نـژدې وه چـې ښځـي يـې د سـرای لـه دروازې د زوی قبر ښکارېدو-
پـۀ هديره کښـې هغـه ښايسـته بـادام ګـل چـې نـن يـې تـر مـخ خـاوري توهېدې، کـه بـه هـر څـومره خلګـو پوښـتنه ځيني کوله چي څۀ وجه وهړ؟
د دۀ خـوار تـر مـخ کـه څـۀ هـم خـاوري توهېـدې خـو و خلګو ته يې دا کيسه کوله
"وروره ! د دۀ پـه زړۀ بـه يـو خـدای خبـروي چـې څـۀ ور پېښه وه ؟
يـوه هفتـه بـه يـې کېـږي چـې لـه سـبقه راغلـی وو، بېرتـه سـبق تـه نـۀ تلو-داسي هـم نـۀ ده چـې دا يـې اول واردی چـې سـبق تـه نـۀ تلـو-پـه وار وار مـي بوتلـو بېرتـه بـه راغلو- زۀ مدرسې ته نۀ ځم-
مابه ورته وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



"چې لـه مدرسـې دي راوباسـم، د اسـکول د فـيس روپـۍ له کومه کړمه.؟
د دۀ دغـه يـوه خبـره وه ـ زۀ سـبق نـۀ وايـم کـه مدرسـه وي کـه اسکول.
لـه دې واره چې راغلـی مـوږ هـم پرېښـودی ،کـار مـو نـه پـه لرلـی ـ پـرون سـهار زۀ تـر سـرای د بانـدي ولاړ وم، دی چې راووتـو خولـۀ يـې لـه خندا ډکـه وه ،غېـږ يـې را باندي وګرزوله ،پر تندي يې مچ کړم.
بابـا !لـه دې واره معـافي راتـه کـوه بيـا قـول دی چې تـر څـو سـتا عمـر وي زۀ بـه دي نـه خفـه کـوم ـ زۀ هـم ډېـر خوشـاله شـوم، پـر تنـدي مـي مـچ کـړ ـ دی ښـار تـه روان شو او زۀ کور ته.
څۀ خبروم چې دی به دا سي کوي"
بيا به يې و ژړل، نوره کيسه به پاته شوه.
هـديره خـتم شـوه، دعـا وشـوه، مـوږ سـره روان شـو.لـس پـنځلس ورځـي بـه زۀ او لېـوني جانـان ښـار تـه راغلوـ د صـمد اکـا پـه زوی پسـي بـه ګرځېـدو چې کلـه مـو د صمد اکا زوی پيدا کړ، هوټل تـه مـو بـوتلی ـ د چـای تـر راتلو لـه مخـه مـو کيسـه وريـاده کـړه ـ هلـک يـو کـانې لـه بله مات کړو که هيڅ هم درته ووايم.
اخر لېوني په قهر وروکتل
"مرې که يې وژني !دا راته ووايه نوم دي څۀ دی؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلک چې کوز کټل سرېږي راپورته کړو ـ په ډېره خواره خوله يې وويل
"صالوجان".
ما ترلېوني وارمخته کړو
"زويه! وېرېږه مه ـ موږ نه د چا عزتونه اخلو، نه له چا ناجائزه کار اخلو".
صالوجان چې به ماته وکتل ښه به ډاډه شو چې ليوني ته به يې وکتل بيرته به خاموشه شو خو اخر مې دومره مطمينه کړو چې موږ ته حال ووايي.
لېوني زما پر څنګانه لاس کښېښودی او صالوجان ته يې وويل
"مرې که يې وژنې! اوس مې را په ياد شو ـ ته هم په دې هوټل کښې په هغه کونج کښې له دې ښاهسته طالب سره ناست وې ـ ما ستا سو خبرې اورېدلې ـ شاه ګل مسکين درته ويل چې هغه سړي غوږ راته نيولی دی ـ تا ورته ويل دی په بجو کې نه دی".
صالوجان وخندل
"هو که، ما دغسې ورته ويل بيا خو به دې نو ټوله کيسه اورېدلې وي؟".
**لېوني جانان**: "مرې که يې وژنې! هو کيسه خو مې اورېدلې ده چې پل مې په تا پسې راوړی ـ اوس نو پکار دی چې هر څه هر څه صفا صفا راته ووايې".

(c) ketabton.com: The Digital Library



**صالو جان**: "شاه ګل مسکین زما ډېر نژدې ملګری ځئ، د ورور په شان وو- زموږ او د دوی کورونه هم سره نژدې وو".

د صالو بې اختیاره پر مخ اوښکې راغلې- لیوني ژر ژر له جېب څخه دسمال ورا وکښی. دۀ اوښکې پاکې کړې

"کورونو مو سره نژدې وو- زۀ او دی به هر وخت دې هوټل ته راتلو- دی به له مدرسې راتښتېدلی وو او زۀ به له اسکوله څخه- دغه یو هوټل خو تا سو ته معلوم دی چې د ښار خلک کم او د سارا خلک زیات ورته راځي نو موږ هم په دې وجه دې هوټل ته ځان رارساوو.

د شاه ګل مسکین به په تا کښې هر وخت پام وو خو زما به دغه خبره وه چې یو لیونی دی بل خدای خبر د کوم ځای دی؟ شاه ګل ډېر حساسه وو- هره کیسه به یې په ځان بوج کوله- بس !له دغې حساسي ورځې یې سر وخوړ-

ما به هر وخت تسلي ورکوله چې کومې لانجې له تا سره کېږي، دا له ما سره هم کېږي او له نورو سره هم- تۀ یې ځان ته مۀ ډېروه-دا وخت به هم تېر شي- ژوند ښۀ دی ،ژوند له لاسه مۀ باسه !خو دۀ به هر وخت ویل چې نور ژوند راته ګران دی- په مدرسه کښې مې ملایان او طالبان نه پرېږدي چې کور ته ځیني لاړ شم هلته بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابک وایي چې ته به علم کوې ،زویه !چې د اخرت توښه مو شي.
اوس نو څوک په دې خبر کړم چې له ما سره داسې کېږي. زه چا ته ونه شم ویلای . له بدنامۍ څخه ډېر وېرېږم. زه نور ژوند نه غواړم بس.........
ما که به هر څومره زارۍ ورته وکړې چې مه کوه. ولې مور او پلار غمجنوې. ما هم په سکول کښې ماسټران او لوي هلکان تنګوي بیا به نو زه ځان وژنم. همت به ورته کوو چې دا رنګه ظلم له دې لوست ځایونو څخه وباسو خو هغه ډېر معصومه او خاموشه هلک وو. دا دی چې یو ورځ یې خاوري په سر شوې او زه یې یوازې پرېښودم".
له هغه ورځې صالوجان هم داسې شو لکه زه چې لېونی به نه وو، دی به هم داسې بې کاره وو لکه زه خو دا وو چې لېونی به نه وو بیا به مو د لېونی کیسې کولې او خپل وخت به مو پر تېراوو او د ښار خلک خو نو ته هم پېژنې. که زوی د رسره وو هم دوی شک د ربانډي کوي
.
د صالوجان پلار ته به خود یو چا ویلي وو چې "زوی دي هم لوچه شوی دی. تر ځان له لویانو سره ګرځي".
ورو تکېدو. زما کشر ورور دوه دی راوړله. لیوني اتڼ شروع کړی او خپله خېټه به یې وټکوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



"بیا ډوډۍ درروانه ده".
کشرورورمي حېران وو چې
"لالا او دا لېونی؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



O

(6)

وروړمي ووت.ما چې د دېگ سرپورته کړی
"دا خو چولې دي.ګوره لېونی بیا کومه برغزو وایي؟
لېوني چې چولې ولیدې په کټ کټ یې وخندل.
**لېونی** : "مرې که یې وژنې !چولې ، چولې ،چولې دي ،چولې دي".
**زه**: "راشه ډرامې مهٔ کوه ،ډوډۍ وخوره".
**لېونی**: "مرې که یې وژنې ! د چولو یوه ډېره پخوانۍ کیسه را یاده شوه.زهٔ چې ماشوم وم د سکول(ښونځي) مخ ته به د چولو رېړۍ ولاړه وه، موږ به چولې ځیني اخیستې.یو ورځ موږ چولې ځیني واخیستې زما په چولو کښې مچ وو. ما ورته ویل
"کاکو !په دې چولو کښې مچ دی، نورې راکړه".
**کاکو**: "د یوې روپۍ په چولو کښې خو چرګ نهٔ شم درا چولای".
له دې خبرې پس لېونی په سوچونو کښې ډوب شو.ما بیا ورغ
پرې وکړ
"راشه ډوډۍ وخوره، ډوډۍ دې سړه کړه".

(c) ketabton.com: The Digital Library



دۀ په چوپه چپتیا ډوډۍ خوړله.ما يې هم چپتيا نه ورماته ولـه.
لېوني چې ډوډۍ وخوړه ماته يې د حېرت په نظر وکتل. لاړې پر کټ وغزېدی.روڼې اوښکې يې پر مخ را روانې وې.
څۀ وخت وروسته مي ورته وويل
"څۀ کيسه ده؟".
دۀ اوښکې پاکې کړې را کښېنستو.
**لېونی**: "مرې که يې وژنې ! ډېرو پخوانيو يادونو په مخه کړی وم، له ځانه نۀ يم خبر شوی. ښۀ يې ويلي دي چې(ښۀ که کوې په ژوند کښې يې له چا سره کوه پس له مرګه ښۀ هيڅ مانا نۀ لري).
ما ته له دې چولو ښځه که هغه د خندا خبره را ياده شوه خوورسره سره مي هغه ګران دوست هم سترګو ته ودرېدو چې له ما سره به له سکوله (ښونځي) ښځه راووتو او د کاکو د رېړۍ چولې به مو خوړلې.يو ورځ په هسې خبره را ځخه خفه شو.ما ويل پروا نلري خپله به پخلا شي.زۀ څۀ خبر وم چې دی به موټر وهي، مري به.
بخښنه به کوې،زۀ خاص برابر نۀ يم.تۀ لاړ شه کورته ماشومان به وويني.زۀ به وېدۀ شم چې ماغزه مي لږ څه په کراره شي نو به بيا کيسه مخ په وړاندې بوځو".

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی مي په هسپتال (روغتون) کښي پرېښود او زۀ لاړم کورته يو څۀ واړه واړه د کور کارونه مي هم وکړو.

د ليوني خبرې مي په مغزو کښي ګرځېدې.له ليوني سره مي دومره ترون پېدا شو چې له هسپتاله(روغتون) به را وتم بېرته به مي د تللو تلوار وو.

ماځيګر لمر او غر سره ورتلو ما د ليوني د پاره يو څۀ مېوه را واخېسته.په رکشه کښي کيښېنستم ، رکشه روانه شوه.ما له استاذ سره ګپه شروع کړه .شا ته د موټرسيکل هارن شو.استاذ رکشه ګوښه کړه.د پوليس موټرسائيکل مخ ته ودرېدو.خدای خبر چې استاذ څۀ کړي وو.

**پوليس**: "د رڅه تهاڼې له".

زۀ هم عجبه سړی وم.تا خبره د مرکې لېوه وي.زۀ نۀ خبر نۀ اتر له پوليس افسر سره مي د استاذ پر سر دعوه شروع کړه.

**پوليس**: "تۀ څوک يې؟تۀ دا سړی پېژنې؟".

زما ځواب په نۀ کښي وو.پوليس بله رکشه ودروله.زۀ يې پکښي سپور کړم او بخښنه يې هم وغوښتله.زۀ حيران وم چې "دا څۀ رنګه پوليس دی چې غصه هم ما ورته وکړه او بخښنه هم دی غواړي"؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مي يقين شو چې د رکشې والا قصور واره دی .هسپتال (روغتون) راوسېدی .د رکشې والا ته مي روپۍ ورکولې هغه قسم وکړ چې

"د صيب له خاطرو يې والله که يوه تکه هم د رخخه واخلم".

هسپتال (روغتون) له چې ورغلم ليونې له چېرا سي سره جنجال کړی وو.ډاکټر ورغوښتم.

**ډاکټر**: "که ستا خاطر مۀ وای دغه لېونی خو مي والله که يوه ورځ هم داخل کړی وای.زۀ منم چې د دۀ علاج کول زموږ ذمه واري ده ليکن بل وخت به دا خپل لېونی يو ازې نۀ پرېږدې.نن مي د دۀ په وجه د کلوکلو را سره نوکر وشړلو".

**زۀ**: "ډاکټره ! څنګه يې کوې.زۀ هم د خدای د پاره مرسته ور سره کوم.زۀ يې خپله هم نۀ پېژنم.

تۀ هم عجبه خبره کوې.ستاسو کار دغه دی که لېونی دی که پرسود د رملنه يې ستاسو ذمه واري ده.نوکر به غريب سړی وي هغه دي ولې شړلو؟ تۀ چې د ډاکټرۍ ډګر ته راتلې تا په هغه وخت کښې سوچ نه وو کړی چې زۀ ولې ډاکټر جوړېږم؟ چې د ملازم ختمول،غصه کول او باداري کول دي خوښ وو بيا به ډي سي ، ايس ايچ او يا تحصيلدار جوړېدې. تۀ څنګه د ليونې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګیله وماته کوي. په خدای عجبه ټولنه ده چې د حیوانانو هسپتال (روغتون) له پیشي یا سپي وروليږدوي وخاندي چې "مردارشي يې راوستلي دي.دلته موږد غوا ، مېږي یا وزې علاج کوو".

د ډاکټرۍ په کوم کتاب کښې راغلي دي چې د خرۀ، سپي، پشي، ګیدړې او چغال علاج مۀ کوئ".

ډاکټر سرکښته ځړولی وو ، هیڅ يې هم نه ویل.زۀ د لیونۍ خونې ته راغلم.د لیونی سترګې سرې را ختلې وې.

**لیونی**: "مرې که یې وژنې !چیري غایب شوې.اوس را روان يې. داسې پینټې مه کش کړی پوزه او خولۀ مي دواړه ورویني کړې د مورښکنځا کوي.په مورکی مي خوا بدېږي".

زۀ خو په ټوله کیسه خبر وم خاموشه وم .مېوه مي پر کټ کښېښوه.دۀ یوارمېوې ته بیا يې ما ته وکتل.پر کټ کښېنستو يې خندل

"د مورښکنځا کوي.ګړنګ يې کښته څڅېدل.د مورښکنځا کوي"

بیا په خورک بوخت شو چې ښۀ يې ساه سمه کړه.د ماخوستن ډوډۍ مو وخوړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ: "هغه کیسه".

**لېونی**: "مرې که يې وژنې ! کومه کیسه؟".

ما بیا کیسه ورپه یاده کړه. دۀ پېل په وکړ.

او د ښار خلگ خو نو تۀ هم پېژنې . که زوی د رسره وو هم دوی شک در باندې کوي. د صالوجان پلار ته به هم خود یو چاویلي وو چې زوی دې هم لوچه شوی دی. تر څان له لویانو سره گرځي.

لیونې له جېب څخه مېموري را وکښه ویل یې

"مرې که يې وژنې ! تۀ دغه په جېب کښې واچوه. تۀ او صالوجان دواړه په ما پسې راځئ".

موږ هم په پسې شوو ، د موبایلونو مارکېټ د څرک وهغه بل اړخ ته په زېرزمیني کښې وو. دی مخ ته موږ په پسې وو. دی او صالود مارکېټ په ورۀ کښې ودرېدل. ما ته يې ویل

"تۀ ورشه د ننه ټول د موبایلونو دوکانونه دي. مېموري ورکړه ورته ووایه چې

"د ځایي ښځو او هلکانو عکسونه او وېډیوگانې ورواچوه بیا بېرته د لته راشه".

زۀ په خپل شناخته ښار کښې دغه مارکېټ ته نۀوم ورغلی چې ور ننوتم ټولو د اسي راپسې کتل لکه کله کله چې په ښار کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوکلیوال سړی خپله خوریا لور ډاکټر ته روانه کړې وي، د ښار ټول خلک ورپسې ګوري .زۀ چې اول دوکان ته ورغلم په هغه دوکان کښې یو سړی ناست وو.ښه شنه زري لونګی یې تړلې وه، تسبې یې هم پر لاس پېچلې وې.ما چې سلام ورواچاوو، دی لکه غلا چې یې کړې وي، ژر ژر یې د کمپیوټر سکرین بند کړ.

**دوکاندار**: "کاکا ! تۀ څۀ شی غواړې؟".

ما په ډېر مات زړۀ او شرم ورتل وویل

"دځایي نجونو،هلکانو او ښځو ویډیو ګانې او عکسونه غواړم".

دۀ خود زما پر هغه ګډه خبره وخندل بیا یې راته وویل

"زۀ داسې عکسونه او ویډیو ګانې نۀ لرم".

ټول مارکېټ مو دوکان پر دوکان وکوتو خو ویډیو ګانې مې نۀ کړې پیدا ،که یې نۀ راکولې.بېرته راغلم.

**لیونی جانان**: "مرې که یې وژنې ! څنګه شوې؟".

**زۀ**: "یاره !هسې لګیا یې په خلګو پسې تهمتونه وایې.په یوۀ دوکان کښې هم داسې عکس او ویډیو نۀ وه چې هغه دې د ځایي خلګو وي.ټول د انګلیسي او هندي فلمونو نه او ګانې وې".

**لیونی جانان**: "مرې که یې وژنې !ډېر ساده یې په تعلیم یافته ورځ. اوس ننداره ګوره.مېموري راکړه".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما مېموري ورکړه.دۀ مېموري صالوجان ته ورکړه.

**لېونی جانان**: "مرې که يې وژنې ! ورشه دغه مېموري ډکه کړه.يو وار په ټولو دوکانونو کښې مالومات وکړه په اخر کښې يې ډکه کړه او ورته وايه نوکې کاکړې هم پکښې واچوه".

ما ته يې خادر راکړی."دا پر سر کړه، په صالو پسې شه.ورته ګوره چې څۀ کېږي".

صالوجان چې څنګه په مارکېټ ورګډ شو، مارکېټ دا سې شو لکه لمر چې پرې وخېژي.ټولو عجيبه عجيبه ګانې ولګولې لکه کرنټ کرنټ زۀ د بجلی يمه.............

مۀ وهه لاسونه په ما وبه شې اټېک، دېکه تماشه دېکه.چرسي هلکه سترګي دي سرې دي. د بنګو بوټيا خمار دي کړم.

کټ مې وباسه دا لان ته ادم خان چرسي.................

يار مې شرابي په نيمو شپو راځي،غېږه ته زما په زنګېدو راځي خود کشه دهماکه يم

تا سره مې پيار دی

دا سې ښکارېدو لکه چې دا هر څۀ د صالوجان په استقبال کښې کېږي.دی پر ټولو دوکانو وګرځېدو.هر دوکاندار به ورته ويل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



"له ما سره نوي لوکل عکسونه او وېډيو ګاني دي-يو ځل چې
راشې بار بار به راځې .تا ته يې ارزانه در اچوم .خبره دی که
مېموري نه ډکوې چای خو را سره وکړه.موږ به ستا منندويه يو".
اخر صالو په يو دوکان کښې ميموري ډکه کړه .هغه دوکاندار
روپۍ نهٔ غوښتې، دهٔ په زوره ورکړې.هغه ورته ويل چې
"اوس مې ګيراک يې مېا ، که دي وخت نه تېرېدو کله نا کله راځه
دا ستا خپل دوکان دی".
زهٔ سوچونو واخيستم چې
"يا خدايه !دا عجبه خلګ دي.ما ته يې ميموري نهٔ را ډکوله،نهٔ
يې سمې خبرې راسره کولې او صالو ته وايي کله نا کله راځه".
صالو را وېغ کړ ، راځه.
لېوني به د خپل لېوني جانان کيسه مخ په وړاندې بوله چې دورهٔ
درب شو، نرسه راغله.ليوني اتڼ شروع کړ.
**لېونی**: "مرې که يې وژنې ! شين خالی بيا راغله".

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

(7)

نرسې ستن ورولګوله ، ووتـه‌دا واريې بيا له هغه ځايه کيسه شروع کړه چيري چې يې پرې ايښې وه
"مرې که يې وژنې ! صالو را ږغ کړ ، راځه".
ليوني پر هغه ځای ولاړ وو چرته چې موږ پرېيښی وو .لېوني مخ کې موږ ورپسې وو.شاته يې راوکتل
"مرې کـه يې وژنې !اوس مو يو داسې سړي له ورولم-دۀ کـه هر څۀ ويل تاسو بـه څۀ نۀ ورتـه وايا ست،نۀ بـه خبره ورغبرګوئ- مـا او دی سره پرېږدی تاسي تماشه کوئ".
يو موځي چې د سړک پر غاړه يې د يو دوکان پر تړه يو وړوکی کالی هوار کړی وو-خپل وړکی صندوخ يې مخ ته پروت وو-برسېره د پالش ډبې او بروشونه پراته وو-دی په سوچونو کې ورک ورته ناست وو- لېوني هغه موځي ته راغلو ، د سلام او روغبړه پس ور سره کښېنستو.
**موځي**: "لېونو ! دا ځوانان څوک دي؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لېونی**: "مرې که يې وژنې ! ته يې نه وينې چې دوې يې سترګې، دوه غوړېونه لري۔ انسانان دی".
موخي له خندا شين شو ، په خندا کښې يې وويل
"دغه لېونی لا ښه دی چې راشي لږ مې وخندوي۔ يو څو ناتراشې دی راته وکړي او څو زه ورته وکړم۔ دواړه د يو بل پر خبرو يو څه ساعت سره وخاندو۔
زما نوم عجب ګل دی خو خلک راته ماما موخي وايي۔ اوس نو د ماما موخي په نامه مشهور يم".
ماما موخي لا خپله خبره پای ته نه وه رسولې چې يوه سړي بل ته په غصه وويل
"دا خپل زوی پر کونه کښېنوه۔ تولـه ورځ يې دا زما زوی په کونه پسې کړی وي".
ماماموخي وخندل
"ياره ! عجبه خلک دي په دې کې د کونې څه کار دی" ؟
زوی پر کونه کښېنوه پلانی د پلانـي په کونه پسې وي پلانی د پلانـي له کوني نه بېلېږي پلانـی مې دا سې پر کونه کښېناوو پلانـي له ځانه لويه کونه جوړه کړېده اوس که مو له ده کونه خلاصه کړه پلانی به پر بې کونې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی پلانی یې په کونه کې نه دی پلانی هم په کونه کې سره شوري پلانیه کوني ته زور مه ورکوه .......
ما او صالو ورته حیران وو ـ دۀ او لېوني په زوره زوره خندل.
موخې ماما له جېب څخه د نسوارو سکمی(ډبلی) راویستی، نسوار یې خولې ته واچول ـ هینداره یې د سرک پر هغه بله غاړه (اړخ) د هوټل والا پر مخ واچوله ـ هغه هم پوه شو چې چای غواړي ـ چای راغلې موخې ماما پیالې را ډکې کړې.
لېوني ولاړ شو پر پونده وڅرخېد و(پریوه پښه) بېرته کښېنستو، پیاله یې ورپورته کړه.
موخې ماما د صالو په لور اشاره وکړه
"دا دي زوی دی؟".
**لېوني جانان**: "نۀ".
**موخې**: "بیا څوک دی، د چا زوی دی؟".
**لېوني جانان**: "مرې که یې وژنې ! شناخته یې دی ـ له خلګو د هر شي پوښتنه مۀ کوه لېونی کېږې ـ خپل برش وهه خیر نه".

(c) ketabton.com: The Digital Library



موځي ماما بیا له خندا شین شو

"اوس و دې لېوني ته څهٔ وایې؟".

په دې وخت کښې یو ځوان چې رېره یې خریلې، غونډ تور برېتونه، تور پټکی، څپلۍ یې په پښو کښې کشولې تر موږه تېر شو.

موځي ماما موږ ته وویل

"دې سړي ته غوږشئ چې څهٔ وایي؟".

هغه د دوکان تر مخ ناستو کسانو ته یې وویل

"تاسو خود خپل سګرټ له دبې څخه یو زربرخ راکړئ".؟

په هغو ناستو خلګو کښې یوه ورته وویل

"ځه منا، تهٔ خو پوډر پکښې ځکوې.دا خو ګناه ده".

دی ورته کښېنستو، هغه سړی یې پر ځنګانهٔ په څاپېړه وواهه

"سرو رنډیانو چې موږ مو په اخته کولو نهٔ وه ګناه،اوس چې زربرخ درڅخه غواړو نو ګناه ده".

ټولو په کټ کټ پرخندل-په ناستو خلګو کښې یو بل ځوان چې خولهٔ یې له خندا ډکه وه، ورته یې وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ښادي ! تهٔ کښېنه مورې چای درته راغواړو".
ښادي د هغه سرې وخوا ته په ناستې ورنژدې کېدو
"چاي نهٔ څیښم له دې رنډی دا زربرخ راواخله،څم خماري یم".
هغه سړی چې د ښادي د کښېنولو هڅه یې کوله
"نه تهٔدا راته ووایه دوی تهٔ په دې بلا څنګه اخته کړې؟".
ښادي چې د تلو هڅه یې کوله
"تهٔدا نه پېژنې مورا او پلار چې کوم نومونه پرایښي دي،دوی بدل کړي دي-یو وایي زهٔ دلګیریم بل وایي زهٔ خماري یم بل وایي زهٔ ځیګرخون یم-دا ستاسي شاته وینې دغه دوه ځوانان له مورې سره یې بدی کولې-اوس یایې(وایي) مورې شاعران یو ،کاکړی هم جوړوي بیا د کېسټ پر پوښ د خپل ټلیفون شمېره هم ولیکلې لیا (لا)و سندرغاړې ته دا رنګه کاکړی ورولیکي چې په غاړو کښي د ټلیفون نمبر ووايي-
الله وی ماستېره !په خدای که درواغ درته وایم-دا د کاکړی غاړو والا دونې ډېرې پېسې وګټلې-په لس زره

(c) ketabton.com: The Digital Library



روپۍ د یوهٔ شاعر کاکړي غاړي یایي- زموږ بیا ږغ هم نه دی د کار- خاص دا سي ږغ مي دی لکه د خرې توخی- څوني روپۍ به مي کټلګې وي- دوی چې یوه بدل جوړه کړي وايي زهٔ د قام سترګه یم چې دوې جوړې کړي وايي زهٔ د قام سترګې یم- هغه یې ځان د قام دماغ بولي چې دا رنګه بدل جوړه کړي.

یارمې شرابي پر نیموشپو راځي

یا

ادم خانه چرسي کټ مې وبا سه دالان ته

یا

خودکشه دهماکه یمه

بیا یې و ښایسته نجلۍ یا هلک ته ورکړي- هغه یې ووايي بیا نو دا زما رنګه رنډیانې سګرېټ ډک کړي پرلار روان شي یوې او بلې خواته ځنګېږي- په دې اسره وي چې نن به څوک جانان راته ووايي نن به څوک جانان راته ووايي چې د چرسو په نشه کښې جانان نهٔ ورته ووايي نو پودر شروع کړي— هاهاهاها ماسېره! نور خو نو تهٔ هم ښهٔ پوهېږې".

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغـه سـړي چـې ښـادي تـه يـې حېـران حېـران کتل،جېـب ته يې لاس کړيو څۀ روپۍ يې له جېبه ورته را وکښې
"دا واخله،ورشه چې څۀ په اخلې هغه په واخلـه ـمـوږ يـو هـم دغـسـې خلـګ لکـه دا تـۀ چې وايـې ـ کلـه مـو هـم پـر دې فکـر نـۀ دی کـړی چـې دا اوس ښـو تـه څـې کـه بدو ته".
ښـادي چـې روپـۍ تـه لاس ور اوږد کړو ـ هغـه سـړي ورتـه وويل
"اوس به يو څو کاکړي راته وايې".
**ښادي** : "هـو خـود يـې درتـه وايمـه ـ نـوي کاغـذ پـېچ کـاکړي دي ـ پرون مې واورېدلې، تاسو به لا نۀ وي اورېدلې
وبه وينم ښاهسته
که راچوتې سوه مدرسه
تلېفون د پېرنګي
د پره اسانه که ياري
يوزيرو بل د بل تري
په پسې اونيس اوپچاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کښې ښادي وخندل ماستره! دا رنګه کاکړۍ خو په خدای زهٔ هم جوړې کم(کړم).

**ماستر**: "ښادي! تا تر اوسه يوه يا دوې کاکړۍ جوړې کړې دي".

**ښادي**: "يايا په خدای که مې جوړه کړې وي ــ د کاکړۍ جوړېده څهٔ زور غوړي اوس اوس به يوه درته جوړه کړم".

**ماستر**: "څه ښادي! تهٔ يوه جوړه کړه".

ښادي وخندل "دا يې کاکړۍ جوړه

زيړو تين سو چرمښکې

څلور يې پښې يوه لکۍ".

ټولو په کټ کټ وخندل ــ هغه سړي چې د ښادي د کښېنولو هڅه يې کوله

"ښادي! تهٔ دا راته ووايه دا پوډر تاسو په خپله راوړې".

ښادي وخندل، ولاړ شو

"يا منيا دا زورور راوړي ــ زما غونډي ګېډراڼ دا سې چيري کولای شي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم له دې خبرې سره کوږ کوږ روان شو، څادر پسې څکېدو.

لېوني وخندل، ولاړ شو

"درغلی بازاره!".

ښادي تر شا وکتل، لږ تم شو چې لېوني يې وليدو بېرته روان شو.

موڅي ماما لېوني ته وويل

"دا ګوټونه را وباسه چې درته پالش يې کړم".

لېوني يو ګوټ وکيښ بل يې لا په پښه کښې وو- په دې وخت کښې يو لوی موټر خاص د موڅي ماما مخ ته ودرېدو پر هارن يې ګوته کښېښوده- زۀ او صالو ولاړ شو، څنګ ته کښېنستو. لېوني خو وو ولاړ.

**موڅي**: "دغه بيا راغلی- هره ورځ دا رنګه هارن وهي، نۀ زۀ له مخه وزم نۀ دی شرم لري- زۀ خو ځان ځکه ملامت نۀ بولم چې دا تېره د دوکان په مخکه کښې ده او بل دوکاندار ماته اجازت راکړی دی خو دغه سړی مې هره ورځ له دې ځای څخه لري کړي- موټر دې تړي ته پاس راوخېژوي. نن يې سم خواب کوم".

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږکي ماما لا خبره پای ته نه وه رسولې سږی را کوز شو. موږکي ماما یې پر مخ په څپېړه ووا هو. ګرېوان ته یې لاس ور واچاوو، تولې تڼۍ یې ور پرې کړې.
موږکي ماما چوپ ولاړ وو، څه یې نه ویل. کله چې هغه ورته وویل
"ستا د مور څه او څه". دلته د لېوني رنګ سور او شین شو ور حمله یې کړه
"مرې که یې وژنې ! د مور ښکنځا د مور ښکنځا".
پر سږي ور غوټه شو. پوزه یې ور وینې کړه، ګرېوان یې ور څیري کړ. هغه وخت لېوني او موږکي ماما دواړو جنګ کاوو.
سږي ناري وهلې
"و یې نیسئ، و یې نیسئ د خرۀ زوی لېونی دی".
دا وخت موږ او خلکو لېونی او موږکي ماما دواړه نیولي وو. لېوني به دا ویل
"مرې که یې وژنې ! د مور ښکنځا ، د مور ښکنځا
مرې که یې وژنې ! د مور ښکنځا ، د مور ښکنځا
مرې که یې وژنې ! د مور ښکنځا ، د مور ښکنځا".

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته خلک پر لیوني را تول شو لېونی یې قابو کړی. ما هم له خلګو سره د خپل لېوني په قابو کولو کښې همت کاوو.

د موځي ماما دا خبره مې لا تر غوږ شوه چې هغه خوان ته یې کوله

"اوس نو ښه یې چې ځیري ګرېوان کور ته لاړ شي. خود به ورته وایې ګرېوان یو موځي را ځیري کړو. ښځه به ځه درته وایي؟.

زه خو به هر چا ته وایم خرېې په واک نه وو، پر ځل یې وګرزولې".

په دې وخت کښې لېونی بې هوښه شو موږ هسپتال (روغتون) ته یووړی.

زما لېوني چې د خپل لېوني یار کیسه کوله سترګې یې له اوښکو ډکې شوې.

ما له ځان سره سوچ وکړ چې پردهٔ د لیونتوب بله دا سې دوره رانهٔ شي کومه چې په هوټل کښې پرې راغله نو ځکه مې ورته وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



"وروره! ناوخته شو، زۀ به نرسه را وغوارم ستن دي نا وخته کېږي".

دۀ د سر په ښورولو کښې د هو څواب را کړ.ما نرسه را وغوښته، دی خاموشه وو.نرسه راغله، دۀ هيڅ هم نۀ وويل.

نرسې زما په خوا وکتل

"ولې خاموشه دی.ما نه وو درته ويلې چې خاص خيال يې ساته".

دی موسکی شو.د روغتون په څادر يې سر پټ کړ، ويدۀ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 8

لېوني د هسپتال (روغتون) په څادر مخ پټ کړ ویدهٔ شو. ما هم اودس او لمونځ وکړ. قران شریف مې را واخیست تلاوت مې وکړ بیا ویدهٔ شوم. سهار ور وټکېدو، زهٔ هم له خوبه را ویښ شوم. نرسې د لیوني د پاره کېک او چای راوړې.

زهٔ دې خبرې ته ډېر فکر یوړم چې

"زموږ د کوټې په څنګ کښې خو څلور نورې نرسې هم اوسي بیا ولې دا یوه نرسه د لیوني دومره خدمت کوي؟".

ما هم ډېر په ویره ویره لیوني را ویښ کړ. د نرسې د چای او کیک کیسه مې ورته وکړه.

لېوني مخ ومینځلی را غلی. پورته یې پام شو

"مرې که یې وژنې! دا قران شریف چا را اخیستی دی؟".

**زهٔ**: "ما ولې؟".

**لېونی**: "مرې که یې وژنې! ښه خبره ده. قران شریف وایه ډېر ثواب لري. عمل پرې کول ډېر ضروري دی. دا سې نه وي چې تهٔ کاروبار پر شروع کړې لکه زموږ ځینې ملایان". کلک یې وخندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زه:** "تهٔ څهٔ پوه شوې چې قران شریف چا را اخیستی دی؟".

**لېونی:** "مرې که یې وژنې ! تهٔ څهٔ خبر یې چې تهٔ نهٔ یې بیا زهٔ څهٔ کوم. په کومه طریقه چې ما ایښی وو هغه رنګه نه وو. څکه مې درڅخه وپوښتل چې دا قران شریف چا را اخیستی دی".؟

ما کېک او چای را واخیستلې. لېوني دخندا په حالت کښې راته وویل

"مرې که یې وژنې ! اوس مې منې چې ترسه هم زما چوپړ وهې (خدمت)".

لېونی بیا ولاړ شو، وڅرخېدو. دا سندره یې په لوړ ږغ پورته کړه.

لیلا قمیص دي تور ما به مړ کړې".

بېرته کښېنستو.

"مرې که یې وژنې !یاره !تهٔ خو هم سم دم لېونی یې. هسپتال (روغتون) اوس د اتڼ او بدلو ځای دی. ولې مې نهٔ پوه کوې".

لېوني چې پیاله یې پورته کوله

"مرې که یې وژنې ! کیسه مو تر کومه ځایه پورې ورسوله".

ما کیسه وړ په یاد کړه او دهٔ هم د اسې په کیسه شروع وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لېونی** : "مرې کې یې وژنې ! نیم ساعت پس لېونی په هوښ کښې راغلی. ما ته یې برګ برګ کتل بیا یې په وارډ کښې شا و خوا وکتل. مرې کې یې وژنې ! زۀ دلته چا راوستم".

ما کیسه ورته وکړه.

**لېونی جانان**: "ښۀ ښۀ. مرې کې یې وژنې !".

څپلی یې په پښو کړې او ما ته یې وویل"

درځه مونږ هسپتال (روغتون) ته څۀ خلاص یو. صالوجان څۀ شو؟".

له دې خبرې سره سم صالوجان هم هسپتال (روغتون) ته راغلی. مونږ درې سره له روغتون څخه راووتو.

لېونی کښېنستو پر مځکه یې څلور لیکې وکښې- یوه یې د ختیځ په لورې چې د ښار په خوا تللې وه بله د لوېدیځ په لورې چې د کلي په لور تللې وه بله د سهېل چې د دښت په لور بله د غرۀ خوا ته تللې وه چې د قطب په لورې د اوبو د بند خوا ته وه بیا یې اکوبکو پر وویله. ما او صالوجان پر خندل.

دۀ اکو بکو پر هغه لیکه ختمه کړه کومه چې د بند په لورې تلله وه.

**لېونی جانان**: "مرې کې یې وژنې ! بس دې خوا ته ځو".

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور خو وو د لېوني په لاس. دی مخکې مور ور پسې شو. چې بند ته ورسېدو، ما خپل څادر خور (هوار) کړ، درې سره پر کښېنستو.

**لېونی جانان**: "موبايل راکړه". له صالو څخه يې هغه ميموري کارډ طلب کړ کوم چې يې د موبايلونو په دوکان کښې ډک کړې وو. مېموري يې موبايل ته واچوله ما ته يې وېل

"مرې که يې وژنې! راشه ويې ګوره".

مسلمانه! مېموري نه وه سمه ورا وه۔ ټول د علاقې د ښځو عکسونه وو. يوې به وره اغېل، يوې به ډوډۍ پخه وله، يوې به اتڼ کاو.

لېوني صالو ته وويل

"تهٔ ولاړ شه دا يو څهٔ شيان ستا د کتلو نهٔ دي"

بيا يې يو دوې درې ويډيوګانې په را وکتلې بيا يې د هغه سړي د لور ويډيو او عکس هم را ښکاره کړ کوم چې مور په هوټل کښې ليدلی وو.

ويډيو څهٔ دا رنګه وه چې يو سړی نجلۍ ته وايي چې

"تهٔ به د خان کره ځې او خان ته به وايې چې ما ته خپل پلار لاس راواچاوو".

نجلۍ زارۍ ورته کوي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



"مهٔ کوه، خدای ته وګوره- هر څهٔ مي ستا و منل- دغه ناجایزه مهٔ را باندي کوه"

.خو هغه خوان ورته وایي چې

"ستا عکسونه او ویډیوګانې په بازار کښې رسوا کوم- نوره ستا خوښه ده".

نجلۍ ورته وايي

"اوف ! زهٔ څهٔ خبره وم چې تهٔ به ما رسوا کوې- ما چې له تا سره هر څهٔ کول په دې وجه مي کول چې تا را سره د وادهٔ کولو قول کړی وو".

په اخر کښې یې نجلۍ دې ته مجبوره کړه چې د خپل ګران پلار په خلاف د مشر کور ته لاړه شي.

یقین وکړه چې لاس او پښو مي کار پرېښودی- حق حیران پاته شوم چې یا خدایه ! دا څهٔ وینم. د ستي مي ورته وویل

"بس بس بند یې کړه".

ولاړ شوم.

لېوني موبایل پورته کړی له مځکې یې وویشتو- موبایل توټې توټې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لېونی جانان**: "مرې که يې وژنې !
مرې که يې وژنې !
حقيقت د ېر ترخهٔ وي. دلته دا سې هم کېږي".

بيا کښېنستو.زما خو يو د تولنې په کرهٔ ورهٔ او بل په موبايل هم زړهٔ شين وو خو لېونی دومره راته ګران وو چې په هيڅ وخت مې نهٔ شو خفه کولای. ولې چې لېونی زما په زړهٔ را ننوتی وو- بې لېوني مې ځان يو اخې ګڼلی.

لېونی بند ته ورځرمه غرهٔ ته وخاتو. صالو حيران حيران راته کتل-خود به يې دا سوچ کاوو چې موبايل يې ولې مات کړ- مور ليدو چې لېونی د غرهٔ څوکې ته ورسېدو.

زهٔ او صالو سره کښېنستو.صالو ته مې وويل چې
"زړهٔ مهٔ تنګوه.لېونی دی څنګه يې کوې".؟

صالو په کم عمر د ېر پوخ وو-د ژوند په ترخو او خوږو ښهٔ پوهېدو-دومره باکماله او ځيرک انسان وو چې ما او لېوني ته يې د ورونو غوندې عزت راکاوو.

لېوني په غرهٔ کې په زوره نارې وهلې
"مرې که يې وژنې ! تولنه لېونی ده،
مرې که يې وژنې ! تولنه لېونی ده،
مرې که يې وژنې ! تولنه لېونی ده".

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ او صالو ورو ورو د ښار په لوري را روان شو چې موږ ښار ته نژدې کېدو دی هم را ورسېدو. ساه يې لنډه لنډه کېده. پر ما يې غېږ وګرځوله

"مرې که يې وژنې ! خوا مۀ بدوه بيا زۀ بل موبايل دراخلم".

زۀ: "زۀ د موبايل په کيسه کښې هم نه يم خو په تا مې زړۀ شين وو.ما ويل چې دا سې نه وي بيا بې هوښه شي.دا سې مې هم نۀ يې پرېښې.تۀ چې له غرۀ څخه راکوزېدلې موږ درته کتل".

لېونى بيا په توپونو شو

"مرې که يې وژنې ! ياران زنده باد

،ماران مرده باد".

ښار ته ورسېدو.دۀ چې دا خبره لا سر ته نه وه رسولې

ور خلاص شو.نرسه بيا راغله.دۀ اتې واچاو.

د لېوني په کيسه کښې دومره خوند وو لکه سړی چې هغه شيان په سترګو وينې.د نرسې را تګ به دا سې بد راباندې لګېدو لکه ناګهانه چې يو څوک چيغې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

(9)

زه: "یاره ! یو خو دا باجي هر وخت ستا خبره ګډه کړي او زما په نشه کښې تېشه ووهي".
لېوني په قهر راته وکتل او ترسه په خندا له خوني ووته
.
**لېوني**: "مرې که یې وژنې ! هغه خوارکی او ته بیاله کومې خواګډ شې)
د څه خاموشۍ وروسته یې بیا په خپله کیسه شروع وکړه.
**لېوني**: "مرې که یې وژنې ! موږ ښار ته ورسېدو موڅي ماما پر خپل ځای ناست وو، خندل یې روغبړ وشو دهٔ د چای د پاره بیا د خپل سکمي هیندا ره د هوټل والا پر سترګو برابره کړه.
ما پوښتنه څیني وکړه چې هغه ورځ بیا څهٔ وشو؟".
**موڅي**: "موټر یې ځای پر ځای وڅرخاو، په غصه روان شو.ما ته دوکاندار وویل
"وروره ! اوردي توی کړي ــ تا دا څهٔ کاووــ دغه شکر وکړه چې هغه خلګ نه وو کوم چې پر دوی ځان ګرانوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به هغو سوکان او لغتي درکولې هغه څوان به له سړيو سره راشي. خان خو دي په بې عزته کړی او اوس مونږ په بې عزته کوې".

چا به راته ويل چې

"غورزه خان باسه اوس به خلک در پسې راشي لاس تړلي به دي يوسي".

ما د دوی په خبرو غوږ نهٔ نيوو. لاړم هوټل ته مخ مې ومينځلی. پوره يو ساعت پس يو سپين ږيری سړی په موټر کښې راغلی، زهٔ يې د لاس په اشاره ورو غوښتم. زما د زړهٔ درب شو چې دوکاندار خو سم ويل چې وړي دي بيا مې بېرته له خان سرسوچ وکړی اوس خو هسې هم کښېوتی يې چې څهٔ وشي بيا به يې د حل لار لټوې.

زهٔ په دې سوچونو کښې وم چې په موټر کښې ورسره کښېنستم. سپين ږيري موټر سوکه سوکه روان کړ، تر بازار ووتو.

**سپين ږيری**: "زويه ! څهٔ کيسه وه"..؟

ما توله کيسه ورته وکړه. دهٔ ويل چې

"ناصالح اولاد دي خدای چا ته نهٔ ورکوي".

**مسوځي**: "هيڅوک ناصالح له موره نهٔ پيدا کېږي. تهٔ اختيار مهٔ ورکوه. موټر څيني ودروه چې دی غريت او درپدري ووينې په خپله به صالح شي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سپین ږیری**: "څهٔ ووایم ـ بچیه! خبره خو دي سل په سله کښې سمه ده ـ زموږ له بې غوری زموږ اولادونه ناصالح شوي دي ـ څهٔ وکړم هرچا ته خو نشم ویلای چې زما زوی دا نورو له کاره ایستلی دی ـ وروره! دا (لویی) مو دلته له غاړې ده اوس مې ستا پر سر په کور کښې جنجال وکړی ـ ټول خوانان سرهٔ او شنهٔ کېدل چې موځي وګوره او موږ ته لاس را اچول وګوره ـ په څهٔ خواستې او زارۍ مې کښېنول ـ ورته ومې ویل د خدای بندګانو که مو دغه حال وو په خدای چې سبا به دغه د موځیانو زامن پرتا سوخانان وي

زما زوی غلط کار کړی دی ـ تا له دغه ځایه والله که د چا پلار هم ولاړ کړي. زهٔ به خپل زوی پوه کړم".

**موځي**: "تهٔ یوار ستا په موجودګي کښې ستا زوی له ما سره کښېنوه".

**سپین ږیری**: "هو خو د خودا خبره به زما او ستا تر منځه وي راځي به له تاځه به معافي غواړي".

بېرته یې هم پر دې ځای کښته (کوز) کړم.دی روان شو.

دلته چای هم راغلې، موځي ماما پیالې ډکولې.

**لبوني جانان**: "مرې که یې وژنې! دا خو د پر بشهٔ شوي دي خو دا یوه خبره در څخه پاته شوې ده".

**موځي**: "لکه کومه خبره؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لېوني جانان**: "مرې کـه يـې وژنـې ! هغـه دا چې کـوم کارونـه زمـوږ وو، هغـه اوس تاسـو کـوی او کـوم چـې ستاسـو وو، هغـه مـوږ کوو ـد دۀ پـه خپلـه پـه نـوره کيسـه سرخلاسېدو".

موڅي ماماوخندل

"لېونو ! تۀ نه وې چا پوه کولم".

**لېوني جانان**: "مرې کـه يـې وژنـې ! د دې تـولنې خلـک ولـې تول شکي غوندي دي؟".

موڅي ماماوخندل او لېوني ته يې وويل

"لېونو ! کوم ستېشن دي په ونيوو"؟

**لېوني جانان**: "مرې کـه يـې وژنـې ! هغـه مخـامخ کوڅـه کـه دي پـه يـاد وي ـ د هغـه دېوال سـايې تـه چې پـه تـک سـرۀ ژمي يوه سړې ښځه کښېنوله".

موڅي ماماوخندل بيايې ماته مخ را واړاوو

"دا سـي نـه وي چـې تا سوشـکيان شـی ـ دادا سـي کيسـه وه ـ يـو وخت مـي يـو سـړی ليـدو تېـرشـو، ښـځه ورپسـې وه ـ لـه جـامو ډېـره خـواره ښـکارېده ـ دوه واړه ماشـومان ورپسـې وو ـ يـو هلـک بلـه نجلۍ وه ـ يـو ماشـوم يـې پـه غـوڅي (غېـږ) کښـي وو ـ پـه هغـه مخـامخ کوڅـه کـې يـې ښـځه او ماشـومان پـه سـاړۀ ژمـي وسـايه تـه کښـېنول ـ دی په ښار کښې روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای شته خوا مې ډېره بده شوه-له ځان سره مې سوچ کاوه چې

"تهٔ دې خرهٔ ته ګوره-ښځه غریبه یې له ماشومانو سره په یخ کې وسایه ته کښېنوله دی روان شو"- ما چې مخ را واړاوه د لېوني هم نظر په هغه ښځه او ماشومانو کښې وو.

زهٔ لا په دې سوچ کښې وم چې لېوني ته به وایې تهٔ دې خرهٔ ته ګوره چې د لېوني رږغ مې تر غوږ شو.

وهغه غټو کې ماشوم ته یې وررږغ کړ-هغه ترکې وچکې ماشوم، پوزه یې بشېدله، په کړپېدلو زامو راغلی- لېوني یو څو خوږې ورکړې-دا واخله تهٔ او هغه بله ماشومه به یې وخورئ او مور دې ولاړه کړه د هغه بل دېواله و پیتاوي ته یې کښېنوه.

بیا یې ما ته وویل

"مرې که یې وژنې! څومره بې سوچه او بې پروا خلګ دي- هغه ښځه او ماشومان یې په هغه سایه کښې کښېنول-دومره عقل ورسره نشته چې لمر ته خو یې کښېنوه-نه په ښځه کښې دومره زړهٔ شته چې له دې ځایه څخه ولاړه شي لمر ته کښېني-د لېوني لا خبره په خولهٔ کښې وه چې هغه سړی راغلی

"دا خوږې زما و ښځه ته چا ورکړې؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لېوني جانان**: "مرۍ کـه یـې وژنـې ! ښـځې تـه نـهٔ، ماشـومانو ته".

سړي لاس له خولې واخیستو
"دلګانو تا سو مورا و خور نهٔ لری؟".
څهٔ چې یې پرخولهٔ ورتلو هغه یې راته وویل.
خلـک را تـول شو ــ هغـه سـړی یـې پـه زوره بوتلو ــ تولـو لېـونی ملامتـاوهٔ ــ سـړی خلګـو روان کـړی وو، دهٔ پـوچ ردویل.
لېونی ولاړ وو ویې خندل
"تهٔ اوس له دې راندهٔ اولسه ګیله څنګه کوې".؟
نـهٔ د هغـه سـړي چـې پـوچ رد یـې ویل، نـهٔ د ښـار د خلګـو دې تـه فکـر وو چـې دا خـو لېـونی دی ــ پـه دې خـو خـر هـم پـوهېږي چـې لېـونی دی ــ تـهٔ د دهٔ بېـر سـر، بېره ږيـره، څیـري جامې بیا هغه پوچ رد وایي.دی خاندي.
پـه دې وخـت کښـې هغـه ځـوان هـم راغلـی چـې لـه مـا سـره یې جنګ کړی وو.له خلګو یې پوښتنه وکړه.
یو ځوان کیسه ورته وکړه.
**ځوان**: "دا خـو دونـې کیسـه ده هـم نـه ــ دا لېـونې خـو ښـه کـار کړی دی".
مـوځې مامـا ماتـه سـترګه ووهلـه ــ مطلـب دا چـې دهٔ تـه ګـوره ــ پـه دې وخـت کښـې هغـه ځـوان هـم راغلـی پـر مـوځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې لاس وګرزاوو روغبړ یې ورسره وکړ۔ موږ هم روغبړ ورسره وکړو۔دی کښېنستو موڅي هم ښهٔ عزت ورکړ.

ټول دوکانداران حیران وو چې دا کومه کیسه ده۔ موڅي ماما د دهٔ پاره چای را وغوښتې۔ دی خاموشه وو موږ ته یې حېران حېران کتل.

**موڅي**: "تر دې کیسې پوري یوه بله د خپل کور کیسه درته کومه۔زموږ یو نژدې قریب وو۔ هغه ته زما سکه د اکا لور ناسته وه۔ د وادهٔ یوه میاشت پس نجلۍ کور ته په شپو راغلې وه،مور ته یې ویلي وو

"ددې سړي خو پر ماشک دی وایې تهٔ په موڅي توره یې".

مور یې راغله ما ته یې ویل

"تازکه !له خانه سره پام کوه۔د نجمې مېرهٔ د ډېر تور زړی سړی دی.دا سي نه وي څهٔ تاوان در وه نه رسوي".

ما ورته وویل

"خدای به هر څهٔ خېر کړي۔تهٔ کورته لاړه شه او نجمې ته اطمنان ورکړه.خان مهٔ پرېشانه کوه".

په سهار مې د نجمې مېړهٔ چې زما اخښي کېدو پیدا کړو ورته ومې ویل

"نجمه که زما د کاکا لور ده خو خور مې هم ده۔دا تا اوس کوم ډول شروع کړی دی۔بل وار چې داسي خبري

(c) ketabton.com: The Digital Library



وا نه ورم ـ هر څوک خور او مور لري ـ که دي نجمه نه ده خوښه طلاق ورکړه خو پر لمن به تور داغ نهٔ ور ږدي.
هر څهٔ چې مې ورته وویل د سړي تر خولهٔ یوه خبره نهٔ را ووتله".

موڅي ماما چې دا کیسه پای ته لا نه وه رسولې چای راغلې ـ هغه څوان هڅه کوله چې د چای روپۍ ورکړي خو موڅي ماما ورته وویل
"ته مېلمه یې".

څوان په ځان کښې ورک وو لکه چې بل ځای یې دا سې مجلس نه وي اورېدلی ـ لیوني چې د چای د راتلو په وخت کوم ټوپونه وهل ـ څوان دومره وخندل چې له ډېرې خندا یې په سترګو کښې اوښکې راغلې ـ په دې وخت کښې صالو له څوان څخه د نامهٔ پوښتنه وکړه.

**څوان**: "نوم مې بریالی دی. ستا نوم؟".

**صالو**: "صالوجان".

**بریالی**: "ماما ! د لېوني ټوپونو خو ستا کیسه سره پرې کړه خو دا نجلۍ ستا ترله ده، خور دي نهٔ ده ـ دا سړی خو نه دی ملامت ـ دا خو مور تول په سترګو وینو چې ترېرونه وترلو ته څرخېږي (نڅېږي) ـ د جهان خلک د اکا له لور سره وادهٔ کوي ـ دا ستا څهٔ رنګه کیسه ده؟ ـ زهٔ نهٔ شوم پوه".؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مسوڅي**: "زما بابا دوه ودونه درلود- زما د مور او پلار ژوند سره تریخ وو- زما پلار زما پر مور هیڅ کله هم تهمت نهٔ وایو- یو ورځ یې زما مور ته ویلي وو چې ښځې! ښهٔ سره پوهېږو چې زما او ستا نهٔ سره لګېږي- قسم در سره کوم- طلاق در کوم خو په یو شرط- پر هر سړي چې ته لاس کښېږدې هغه سړی به تا په ورین تندي قبلوي.

زما مورکۍ د جومات پر خادم لاس ېښی وو- بابا په هغه وخت د مولوي صېب په حضور کښې له خادم سره مخامخ کړې وه- د دواړو خوښه وه- بابا مورکۍ ته طلاق ورکړی وو.

مورکۍ یو څهٔ وخت زمونږ د یو بل همسایه په کور کښې اوسېده- اخر یې مولوي صېب له خادم سره نکاح ور تړلې وه- زهٔ یې هم د جومات د خادم کورته ورسره وړی وم.

کله چې زما اکا د نجمې پلار خبر شوی وو نو یې زما پلار ته دېر پېغورونه ورکړي وو چې

"د پښتو ماینه څوک وچا ته کښېنوي- پوزه دي را پرې کړه. دغه هلک دي ولې ورکاوو"

بیا یې زهٔ خپل کورته وړی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا زه څکه لـه ادې سـره پـرې ښـې وم چې زۀ پـرتـي وم- دوی وای چې
"کله کاکا تـۀ لـه مـورکۍ څخه ورې نـو هغـې د ېرې چيغـې وهلې.د خدای رويونه يې ورته کړزول".
د هغو چيغـو بـاوجود هـم کاکـا ظـالم لــه ادې څخـه جـدا کـړی وم بيـا د نجمـې مـور مـا او نجمـې دواړو تـه خپلـې شـيدې راکـولې-دغـه رنګـه زۀ او نجمـه پـه يـوه غېـږه او يـو ځـای کښـې سـره لويـان شـوي يو-اوس خوښـه ستا سـو ده نجمه زما خور که ترله بولې؟".
**بريسالی**: "ښـۀ ستا بابا خـو کمـال کـړی دی-داسـي خلـګ خـو د ېر کم پـېدا کېږي".
دروازه خلاصـه شوه،ترسـه راغلـه،زما او د ليـوني کيسـه يې بيا سره راپرې کړه.
**لېونی**: "مرې که يې وژنې !بيا راغله.لچې ملايې".

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

## 10

نرسي ستن ولگوله لېوني ته يې ويل چې"ډېر مه ږغېږه. پر دماغ بوج مه راوله".

په حقیقت کښي مي نرسي ته ډېره خوا بده شوه چې"ته دغه وګوره. په سترې زه یم. لارې دا ورښیې".؟

تر ورۀ د وتلو په وخت کښي يې راته ويل"ډېر يې مه ږغوه. دی که لېونی دی ته خو پرسود يې. د نشې ستن مي ورلګولې ده. ډېر يې مه تنګوه. تا ته هم لکه چې جوړه مېله په لاس درغلې ده". دروازه يې په زور سره بنده کړه.

لیونی را ولاړ شو اتڼ يې شروع کړی. پر پُونده وڅرخېد و"لیلو لښته ده".

**لېونی**: "مرې که يې وژنې! ته د دې خبرې پرېږه. د نشې ستن مي ورلګولې ده، له ما خپلې کیسې وغواړه چې درته کوم يې.

مرې که يې وژنې! ما څه ويل؟".

ما د کیسې پای ور په یاده کړه.

د ده کیسه شروع کړه.

**لېونی**: "مرې که يې وژنې! دبریالي له خبرې سره موږ ټول له هغه ځایه څخه را ولاړ شو. خپلو کورنو ته لاړو او لېونی په بازار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېږ پاته شو.ماخوستن ور وتکېدو چې ور وتم د صالو پلار وو. د مېلمنو خونې ته مې بوتلی. ډېر غصه معلومېدو.چای مې ورته راوړې دهٔ وویل "خوانه ! زهٔ خو د بازار خلګو او خپلوانو دومره ستړی کړی یم چې زوی دې تر ځان له لویانو سره ګرځي او بل له هغه لېونی سره؟.
صالو ته چې ووایم هغه ستاسو صفتونه راته شروع کړي . وروره ! دغه هلک پوه کړه او له ځان سره یې مهٔ ګرځوئ".
زهٔ: "کاکا ! تهٔ دا راته ووایه چې صالو مځکې ښهٔ وو که اوس؟".
**کاکا**: "خوانه ! که حقیقت درته ووایم د اسمان او مځکې فرق یې کړی دی. پر وخت سکول له ځي پر وخت راځي. مور،خور او ټول کور ځینې خوشاله دی".
زهٔ: "کاکاقسم نهٔ درسره کوم خو دا باور درکوم چې مورېکه ستا زوی ته ښه نهٔ ور رسولو، بد هم نهٔ ورسوو. ته چې په دې پوهېږې صالو تر پخوا ښهٔ دی بیا راتلې ولې".
**کاکا**: "زویه د خلګو دې زوی مرشې تېرېږې ایستم ! ما ستا اخلاق او خلوص ولیدو،زه بالکل مطمئنه شومه. خلګ چې څهٔ وایې، و دې وایې".
د صالو پلار مې ښهٔ په خلوص رخصت کړ. کور ته راغلم ویدهٔ شوم. سهار چې مې چای وڅیښلې ښهٔ په تسلې بازار ته لاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صالو د موځي ماما پر تره ناست وو.د موځي ماما پېتۍ پرته وه دی نۀ ښکارېدو. موږ راغلو د دۀ انتظار مو کاوۀ. ناګهانه د لېوني ږغ شو.

**لېوني جانان**: "مرې که یې وژنې ! راغلی راغلی هغه دی ماما".

ماما هم راورسېدو چې خپل وړوکی کالی یې خوراوۀ خندل یې"لېونو ! بیا دي څۀ تماشه جوړه کړې ده". ؟

له ماما سره د روغبړ کولو ورسته سره کښېنستو.

**لېوني جانان**: "مرې که یې وژنې ! له ما سره تر را روانې جمعې پورې کار مۀ لرئ.ما په ښار کښې بد شروع کړي دي.کله یو په سوک ووهم کله بل، کله د یو موټر شیشه ورماته کړم کله د بل ،کله څۀ وکړم کله څۀ".لېونی د دې خبرې له کولو پس بې له رخصته روان شو.

موږ یو ساعت لا هلته ناست وو بیا را ولاړ شو. په لېوني هم پرېشانه وو چې خلګ یې خوږنه کړي یا له خلګوور پېښه نه شي ؟

د جمعې تر ورځې پورې زۀ او صالو د موځي ماما ترې له هره ورځ راتلو . کله کله به برېالی هم راغلی خو لېونی نۀ ښکارېدو. د جمعې په ورځ چې زۀ او صالوجان هوټل ته لاړو ،ما د لېوني ګپې ورته کولې دۀ خندل.اذان وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**صالوجان**: "د مولوي صیب ګرې غلطه شوې ده که وخت د اذان دی؟".

زه:چیګرې ته مې وکتل."ته د مولوي صیب ګرې نه ده غلته نن جمعه مبارکه ده".

صالوجان وخندل"درځه چې ولاړ شو داسې نه وي لېونی راشي بیا مو نه پرېږدي وایي به په دې ښارکښې د جمعې لمونځ نه کېږي".

له دې وروسته موږ هم ماجت ته لاړو ، لمونځ مو وکړ،را ووتو په ښارکښې روان شو- سوکه سوکه تلو په ښارکښې به د جمعـــــې د لمانځــــــه پــــــس د پـــــــرش وو ـــــــ د موټرسائیکلانو،موټرانو،رکشو هارنونه او د خرۀ ټانګو به اکثره سړک بند کړی وو-د ښار زورزورو به ورته پوچ رد ویل دوی به پر خپلو خرو نارې بوغارې جوړې کړې وې، خپل خرۀ به یې وهل،هلې ځلې به یې جوړې کړې وې .د خرو په غاړو زمرغو او بل خوا د ریړی والا ږغونه هر شی په پنځۀ پنځۀ . چابه ویل ارزانه شوې کېلې،چابه د یوۀ شي نارې وهلې چابه د بل شي.

له بلې خوا به د موسیقي ږغ وو،د پر خوند یې کاؤ-د دې تولو ږغونو اجتماع ځان له ساز جوړ کړی وو،زۀ پکښې ورک وم.و

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ته ودرېږه له بل سره ودرېږه تر څو چې د موټر اډې ته ورسېدو.يوې او بلې خواته موکتل د لېونې په انتظار وو.

دلته مو لېونی په نظر شو راروان وو. د لېوني تر رارسېدو له مخه يو سړي را ږغ کړ"پام ورسره کوئ ډبره يې په لاس کې ده".لېوني د دۀ له ناري سره سمه ډبره راخلاصه کړه . له موږه لرې ولګېده

لېونی چې تر موږه راورسېدو ، له موږ سره يې روغبړ وکړی.

**لېونی جانان**: "هغه ورځ چې يې ښادي ته پېسې ورکړې، هغه سړی شاعر دی.هغه شاعر له څو".موږ ورسره ومنله.

**لېونی جانان**: "مړي که وژنې !هغه سپین وېکن وينې سرچې يې د وورولـه ګونيـو ډک دی، هغـه تـه وخېـژئ .ورتـه ووايـاست موږمنوجان کلي ته ځو.له بندوال سره مو کار دی".

موږ هم هغه وېګن ته وختو،وېګن روان شو.تلو تلو په دې کلي کښې سواري کوز کړه،ودې کور ته ورو ګرزېږه ګونۍ کوزه کړه ، دې کور ته ودرېږه ښځه کوزه کړه . لمرلوېدو چې استاذ وېګن ودراوو پر موږ يې ږغ کړ.

**استاد**: "هغه دی د بندوال کور".



تولنه لېونی ده عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورې را کوز شو.لېونی بیا د وېګن له دروازې سره ولاړ وو،و یې خندل.

**لېونی جانان**: "مرې که یې وژنې !دوی خو هم له ښاره راغلو".

**زه**: "مورې؟".

**لېوني جانان**: د وېګن دروازه ته لاس ونیوو.

"مرې که یې وژنې !دغه هوښیاران چې په ښځو یې د وېګن له خلګو مخونه پټ کړي وو ، درسته ښار ته ښکاره وو".

ټولو خلګو وخندل.ما د وېګن دروازه بنده کړه، وېګن روان شو.لېوني لړ له وېګن سره منده کړه،بېرته راوګرځېدو ویې خندل.

**لېونی جانان**: "مرې که یې وژنې !استاذ په خدای چې ماښام ښځې ته ووایې چې نن مې یو لېونی په چل چل کښې داسې پرېښودی، موټر مې وځغلا وو".

لېونی جانان له مخه شو مورې ور پسې چې ورسېدو ،بندوال ولاړ وو.خونې ته یې بوتلو په خونه کښې ناست وو، شا وخوا مې سره کتل له ځان سره مې وویل"په دې سارا کښې دومره ښایسته د مېلمنو خونه.تک سپین دېوالونه،چار پېره عکسونه پکښې ځړېږي .لاندې چارپېره سرې نالۍ



ټولنه لېونی ده عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورې، سره بالښتونه پرې پراته دي. په دروازو يې تکې سرې پردې ځړېږي".

د بندوال د دوباره راتلو سلام زۀ د خونې له ننداري راغبرګ کړم.

**زۀ:** "چې د دۀ له کښېنستلو سره سم مې دا خبره وکړه. ياره بندواله! په دې سارا کښې دا عکسونه دا سپين ږيري او ملايان پرېږدي؟".

**بندوال:** "ياره! يو څۀ وخت ډېر ور سره په تکليف وم بيا څۀ ښۀ شوم چې ملايان خداى را وشرمول. يو سپين ږيرى پلار لرم هغه دې خونې ته نه راتلو. يو ورځ مې پلار ښار ته بوتلی هغه په ښار کښې لګېدلي د ملايانو غټ غټ عکسونه مې ورښکاره کړو چې هغه يې وليدو بس په کراره شو".

زمونږ خبره لا نه وه خلاصه د بندوال پلار چې لکړه يې لګوله خونې ته راغلی، مونږ ټول ورولاړ شو. له روغبړه پس بندوال ترلاس ونيوو، بالښت ته يې کښېناوو. کاکا چې ساه سمه کړه دوباره يې پياله هريوۀ سره روغبړ وکړو. په کاکا پسې د ستې ډوډۍ راغله. له ډوډۍ پس په ګپه ګپه کښې، هغه وخت چې کاکا خپلې چشمې له سترګو راکښلې وې، د خپل پټکی په څاک يې پاکولې.



ټولنه لبونې ده عبدالقادر مجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لبوني جانان**: مخ ور واړاوو.
"مرې که یې وژنې! کاکا! دا ملایان وایي دا څیني تولنې مور خور نهٔ لري، نهٔ تر له مالومېږي. ستا څهٔ خیال دی؟".
**کاکا**: چې خپلې چشمې په سترګو کړې. "زویه! څهٔ خبر یم. خدای دې په دوی کوي، موږ خو نهٔ دي لیدلي".
**زهٔ**: چې ورغبرګه مې کړه. "کاکا! بیا هم ستا زړهٔ منې چې که مور، خور یا لور په لاس ورغله لاس نه تراړوي".
**کاکا**: چې وبالښت ته څنګ وهلی وو راپورته شو.
"زویه! زموږ یقین دی. ولې ملایان دروغ نهٔ وایي. ملایان چې هره خبر کوي هغه له کتابه کوي".

**لبوني جانان**: د خبرې وار له مخه کړو. "مرې که یې وژنې! موږ کله ویل چې دروغ وایي. موږ وایو چې دوی په خپله نه په پوهېږي که خلګ پوه کول نهٔ غواړي. دا موږ منو چې ملایان څهٔ وایي هغه حقیقت دي. لیکن دوی موږ داسې نهٔ پوه کوي لکه دا اوس چې زهٔ په دې خبره اولس پوه کول غواړم".
**زهٔ**: چې خبره بله خواته واړوله. "کاکا! د دې غارې به څومره وختونه کېږي چې وایي



تولنه لبوني ده عبدالقادر مجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر دراوی یې بل کړی اور
یواریې لور راسې بیا مور

**کاکا**: موسکی شو۔ "زویه ! دا غاړه به زیام (زهٔ وایم) زما تر پلار هم مشره وي".

زهٔ: "کاکا ! تهٔ دراوی ښهٔ کار بولې که بد" ؟.

**کاکا**: "زویه ! دراوی که ښهٔ کار نه دی بد هم نه دی .هغه بیا تاسو پرګوری ما په خپله کړې ده،زهٔ خو یایم ښهٔ کار وو۔ اوس په دې هم پوه شوم چې تاسو خبره کوم ځای له بېول غواړی .په هغه وخت کښې به ضرور یو دوه داسې دلګان وو لکه دا اوس چې درسته زمانه ده.زهٔ د خپلې دراوی ذکر ځکه کوم چې تاسو د هغه وخت د خلګو او د اوس د خلګو فرق وکړی .کومې پېغلې ته چې به زهٔ ورتلم هغه یو کال کېږي وفات شوه.زهٔ چې به تاکلې ځای ته ورغلم د روغبړ لاس به مې ورکړو بیا تر سهاره لاس وروړل پرما داسې دي لکه له موره سره زنا۔ پخواني خلګ څهٔ لېوني نهٔوو،نهٔ دومره بېغېرته ووچې لور یا خور به یې له بله سره شپه تېروله،دی به په خبر هم وو څهٔ به یې نه وویل.

زویه ! زما په خیال د دراوی اثر به نورو خلګو ته هم له موره څه ورغلی وي۔ستاسو که نه دي په یاد زما خو داسې په یاد دي



تولنه لېونی. ده عبدالقادر مجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه دا اوس اوس . په یوه خونه کښې به د یوې زیږې کور پروت وو په هغه بله کښې به د بلې زیږې کور پروت. څوک د نر زوی وو چې ودې کورته به یې په بد نظر کتل.

بل دا چارد بوالۍ نه وې نه د اوس په رنګ پردې وې . زموږ ښځو له مېږو، پلارو او وروڼو سره سم کار کاوه. لوښنه، واښه او بوټي، له بېخې لرې لرې به یې اوبه راوړلې . پردې ښځو چا پېرداري کوله . دا یې ښکاره مثال دی چې زموږ د کوچیانو ښځې اوس هم هغسې ګرځي. شته د نر زوی چې په کږو ور وګوري.

دا اوس زمانه په چارد بوالۍ او په پردو ښځې راګرځوي. زه هره ورځ له دې خپله سره اریم چې په د بوالو ښځې نه راګرځي . له خانه د سري زامن جوړ کړی - دې ته بېخي حېران یم چې دا ناروغي زموږ تولنې له چا راوړه؟".

له دې پس یو څه ګړی چوپ ناست وو

**کاکا**: واړه وخندل. "زویه! دا زما تجربه ده چې د مېړۀ په ښځه بروسه نه وه . د ښځې په مېړۀ بیا ښځه په پردو او د بوالو نه راګرځي دا یاد ولرئ.

زه حېران ودې ته یم چې دا بلا دودونه له کومه راغلو، چا راوړو؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیر دا خو دي اورېدلي دي چې پخواني خلک د پر مینه ناک خلګ وو ،وسیله یې درلوده. هغه د دې دراوی برکت وو چې هر سړي به یې وکوم کارته مخ کړو هغه به یې دومره په مینه کا وو لکه له هغې پېغلې سره ناسته .په دراوی کښې نورې هم د پېرې داسې ګټورې خبرې وې .دا څو خبرې چې درته کوم دا زما خپله تجربه ده لکه حوصله ، وسیله او ایمانداري.دا په دراوی کښې وې.

دا کوم څۀ چې په ما کښې وینې یا شته دا ده هغې دراوی برکت دی".

د دې خبرې له ختمېدو سره سمه

**کاکا**: خپله لکړه ورکش کړه."زویه ! ماته رخصت راکړئ زۀ زیاته ستړی شوم".

بندوال تر لاس ونیوو کورته یې بوتلی.له هغې خوا چې راغلو زموږ د پاره یې د اغوستلو کالی(بسترې) راوړې،دی بېرته لاړی.

**لبونی**: "زۀ ستړی شوم یوا راتن کوم".

دۀ چې اتڼ ختم کړی نرسه هم راغله د نشې ستن یې وروالګوله .دی ځای پر ځای ویدۀ شو ، زۀ هم ویدۀ شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

## (11)

سهار د هسپتال د کمرې ور وټکېدی،ور مې ور خلاص کړ.
د ترسې له راتلو سره لېونی هم را ویښ شو.
**لېونی**: "مرې که یې وژنې !لچې ملایې بیا راغله بلبله ده.
مرې که یې وژنې !کیسه چېرې پاته شوه".
ما کیسه ور په یاد کړه.
**لېونی**: "مرې که یې وژنې! سهار چې را پورته شو اودسونه لمنځونه مو وکړل.بندوال ښې د شیدو مستې چای،کوچې ښه توده ډوډۍ راوړه.چا اوله پیاله څښلې وه،د چا لا هغه پیاله په لاس کښې وه.د لېوني جانان پر برېت لوړه د کوچو خاشه پروته وه.بندوال دا هڅه وکړه چې د لېوني جان له برېته هغه خاشه لرې کړي ،لېوني یې لاس ونیوو.
**لېونی جانان**: "مرې که یې وژنې ! څهٔ کوې؟".
**بندوال**: "پر برېت دې د کوچو خاشه پروته ده".

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لبونی جانان**: چې ويې وخندل."مرې که يې وژنې ! ګوره ګوره چې برت ته مې لاس ور نه وړې. خدای دي وکړي چې غوا پر ولاړه وي".

پر دې خبره مو ډېر بېخي د ېر وخندل. وروسته

**لبونی جانان**: بندوال ته مخ ورواړاوه.

"مرې که يې وژنې ! ستا څۀ خيال دی زموږ مور، خور مالومه ده؟".

**بندوال**: چې پياله په لاس کېښې وه، ويې خندل.

"تۀ بل کار هم لرې . دومره وار خو وکړه دا چای وڅښو يا يو سګرېټ وڅکوو".

**لبونی جانان**: "مرې که يې وژنې ! موږ ولاړيږو توله ورځ خو به تا ته نه يو ناست. ژر زما د خبرې ځواب راکړه".

**بندوال**: پياله کېښېښوده.

"ښۀ نه مې پرېږدې . خبره دا ده چې خور، مور هغه توکي هم لري کوم چې دا ازادي بنيادي بشري حق ګڼي . مور او خور هلته هم محترمه ده ځوک چې د ګناه تصور دماغي ناروغې ګڼي. دا خو هسې زموږ خيالات دي چې په کومه ټولنه کښې چې سائنس او نوښت وده وکړي هلته د مور او خور تصور ختم شي. زما په اند هلته نور هم دا تصور وده کړې ده، هلته نور هم مضبوط شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی،هلته سائنس او فطرت په خپله د یو مضبوطې عقیدې شکل اختیار کړی دی.

هان یوه خبره ضروري ده چې په هغو تولنو کښې په ښوونځیو او پوهنتونونو کښې له ښځو سره پر ترون زده کړي ورکول کېږي. ښځه او بد ارخ یې دواړه ورته ویل کېږي.هلته د راوی بې عزتي نه گڼل کېږي.ځکه یو پلار او یو زوی په دې نه شرمېږي چې یو بل ته څرګنده کړي چې د پلانکي له پلانکی سره یاري ده چې یو بل ځان ترې وژغوري.

زمونږ په تولنو کښې خو بد مرغي دغه ده زده کړي خو بیخي لرې خبره ده.د شرم،حیاء او د عزت پردې مو هم پر عقل پرتې دي او هوس پرستی مو هم سترګې ړندې کړې دي.تولنه ورځ مو د ېر عزمند خلګ په ښار کښې د هلکانو په لټون کښې وي.مونږ یې وینو پورې خاندو دا هم وایو پلانی خو هم د ښکار په طلب دی.یو د بل لوښې او خوندې تښتوو،پردې خاندو دا دومره کیسه نه ده.غل که غلا وکړي پر وخاندو.

کاش! چې د دې تولنې غلۀ غلا ځان له کولای،د بل د پاره مۀ وای یا بدماش بدماشي د ځان د پاره کولای، د بل د پاره مۀ وای .د دې تولنې د غلۀ په غلا کښې د ېره حصه د زورورو وي. بدماش یې هم دغسې وګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ پر خاندو ،ستا پرېږه دا خو يو دی نه دی خو پلاني او پلاني هم غلا کړې ده. يو د بل سره په نفاق کښې يو د بل په بې عزتي پسې يو.

ملايان مو هم د دين په روح نه پوهوي. دوی په دا نۀ پوهېږي چې خلک څنګه پوه کړي که څۀ هم د دوی مقصد دا دی چې يو د بل دروازې مۀ ټکوئ. يو د بل عزت مۀ اخلئ. زۀ خو وايم هغه ټولنې که له مذهبه لرې شوې،د ساٸنس د ترقۍ لارې خو يې خپلې کړې دي. ساٸنس خو يې د ژوند لاروي وکړه.موږ خو نه د دين شو نه د دنيا شو.

دا مو هم زړۀ نه منې چې زما خور، لور او وربندار دې نه بې عزته کېږي او د بل له لوره،خوره او وربنداره دې هم نه را ګرځو.

ستا څۀ خيال دی دا د تورو شپو په دراوۍ کښې به بيا زموږ وبچيانو ته خور او ورور درک ورکړي؟".

**لبونی جانان**:ولاړ شو ځپلۍ يې په پښو کړې.

"مرې که يې وژنې !د دې يوۀ سوال ځواب لا راکړه.دا ملايانو چې د سکول مخالفت کولی.اوس څۀ وشو چې په خپله يې سکولونه خلاص کړو.د جمعې په ورځ پر ممبر ناست وي و خلګو ته وايي خپل ماشومان راولئ په سکول کښې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخله کړئ.له دې سره سره دا خبره هم وکړې چې ما سکول خلاص کړی دی په هغه کښې موږ له نورو دنیاوي مضمونونو سره سره اسلامیات هم وایو".

**بندوال**: خالي پیالې سره یو ځای کولې.

"یاره! ته ملایان خواران څهٔ کوې؟ هغه وخت د دوی ګټه پکښې نه وه. اوس یې هم هغه ملایان نه دي مخالفه چې خپل سکولونه یې خلاص کړي دي. دا نور یې اوس هم مخالفت کوي. ګنی که د اسلامیات خبره شي خو چې د سکولونو بنیاد ښودل شوي دي اسلامیات پکښې ویل کېږي. ور سره سره عربي ژبه هم ور ښودل کېږي او د عربي استاذان هم ملایان وي.

زموږ د قام خو بدمرغي دغه ده چې ملا، مشر، خان، تعلیم یافته ټولو د نس ومنل ځکه خو ورځ تر هغه بله تیاره جوړېږي".

**لېونی جانان**: د روانېدو هڅه کوله.

"مرې که یې وژنې! بس هم دومره مې در څخه پوښتل غوښتل. بندواله زه خووایم هغه وخت چې ملایانو دا سکول مخالفت کولی. چې په دې پورې یې لاس نیولې وای. اوستاذ، استاذه، ماشوم او ماشومه ټول به په دې خپله جامه کې اسکول ته راځي ښه به نه وه".

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندوال د پر راته وویل چې پاته شئ نن شپه لا را سره تېره کړئ. ښۀ به د زړۀ غوټې سره خلاصې کړو خو دا خبره په لېوني چا مټله.له بندوال څخه مو رخصت واخیست. ښار ته راورسېدو.

**لېوني جانان**: "مرې که یې وژنې! زۀ له مخه کېږم تاسو څو قدمه وروسته پسې راځئ".

**زۀ**: "څۀ چل به کوۀ؟".

**لېوني جانان**: "مرې که یې وژنې! زۀ به وسرې سرې ته درېږم ورته وایم به چې ملایان وایي د ځینو تولنو مور،خور نه دي مالوم. زموږ خور،مور مالومه ده که نه؟.

تاسو یو څو قدمه شاته راځئ که یې ښکنځل راته کول یا یې پر ځان بده لګوله، تاسي به ورته وایاست"لېوني دی".

زۀ چې ومې خندل. "یاره! نورې ورځې که نه وې لېوني نن نو په خدای به سم دم لېوني یې.دغه رنګه خو دي والله که زموږ پلار هم له خلګو خلاص کړي. په دې پوري کلي کښې نن وادۀ دی زۀ یې ورا له غوښتی وم نه وم ورغلی،دودی له به ورشوو،عذر به مو هم جوړ شي.هغه خلک خو ما پېژني،تۀ که چا پېژندلی هم کېدای شي خو دا ستا پوښتنې زۀ له خلګو څخه په خپله طریقه کوم.تۀ به خاموشه کېږې".

لېوني جانان سره ورښورا وو چې هو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حقیقت کښې زما د ټولنې دې خبرو ته پام نۀ وو چې څۀ کېږي څۀ نۀ خو دې لېوني زوی مرې زۀ په دې بلا اخته کړم. ورغلو، د سترخوانونه خوارۀ وو، ډوډی شروع وه. موږ لاس ومینځل په ډوډی خوړلو مو شروع وکړه. ډوډی وخوړل شوه. د کور مشر د روغبړ په وخت کښې راته وویل "په ورا کښې نه وې چې ډوډی له راغلی یې هم دې ښۀ وکړل. ګني سلام مې در څخه بندولو". ټولو خلکو وخندل. څوک رخصت شول، ځیني اتڼ ته ووتل. زۀ، صالو، لېونی جانان او یو څو سپین ږیري او ځوانان په خونه کښې پاتې شوو ګپه شروع شوه. ما هم خپل هډ ور ورغورزاوو. که مې څۀ د لېوني له هغې مهمې پوښتنې څخه شروع وکړه خو زما طریقه له لېوني څخه بېله وه.

تاني اکا چې بالښت ته شا وهلې وه.

**زۀ**: "تاني کاکا! دا څو ورځې مې په دې کښې سودا اره ده بېخي تر ډېره د شپې خوب نۀ راځي".

**تاني کاکا**: چې له بالښته را پورته شو "لکه څنګه؟".

**زۀ**: "دا د عمرګل زوی چې نجلۍ وتښتوله په دې خو دا ټول کلی هم خبر یو هم ماخوذه یو چې د نجلۍ له موره سره یې د پلار یاري وه".

**تاني کاکا**: پر ږیره لاس تېر کړی ویې خندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"تهٔ لېونی يې دا کوم اول وار دی،داسې کيسې خو په موږ کښې بېشمره شوي دي.د توري تيارې د ياری خو دا نقصان دی.هغه خواران په دې څهٔ خبر دي".

په دين ګل اکا کښې زما نظر وو چې ناکراره وو کله به ماته د خبرې وار راشي چې کله د خبرې وار ورغلی نو په خبرو يې داسې پيل وکړو.

**دين ګل**: "تانيه ! هغه خو به په تياره کښې وو.اوس چې يې د پلار له موره سره ياري شي لور يې وزوی ته وغواړي په دې خاطر چې بيايې کورته په سپينه ورځ ورتلای شي".

وار د ملک کاکا شو.

**ملک کاکا**: "هلکه تانيه ! داسې له خدايه وېرېږي څکه يې په دې کښې سودا اړه ده .موږ دې مشرانو او ملا يا نو قام ته بېخي شاورته کړه.د دهٔ تر دې خبرې پورې يوه خبره راپه يادشوه.

هغه ورځ مې په ښار کښې ملا تاجک وليدي".

**تانی کاکا**: "کوم ملاتاجک؟.

**ملک کاکا**: "ياره ! هغه ملا تاجک د ېر ښايسته اذان چې يې کاوو بيا ورک شو.هغه ورځ مې په ښار کښې وليدو.ما څهٔ پېژندلی دهٔ روغبړ راسره وکړو.ما پوښتنه څېنې وکړه سريه چېرې ورک شوې".

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ملا تاجک** وخندل"ملک کاکو ! موږ دي خدای له مشرانو خلاص کړي".

ما ورته وویل"ولې مشرانو څۀ ګناه کړې ده؟".

دۀ وویل"ملک کاکو ! څۀ درته ووایم؟".

"ما ورغبرګه کړه بیا هم".دی یو څۀ وخت چوپ ناست وو سریې ځړولی وو.ما بیا پرېږ کړو "ولې ملاجانه !"

دۀ وویل"یاره ملک کاکو ! دلته دري قانونه دي.یو ستاسو دود و دستور بل د ملایانو شرع،دریم د حکومت قانون چې په کوم یوۀ کښې ستاسو ګټه وي هغه ته لاس واچوی.

مثال: که لور ور کوی یا زوی ته واده غواړی له یوۀ هم پوښتنه نۀ کوي".

ما ویل"دا خو څۀ بده خبره نه ده".

دۀ ویل"که بده خبره نه وایه نو زۀ به نهه کاله نه وایه ورک".

ما ورغبرګه کړه"زۀ نۀ شوم پوه".

دۀ وویل"زما پلار ما له واده زمابېخوښې غوښتی وو. هغه نجلۍ چې دېر وخت یې زما له موره سره یاري وه. که دۀ له ما پوښتنه کړې وای دا پېښه به نۀ کېده".

ما ورته وویل"بیا دي څۀ په وکړو".

(c) ketabton.com: The Digital Library



دۀ ویل"پرې مي ښوده. پلار مي هغه بل ورور ته کښېنوله".ما ویل"بیا خو مي هم خاص فرق نۀ دی پـه کړی".

د دۀ سترګې له اوښکو ډکې شوې.د دې خبرې له کولو سره ولاړ شو"خدای خو دي هغه وخت راولي چې زموږ خوندي او لوني په خپلو حقوقو خبرې شي چې پر خپلو حقوقو پلار او ورور څۀ، هر څوک تر مړوند نیولای شي".

دروازه وتکېده زۀ ورولاړ شوم..........

(c) ketabton.com: The Digital Library



○
(12)

**لېوني**: "مرې که یې وژنې ! یو خو دغه ترسه لېونۍ زموږ ګرده کیسه را ګډه وډه کړي. ښځو نو ما ویل چې د وادۀ څخه راغبرګ شوو نو لېونی تر موږ مخکې چابک چابک روان وو. دا سې ورک شو لکه تاچې نۀ دی لیدلی بیا موږ هم نۀ دی لیدلی.

پوره نولس ورځې لېونی نه وو. موږ به موڅي ماما ته راغلو د لېوني بې دیده به بېرته رخصت شو. موڅي ماما به یو څۀ د لېوني څۀ به یې خپلې خبرې په ګډې کړې. دا سې کیسې به یې کولې چې سړي ببخي یقین نه شو په کولای.

مثال لکه دا کیسه

"زۀ یوه ورځ له دوبۍ څخه په جهاز کښې را روان وم. دا زما اول وار وو چې په جهاز کښې مې سفر کاوو. ښایستو ښایستو نجونو په جهاز کښې خذمت کاوو. یوې وماته ببخي د بر خوند را کړی. واریه نه وو ما به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې په خوا وکتل. د دې هم په ما کښې سودا اړه شوه هر ساعت به راغله سرجي څۀ خذمت؟".

**زۀ**: "کورودان".

د جهاز والا ټول مسافر ماته ډېر حېران وو چې دا ښکلې نجلۍ هر وخت د دۀ خوا له څنګه راځي ـ ما هم د نجلۍ د خوشالولو د پاره غوښتو چې دا سې کارنامه وکړم چې دا راته حېرانه شي بس خدای راجوړوله په جهاز کښې اعلان وشو چې د جهاز د مخ ټائر پنچر شو ـ ټول مسافر وار خطا وو ـ چا ژړل، چا کلمې ويلې ـ ما هغه ښکلې نجلۍ ته وويل "په جهاز کښې رسۍ شته؟".

**نجلۍ**: "هو سرجي! څۀ په کوې؟".

**زۀ**: "تۀ ورشه رسۍ را واخله".

دې رسۍ راوړه، ما رسۍ په ځان کښې غوټه کړه ـ پاته رسۍ مې پراوړه وارړوله، په جهاز کښې سوکه رارون شوم ـ ډرائيور ته ورغلم چې دا ټائر پنچر ولې شو. د دۀ په خولۀ کښې لاړې وچې وې. ما وويل "ول پانه چيرې ده؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهٔ د صندوخ خوا ته اشاره وکړه ـ رنګ يې تک تور شوی وو.ما ول پانه را واخيسته.

نجلۍ: "مهٔ کوز ېږه".

"چې تول مري يو زهٔ دي هم مر شم".

دروازه مې خلاصه کړه، کښته شوم ـ نورو خلګو رسۍ تينګه نيولې وه ـ په رسۍ مې ځان ترلی په هوا هوا کښې مې د ټائر پنچر ولګاوو چې بېرته راغلم ـ ورورو ! هغې نجلۍ په غېږه کښې ونيولم، تول خلګ راغلو داد يې راکړی ـ جهاز روغ رمټ پر هوايي ډګر کښته شو ـ ماته يې کرايه بېرته راکړه ـ افسرانو نورې پيسې هم راکړې ـ سواريانو هم روپۍ پر راغوځولې او هم يې دعاګانې راته کولې ـ عکسونه يې را سره اخيستل ـ په اخر کښې هغې ښکلې نجلۍ څلور، پنځهٔ عکسونه را سره واخيستل بيا يې له ما څخه ادرس طلب کړو.

ببخي ډېر وخت پس د چا هغه د جهاز کيسه په ياد وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنګين دوکاندار را ږغ کړو "هلکه! راشه ستا يو ليک راغلی دی".

ما چې ليک راوخيستو خلاص مې کړ، د هغې ښکلې نجلۍ وو چې زما او د دې پر يو ځای عکسونه يې هم پکښې رالېږلي وو- اوس هم د جاني استاذ د وږګن پر ښېښه زما او د هغې نجلۍ عکس لګېدلی دی".

دا عکس خو ما او صالو د جاني استاذ پر وږګن لېدلی وو- مو ږ پوهېدو چې موځي ماما په عکسو والا جوړ کړی دی- د دهٔ سرېې د يو بل سرې پر سر لګولی دی.

د ډېرې خندا ځخه د صالو په سترګو کښې اوښکې راغلې- موځي ماما ويل "اوس زهٔ د لېوني پر ځای در پاته يم. دغه رنګه به مو خندوم".

موږ له موځي ماما ځخه د رخصتېدو په حال کښې وو چې يو چا پر سترګو لاس راونيول- ما پر مروند وپېژندی چې لېونی دی.

زهٔ: "ها لېونو!".

(c) ketabton.com: The Digital Library



دۀ زما لـه سـترګو لاس لـري کړو- دومـره کلـک يـې مچ کرم چې کله مور هم نۀ يم مچ کړی.

زۀ: "چېـري وي لېونـو ای اوس کـار دی چـې تـا وکړی؟".

**لېونی جانـان**: "مـړې کـه يـې وژنـې ! بـس نـور مـې مـۀ ژړوئ، ملامت ، ملامت، ملامت يم".

چـای مـو ورتـه را وغوښـتې دی بيـا يـو وار پـر پونـده وڅرخېـدی - مـوږ د مامـا د جهـاز کيسـه ورتـه وکـړه دی پـر مخکـه غزېـدلی پـروت لـه خنـدا شـين شـين کېدو- پـه دې وخت کښـې بريـالی هـم راغلـی- مـوږ هـم ښۀ په تپاک له بريالي سره روغبړ وکړی.

**بريـالی**: "مامـا ! کـه ستا سـو خوښـه ده درځـئ نـن صـحرا ته لاړ شو- چکـر بـه ووهو ، ښـکار بـه هـم وکړو- يـو سـاعت بـه سـره وخاندو- پـه څۀ بـلا مـو کښېيستم بـې لـه تاسـو پـه خـدای کـه نـۀ کـور خونـد راکوي، نـۀ بـازار ، نـۀ نـور يـاران - د اکـا زامـن او نـور خپلـوان پېغورونه راکوي وايي چې لېونی شوی يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ ورته وايم ښۀ دی چې لېونی يم چرسي او شرابي خو نۀ يم دوی وايي بس پرېږدی يې دغه خپل ژوند خرابوي".

موڅي ماما ورسره خوښه کړه زۀ، صالو، لېونی او موڅي ماما له بريالي سره په موټر کښې سپارۀ شو زما پکښې خيال وو چې د بريالي پلار مور ته کتل چې مور له بريالي سره موټر ته وختلو د دوی او بريالي پام ورته نه وو.

موټر چې څنګه روان شو بريالي مېموري ورواچوله وېل يې "دا ښۀ په غور واوری" چې څنګه بدله شروع شوه

.

**لېوني جانان:** ورغوټه شو مېموري يې بېرته را ويسته "دا پرېږدئ د دۀ ترېږغ خو زما د اردې ږغ هم ښه دی".

لېوني ناتراشه غارې شروع کړې د يوې غارې سر د بلې پاي.لکه.

که له کښې يې که له پا سه

ګرانه مرۀ دي زورور دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه رنګه يې نورې هم وويلې ـ واقعي هم د لېوني ښځه ډېر ښه زړه ورکوي، مېړه یي ښه ولېږلي ـ لمر هم ډېر ښه

دغه رنګه يې نورې هم وويلې ـ واقعي هم د لېوني ښځه ډېره ښه ږغ وه ـ موږ خندل دي لګيا وو خپلې بابولالي يې شروع کړي وې.

ما د قدرت د نظارو ننداره کوله ـ پر اسمان نرۍ نرۍ وريځ د غرونو پر سر چې به لمر ښکاره شو د باران په نري پشم ناوده کاني به ځلېدو ـ ښېخې د پرخوند يې کاوو خو لمر پټ او ښکاره کېدو ما د خپل اړخ د کړکۍ ښيښه خلاصه کړې وه، تازه هوا ښه پر را لګېده.

له لري به ځاى په ځاى شنيغزيان ښکارېدو ـ اوښان، کوچيان او رمې د ډېر خوند يې کاوو ـ يو ځاى يو شپانۀ پر ډبره ناست و ، شپېلۍ يې ږغوله

.

**لېوني جانان**: "موټر ودروئ".

بريالي موټر ودرولی ـ موږ هم راکوز شو ـ لېوني له شپون څخه شپېلۍ واخيسته ـ دا سې شپېلۍ يې وږغوله چې موږ حېران حېران ورته کتل ـ شپانۀ په شاه يوه د شمسي وره ښيښه هم اخستې وه.

**بريالی**: "دا ښيښه څۀ کوې؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپانه**: "موبایل په چارجوم".

**بریالی**: "دلته موبایل کار کوي؟".

**شپانه**: "نهٔ !".

**بریالی**: "بیا نو څهٔ د پاره موبایل ګرزوې؟".

شپانهٔ وخندل-زموږ سر خلاص شو چې شپانهٔ د عکسونو وېډیوګانو د پاره اخیستی دی.

**بریالی**: تهٔ ښکاره کړه چې ویې ګورو-څهٔ رنګه موبایل دې دی".

ساده شپونکي خپل موبایل بریالي ته ونیوو.

"ها دغه دی ویې ګوره".

په دې خبرو خبرو کښې یې له ساده شپونکي سره داچل وکړی.

**بریالی**: "دا دې په څو رانیو؟".

**شپانه**: "یو څهٔ ساتلی مګ مې پې ورکړو".

بریالي په دې وخت کښې د ساده شپونکي مېموري تو له خپل موبایل له را اړولې وه-بریالي بېرته خپل موبایل شپون ته ورکړی.

لېونی پر پوند ه وګرځېدی "واوره راواوره په بشتره کښې".

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور له شپون سره خدای په اماني وکړه ـ بېرته موټر ته وختو ـ هغه ورځ چې مو څومره خندلي دي بیا مې تر ننه پورې دومره نه دي خندلي ـ ماخوستن بېرته راورسېدو په ښار کښې د بریالي له موټره کوز شو ـ ټول له موڅي ماما سره شپې ته لاړو. دا بله ورځ کورته سره لاړو.
دوې ورځې ښار ته نه لاړم ـ کور مې څه کار وو ـ دریمه ورځ صالوجان کور ته پسې راغلی، زۀ هم بازار ته ورسره راغلم ـ موڅي ماما هم ګیله من وو ـ ما هم خپله حال ورته بیان کړ ـ موڅي ماما د هینداري په رنا هوټلې ته د چای وویل ـ چای راغلې مور وڅیښلې ـ ټوله ورځ مو پر بریالي او لېوني خندل. ماخیګر کورو ته سره لاړو.
د شپې یو د موټر سایکل والا د موڅي ماما کورته ورغلی وو.
**سړی:** "د خدای د پاره را سره لاړ شه بل د هغه لېوني زوی مري یاران څوک دي چې له تا او له دۀ سره یې ناسته پاسته ده".؟
**موڅي ماما:** "خیر خو دي؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سرې:** "هو خبر دی ـ زۀ د هغه لېوني زوی مړي ماما یم ـ نن مې د زوی وادۀ وو ـ زما له یاده وتلي وو ،لېوني ته مې د وادۀ ست نه وو کړی ـ خدای خبر له کومې خوا راغلی،د انا کوټې ته تللی وو توپک یې را اخیستی دی وایي چې"زۀ که دي نه واي راغوښتی پروا نه وه ـ دا زما یاران دي ولې نه دي غوښتي.

تر کومه وخته پورې چې زما یاران نه وي راغلي په والله که یو هم دودی راڅخه وخوري ـ کوم نر شته چې زما مخ ته ودرېږي یا مې ونیسي"ـ وروره ! په عالم کښې یې رسوا کړم ـ دغه یاران به یې راښیې".

د ستي یې بریالي ته تیلیفون وکړ هغه هم راغلی ـ بریالی له مخه ماما یې راپسي وو ـ موږ یې له خپلو کورونو را واخیستو چې کله یې د ماما کورته ورسېدو .

**لېوني جانان:** چې موږ ولیدو توپک یې وغورزاوو ـ پر یوه پښه وڅرخېدو "ماما !کارتوس خو راکړه ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په توپک کښې کارتوس نشته ـ مري که يې وژنې ! ياران زنده باد".
پـردوی هـم لکـه لمـر چـې راوخېـژي خوشـاله شوـ لېوني مـوږ لـه خلکـو لېري پريـو هوارځای بې کالي کښېنولوـ مامـا خـواريـې د پـرورتـه وويـل "دا مېلمانـهٔ کـالي تـه راولـه"ـ داخبـره بيا پـه لېـوني چـا منله.؟
مامـا خـواريـې د لاس د مينځلـو اوبـه پـه خپلـه راوړي.
**لېـوني جانـان**: "مـوږ دا سـتا غوښـې نـهٔ خوروـ مـوږ تـه پياز په غوړيو کښې را سرهٔ کړئ".
مامـا يـې سـرهٔ کـړي پيـاز راوړل، دوی مـو وخـوړه ـ
**لېـوني جانـان**: "يـارانو ! ورشـئ دوی بـه غلـه وهلـې وي، خپلـې پوښـتنې کـوئ ـ زهٔ بـه دلتـه يـو گـړی اتـن واچوم".
لـه دوی پـس راغلـې ترخـې چـای مـو لـه ناسـتو خلکـو سـره ځينـلې پـه خبـره مـې څـهٔ داسـې شـروع وکـره ـ "يـاره ! هغـه د چـا خبـره چـې (نـه دې وژلـم د پلانکـې مـره اوښـه دې پـه راليدلـه) دا اوس څنگـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمانــه شــوه ــ دا نجــونې وګــوره چــې تښـــتېږي هغــه هــم لــه هغــه ســره چــې بــل وادهٔ يــې هــم وي ـ دا نــور خلــګ بيــا وګــوره چــې لــه ښــو عزتمنــدو کورنيــو دي لــه يــوهٔ او بلــه ځايــه ښــځې راولــي ـ هغــه هــم يــو يــو نــهٔ په پنځو ،لسو.

پـــه دې کښـــې بـــه مور ،لور ،خـــور څنګـــه تـــر لـــه مالومــه شــي يــا دا چــې د پــلار يــې لــه يــوې ښــځې ســره يــاري وه، زوی يــې لــور وتښـــتوله او بــل زوی مــور تــه خلــګ بيــاي،ورور خــور تــه ، پــلار لــور تــه، اکــا وريــري تــه ،تربــور ترلــې تــه ـ دا هــم وينــو هــم يــې اورو.

نــن پلانــي ښــځه پرېښــې ده،نــن پلانــي ـ کــه پوښــتنه پســې وکــړې وايــي بــه موبائــل يــې ورســره نيــولی وو ـ يــا پلانــي لــه خــوره ســره موبائــل نيــولی دی د پلانــي پــه زوی پســې ګرځــي ـ تــول يــې هــم پــه ســترګو وينو هم يې په غوږو اورو".

دا وخــت بــه لــس کســـه ناســت وو مــا پــه لــوړ ږغ ووېــــــــــــل "چېــــــــــــري دي د دې تــــــــــــولنې ملايان،خانان،پيران او فقيران.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا به تاسو ټولو اورېدلي وي ليدلي که مونه دي".

چا سرو ښورا وو چا"هو".

اوس چې هرچا داسې يوه کيسه اورېدلې وي هغه به يې ودې ناستو خلکو ته کوو".

رفيق:"ستا په دې کښې څهٔ مقصد دی؟".

زهٔ:"يو مقصد مې نه دی - دا ګورم چې څوک رښتيا ويلای شي که نه. اول وار زما دی.

زمونږ يو لري قريب دی - زوی ته يې وادهٔ وغوښتو - هغه هم د خپل ورور لور چې کله يې نجلۍ را وادهٔ کړه، هلک ولوړل که زهٔ نجلۍ خپلې خونې ته راپرېږدم - که به هلک ته د نصيحت د پاره څوک ورغلو، هلک به ويل"زهٔ دا نجلۍ څنګه وکړم - د دې له مور سره ما خپل پلار ليدلي دی" - هغه هلک که هر څو وخت تېر شو له خپلې خبرې نه واوښتو. نجلۍ يې پرېښوه.

اوس نو تاسو خپله خپله کيسه راته وکړئ".

يو ساده سړی چې له مونږه لېري يو بالښت ته ناست وو، د چای پياله يې په لاس کښې وه پټکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې له سترګو پورته کړې ويې خندل"منا دا خو لا ښۀ دي چې نر او ښځه دي ـ ما خو يوه ناشوده وليده، ښځه له ښځې سره".

ما ورغبرګه کړه"پېغلې که وادۀ؟".

دی چې پر خپله کړې خبره پښېمانه ښکارېدو"يا پېغلې".

"يو بل سړی وروره! په دې کښې شرم نشته ـ زۀ به يوه کيسه درته وکړم د يو سړي د خور زوی د يو چا پر لور تکان وکړو بيا مور هغه سړي ته ورغلو ورته و مو ويل د پر غلط کاريې درسره وکړو اوس دا لور ورکړه د دواړو به عزت خوندي شي د خوار د پر وويل وروره ما پر پردی ما مه مجبوره کوی بس کم غلط کار چې يې راسره وکړو، تر هغه به زۀ ورتېر شم"ـ د دې خبرې باوجود هم مور هغه سړی تنګ کړی ـ اخر هغه سړي مخ را واړوو ـ د هلک ماما ته يې وويل"تۀ ورشه له خوره پوښتنه وکړه چې زما لورېې د زوی ته روا ده که ناروا"ـ مور تولو له شرمه کښته کتل تر هغه وخته چې را ولاړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو بل سړي "ياره! که دغه حال وو خو د مسلمانۍ دربه ودرېږي".

وخندل ته يې ناست سړي وويل "خاوري مو شه مسلماني -مسلمانان داسي وي- يوه ورځ غرمه له ښاره راغلم- يو سپين ږيرى کليوال مې ولاړ ووچې موږ د سکول ماشومان کوزول د وويل "مېږور مې ناروغه ده که دي ماخيګر ډاکټر ته راسره يوره". ما ورته وويل "سمه ده".

ماخيګر مېلمانه راغلو- اوس حېران وم چې له مېلمنو سره کښېنم که له سپين ږيري سره ولاړ شم- زه له مېلمنو سره ناست وم چې دى بيا راغلى- مېلمنو وويل "ته ور سره ولاړ شه- موږ ناست يو خپله ګپه کوو، ته به بېرته راشې"- زه ور سره ولاړم هغه ښځه مې ډاکټر ته ور سره يوړه- يوار خو مې د ډاکټر څو ترخې واورېدلې چې "تاسو ناروغه ترمرګه ورسوي بيا يې راوړى- اوس ور شئ تيست يې وکړئ -وينه يې بېخي کمه ښکاري".

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور ورغلو هغه لېب اسیستنټ یې وینه په موټر کښې واخیسته-دا په هغه موټر کښې ناسته وه چې د سپین بېري زوی (د ښځې مېړهٔ) پر سکوټر راغلی وماته یې لاس له خولې واخیستو"تهٔ د خلګو ښځې په موټر کښې ګرزوې".

زهٔ حق حېران ولاړ وم-د ښار خلګو راته کتل-دهٔ ښځه په یو کشوله پلارېې پر بله-آخر دی روان شو ښځه یې و پلار ته پرېښوده-مور هغه تیسټ پرېښودی-دوی مې د خپل کور په دروازه کښې کوز کړو.

په سهار وختي یې پلار له ماجته زمور کور ته راغلی معافي یې غوښته-د زامنو یې نن هم سلام راسره نشته چې یو چل راسره کولای شي کوي یې".

په ناستو خلګو کښې یو بل چا وویل"هغه پلانی او پلانی-دا یو ګروپ وو-له نورو ښارونو یې ښځې راغوښتې-یوه ورځ هغه پلانې خپله ښځه داکټر ته راوستې وه،هغه د خپل ګروپ ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر پېښ شوي وو هغه ته يې ويلي وو چې "مور يې را وغواړو تا په ګډه وو ــ ته چې يې را وغواړې بيا خان پر واچوې "ــ هغه که هر څو وويل دا مې کوروداته ده ــ نه منل کې ده ــ تر جنګه سره رسېدلې وو. په دې ټول خلک خبر دي.

بله يو سړی چې د ېر په کرار راته رغېدو "ته هغه سړی وګوره په کوريې خلک وزي تتوزي، دی راروان دی نورو ته لارښووني کوي ــ په خپله د پلاني په ښځه تور شوــ و ماته د هغه مشر سړي خبره را په ياد شوه ــ دوی وايي "له هغه مشره سره د ېر خلک ناست وو، يو سړی راغلی مشر ته يې وويل "ته زما په کار يې "ــ هغه وويل "هره خبره چې ده ووايه "ــ که يې هر څومره خان ټينګ کړی آخر مجبوره شو و يې ويل "زه تور شوی يم".

دوی وايي هغه وخندل ويل يې "سړيه! دا تور ټول يو. ته هسې ښکاره شوی يې".

دروازه خلاصه شوه ــ ورور مې د غرمې د ډوډی راوړه ــ لېونی ولاړ شو اتڼ يې واچاوو ــ ورور مې حېران حېران ورته کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳
# (13)

چې ورور مې له خونې ووتو، ما دسترخوان هوار کړی ـ لېوني لاس ومينځل راغلی ـ ما چې د دېګ سر پورته کړی، چرګ يې پخ کړی وو.

لېوني چې وليد وله خندا شين شو بيا ولاړ شو ـ ما پر ږغ کړو "راشه ياره! ته خو لېونی وای خو زه دې لېونی کړم".

**لېوني**: وخندل "مرې که يې وژنې! خلک خو وايي چې (پيلان ساتي دروازې به لويې ږدي ـ زه خو وايم هغه دې ببخې د دروازې نوم نه اخلي).

مرې که يې وژنې! يوار د دېګ سر بند کړه ـ يوه ګپه را په ياد شوه".

ما د دېګ سر بند کړی ـ هوار د سترخوان مې هم سره واړا وو.

**لېوني**: "مرې که يې وژنې! سرې پر دوډۍ ګپې نه کوي ـ يوه د ېره پخوانۍ د اسکول د وختو کيسه را په ياد شوه ـ موږ د يو کلاس فېلو په کور کښې مېلمانه وو چې هغه زما کلاس فېلو نه بلکه زما عزيز هم وو ـ يو زه بل د ښار او سېدونکی کلاس فېلو ور سره مېلمانه وو چې کالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې د خپلو دوو خونو وشاته پر هوار ډګري هوار کړي وو- د ډوډۍ خوړلو وروسته مور نوي نوي تاش زدکړي وو- مور ډېري وو ،څلورم سړی نه وو- جمیل (کوربه کلاس فېلو) کورته لاړ- له هغې خوایې لالټین ،خپل پلار تاش ته راوستو- مور ډېر حېران شو چې "ته دې سړي ته وګوره راغلی له زوی سره ولالټین ته ناست دی ،تاش کوي.

مور د پلار تر مخ د تاش نوم نه شو اخیستلای".

خیر تر ډېره مو تاش سره وکړو بیا یې پلار ولاړ شو ویل یې "ما لمونځ نه دی کړی".

د ګرمۍ شپې وې- مور تول دباندې ناست وو بیا ویده شو- ګوره په دې کښې څو مره وخت تېر شوی وو چې د جمیل د مور ناري وې چې د جمیل بابا ته یې ویل "سړیه ! را پورته شه سپوږمۍ ناجوړه (تندر نیولې) ده".

په دې وخت کښې ترور په زوره زوره ویل "خدایه ! ته خو دا سپوږمۍ زموږ په ګناه مه نیسې- ګناه ګاره خو موږ یو دې څه ګناه کړې ده".

د جمیل پلار چې را ویښ شو خپلې ښځې ته یې وردېغ کړو "ها ښځې ! څه کیسه ده".

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د جمیل مور:** "سرېه! را پورته شه سپوږمۍ ناجوړه ده- دوه رکعاته نفل به وکړې بل به زهٔ چرګ ونیسم هغه به حلال کړې".

**د جمیل پلار:** "ور شه ښځې! کراره ویده شه- سپوږمۍ زموږ په حد کښې نهٔ ده- د پلانکي خېلو په حد کښې ده". له دې خبرې سره یې ږغ ورک شو.

دا خواره بیا راغله خپل زوی جمیل یې وړغاوو- هغه را پورته شو- مور یې چرګ او چاړه راوړي وو- هغه چرګ حلال کړی- راغلی پر خپله بستره پرېوتو- مور یې پر ږغ کړ "زویه! تهٔ ولې پرېوتې- دا خپل ملګري وړغوه چې را پورته شي یو دوه دوه رکعاته نفل به وکړي- پلار خو دې هسې هم نهٔ پورته کېږي".

**جمیل:** له خندا شین شو- "مورې! نفل تهٔ او د کلي ملاصېب وکړئ- ما خو دا دی چرګ در حلال کړی"- د لته ما هم وخندل. جمیل ته مې وویل.

"یاره! درځه چې پورته شو".

د مورکۍ د زړهٔ د پاره زهٔ ولاړ شوم- تر سرډ که بدنۍ مې را واخیسته، او دس مې تازه کړی پر نفلونو ودرېدم- دوی دوه حرامیان په بسترو کښې پراته ووخندل یې- یو دوه واره یې زهٔ هم د لمانځهٔ په منځ کښې وخندولم، سلام به مې په وګرځاوو".

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې خبرې سره سم لېوني بېرته راغلي د سترخوان مې هوار کړی. ډوډۍ مو وخوړه.

**لېوني**: له ډوډۍ خوړلو پس بېرته ولاړ شو، پر کټ يې پښې وغځولې.

"مرې که يې وژنې! دا متل خو دي اورېدلی دی چې وايي (د نودې ختې لړاو به کافي دي)- ياره! که رښتيا درته ووايم د وخت سترو او تجربو دومره خلک جوړ کړي دي چې له موږه هسې اشاره غواړي خو دلته بدمرغي دا ده چې څوک په چا اعتبار نۀ شي کولای.

د جميل د پلار خبره درته کوم چې زموږ نږدې قريب هم وو- بېخي د ېر وخت زۀ نۀ وم ورغلی- په دې وخت کښې زۀ هم د غسې ناروغه شوم لکه دا اوس بيا وروڼو ډاکټر ته بوتلم خير دا ډېره اوږده کيسه ده.

بل وخت مې واورېدو چې هغه کاکا (د جميل بابا) ناروغه شوی دی - زۀ ور روان شوم چې ورغلم دی ماځيګر د ماجت د ېوال ته يوازې ناست وو چې زما توخ شو، دۀ پر سترګو لاس ونيوو، زما په لوري يې کتل- زۀ چې ور ورسېدم و سره کښېناستم- غېږ مې پر وګرځوله- د روغبړ په وخت کښې يې ږغ وپېژندلی- له روغبړه پس يې وخندل "زويه! زۀ خو اوس په سترګو ډېر تپ يم - اوس چې راته ناست يې هم دي مخ ښۀ نۀ شم صحي کولای، اوس مې دي هم ږغ وپېژندلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ څنګ یې؟ـ زویه! وامې ورېدل لېونی شوی دی ـ اوس څنګ یې؟". یو ګړی چپ وو بیا یې وخندل.
"زویه! تهٔ نهٔ یې لېونی، لېوني دوی دي".
زهٔ به یوه کیسه درته وکړم ـ زهٔ په لېویز کښې د بل پر ځای بازګیر وم ـ په هغه وخت کښې د پیاده بازګیر لس روپۍ وې، د سپارهٔ (هغه چې آس یې درلود) شل روپۍ وې. په هغه وخت کښې لارۍ پیدا کېدې یوه یوه.
هغه لارۍ به زما په خیال په هیندل چالو (ستارټېدې) کېدې ـ د هغه وخت سرکار زموږ د خان دوکسه په یو کېس کښې نیولي وو چې اختیار تول له پولټیکل سره وو ـ کله چې وخان ته خپل وس ور تمام شو بیا یې د قام پر سپین ږیرو زغ وکړ چې تاسو تول په یو وار ور شئ ـ دا پولټیکل ته به سوال وکړئ که یې دا خلګ را خلاص کړو ـ خان لارۍ راغوښتې وه، تحصیلدار موږ دوه نوکران په دې لارۍ کښې کښېنولو ـ لارۍ روانه شوه ـ د هر قام مو یو یو مشر را تولاوهٔ ـ بېخي ډېر خلګ وو چې د یو مشر کور ته ورغلو ـ دا وخت د ماپښین د لمنځ وو.
ستا به نو ځهٔ په یاد وي ـ په هغه وخت کښې خو د چا په کور کښې د ومره لوښې نهٔ وو ـ دا چای هم د چا، چا پر کور پیدا کېدې ـ دهٔ د چای ورته وویل ـ زړهٔ مې ډېر خوشاله شو چې په چای څښلو به لږ او سا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیر لـه روغبـړه پـس هغـه سـړي لـه کـور اوبـه راوړې ـ بـدنې لـړوې مـوږ پـر وار اود سـونه وکـړو، لمنځونـه مـو وکړوـ یو یو راتلو کښېنستو چې راپوره شو.دهٔ وویل
"خیرګډیه ! بیا څنګه راتول شوي یاست"؟.
چا بـه ویـل تـهٔ وراسـه ورتـه وکـړه ـ چـا بـه ویـل تـهٔ وراسـه ورتـه وکـړه ـ اخیـر یـوهٔ سـپین ږیـري د خـان کیسـه ورتـه وکړه.
دهٔ لاس لـه خـولې واخیسـتو چـې څـهٔ پـر خولـهٔ ورتلـو هغـه یـې ویـل ـ اخري خبره یې دا وه "دلګـانو ! مـا تـول عمـر لاس چپـه نیـولي وو چـې خدایـه ! تـهٔ یـې ور پېښـه کـړې ـ اوس خـدای ور پېښـه کـړې ده، دوی دلګـان را روان دي خیـر یـې غـواړي ـ ولاړ ېـږئ ـ پـه خـدای کـه مـو تـر مـا بلـه بـلا پیـدا کړه"ـ کورتـه یـې ور دیغ کـړو "دا چـای مـهٔ راوړئ ـ د کلي ماشومانو ته یې ور کړئ".
مـوږ تـول سـاړه سـاړه راروان شوـ پـه لارې تولـو ویـل "دا دلـه خـو لېـونی دی"ـ چـا څـهٔ ویل، چا څـهٔ ـ خـو چـې وخـت تېرېـدو زهٔ چـې پـه دې پـوه شـوم چـې "هغـه سـړی نـهٔ وو لېـونی، لېـوني مـوږ وو" بیـا یـو ګـړی چـپ ناسـت وو ـ چیتایې په ژړغوني دیغ دا سي ماته کړه.
د زهیرو زړو پـه حال
مهٔ کې خبر مسمانان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کښې ملا ماجت ته راروان چې ما د رخصت لاس ور کړی "کاکا ! د خدای په امان".
دهٔ بېخي ډېر د شپې سټ وکړو ــ ما خپل عذر پېش کړو چې را روانېدم دا کاکړی مې په دې خاطر وویله چې کاکا مطمینه شي چې دی زما په خبره پوه شوو.

د زهیرو زړو دوا دی
باد راوالوت له خوا ستا دی

زهٔ چې له کاکا څخه را روان شوم ــ په لاره مې تر کوره پورې د ډوب د سنز خپلو غاړې په لوړ ږغ ویلې

یو سنزر دوولس زویان
پر ګوسه تل اوري باران

دباښې دغره پر سر
نازک به جنګ کاوی اېکر

د نازک دوبی دورې دی
سیستان سوړدی که ناهېل دی

لیانازک پر سیستان لوړدی
ډوب یې خلاص کی که لیا اړدی

دبنګل په مرګ خبرسو
ډوب له بیا فرنګیان ترسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روزې اختربـــــه راسي
ســپرکۍ څوک به د راباسي

بــنګل مــړ ظـریف تــړلی
پـرړوب غــردی نــړېـدلی

پـــرشنکۍ د انــورپــل دی
بل یې سپین ګل بــاروړل دی

پـرشنکــۍ بـه نــــه ختې
ګل بــاروړودلـــه بـه راتلـې

سي شنکــۍ تــانــه یې کښه
ګل بــارو ســپوروی کــه پیاده

ســپینه خــولکــه پیالـــه
پـــراوبـــونا سته بخت نامه

قــام د پـرې سي پـــر نیمي
بخت نامــه مچ لـه ورې پېکي

ســورد مــړکی سیک زخمي
بختنامې خــان د کی غازي

خـــود ده بې تــراوس مــړونه
بختـنامې ســره کــولا سونه

وزیـــرخـــان یای مه ورځئ
پـه کوړم کي بوی دی دبېړۍ

زه یې وئیستم لـه تــاخـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیـــرخـــانـــه امېل واخـــه
بـــازدنـــه یـــوړی ترټـــاکه
پښې دمـــاتې سه بـــوراکه
د نیلي کـولـــمې د پـرې کې
بـــازه لانـــدې رســـالې کې
بازېې مـرکې جـــنو کښېنه
ملغی مـــه وره دروازې لـــه

میمي تـول کـه خپل هلکان
دویم کارتوس ورکی شیرجان
تـرېې کی د ږوب تـــرمـــیان
دمچ پانسی لـــه ورې شیرجان
د شـــیرجـــان د پـــانسی نـــاره
خـــواره ســـــوې زړیـــنې زاره
مـــامـــه جـــانـــه نـــه راځې
یاغي څنگل مامتې ســوې
د نـــــواب پـــر څنگ بـــه تلې
ډنگـره نیم سنزرخـــېل وې
شـــین مـــوټـــر په رود به تلی
شـــهزاده غـــــرونـــرېـــدی
ږوب لـــه رالـــه پـــرنـــامـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګرېزيای غوارم شهزاده
نه پرولنګ سته نه پرکور
پرکمه روند زرغونې يوړ
په ګرنګ راوختم
دروب په ديدنه مرېدم
دعوه ګيرد کښېنې غلي
روب کلا سيف الله لولي
يو اختو بل شېرعلي
دواړه مضبوط مرګيان دی
اختو مړ شېرک بندي
پر روب لاړی بې پروا ځي
سپيني خولې ژړ چارګلان
رالې روبی د خراسان
راکوې به خوله ضرور
نه يې د روب د نواب لور
يو ننګرد ميا سخي دی
بل په روب کې د لوني دی

له دې غاړو پس چې راپورته شو- سترګې يې له اوښکو ډکې وې.

**لبوني**: "مرې که يې وژنې! کاش! چې دوی له دا سي پاکو ميئتو سره بې انصافي لا مه وای کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســـتابه دا خیــــال وي چـــې دی خــــود ســــنزرخېل دی ـــزۀ سنزرخېل نۀ یم خو د سنزرخیلو سیمه یم.
دوی وای"یــو خــت د یــو بــل خېــل ســرﻱ دا غــاره خــود د سنزرخېل له خولې اورېدلې وه

یــو سنزر د ولس زویــان
پر گو سه تل اوري باران

دی چـې لــه هغـــه روان شــوي وو پــه لاره یـــې څــو واره دا غاره په لوړ ږغ پورته کړه

یــو ســنــزر د ولــس زامــن
پر گو سه تل باران ورېگي

څو څو واره به یې وویله، نۀ سره سمېده ـ اخیر یې وویل "هغـه سـنزرخېل ماما څۀ وړ ویلـه چې دا سې خونـد بـه یـې پې وکړو".
پـه دې وخت کښـې دروازه خلاصـه شـوه ـ هغـه ترکـی نرسـه دننه راغله.دی چوپ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

(14)

ترسه چې ووتله نو ما ورته ویل"یاره! هغه خپله کیسه راته وکړه. تا کیسه په بله خوا بوتله. دا غارې مارې، ستزرخېلی، دا بیا چیش دي. هغه ستا د لېونې جانان کیسه.

**لېونی**: "مرې که یې وژنې! دا دي ښهٔ وکړو. هغه خو مې بېخي له یاده وتلې وه. پرکوم ځای پاته شوه"؟

ما کیسه ور په یاد کړه.

**لېونی**: "مرې که یې وژنې! که زهٔ پر بله خوا تلم. راګرځوه مې خو درته معلوم یم چې په بجو کښې یې نهٔ یم".

**لېونی جانان**: "مرې که یې وژنې! یو ورځ بریال د موځې ماما دوکان له راغلی ویل یې"ماما! دِ پر د بغت مو کړی دی. خوښه دي نهٔ ده چې په سېل لاړ شو. زمونږ باورې چې له ښار څخه یو څو کلومېټره لرې ده هغه به هم ووینو. یو به چکر شي بل به لږ وخاندو. هغه د شپون مېموري به هم په ښه(ایل سي ډي) کښې در ښکاره کړم. ما خو خپله کتلې ده خو غوارم چې تاسو یې هم وګورئ".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو ورسره خوښه کړه.

ښځه ولاړ ماخیګر بریالی راغلی.موږ ورسره روان شو چې تر ښار ووتو، شا و خوا شینګښتي خوره وه. تازه تازه هوا، سړک د باغونو په منځ کښې تېر شوی وو. بریالي موټر سم د سکو (کیشپ) په قدم روان کړی وو، نهٔ د سوی په قدم. د سړک له اړخ سره د اوبو لښتی بهېدلې. د اوبو شوړهار د موټر په ږغ کښې هم اورېدل کېدو. ځای ځای به ښځې پر تالاب ناستې وې چې موټر به یې په نظر شو نو ژر ژر به یې د خپل پړوني څاک ونیوو.

هر ځای چې به ماشومان ولاړ وو، چا به لاسونه ښورول، چا به د موټر د تېرېدو په وخت کښې نارې را پسې وهلې. لېوني جانان به تر ډېره پورې تر شا پسې کتل. موږ به پر لېوني جانان خندل. لېوني جانان او ماما به موږ دومره وخندولو چې پر تشو به مو درد شو.

په تلو تلو کښې بریالي موټر ښي اړخ ته پر یوه کچه لاره وګرځاو. دغه سړک که څهٔ هم کچه وو خو ږغل یې هم پر هوار کړی وو. دوره یې نهٔ کوله.

له دې ځای څخه د بریالي باغ شروع شو. په باغ کښې یې د سړک له یوه او بله اړخه ډېر ښایسته ګلونه ینبي وو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه راکښته شو ،د ګلونو ښایسته خوشبویي داسي ښایسته ځای چي تیار پارک وو. د ګلونو په منځ کښي چمن وو. بالښتان پکښي پراته وو. موږ هم هلته کښېنستو.د دوی کښي (بزګر)چای راوړلي.بیسکوټونه او بادام هم ورسره وو.

لږ وخت پس د بریالي پلار هم په باغ کښي تللی وو چي راغلی یوار یې لا د موټر په خوا د تلو هڅه وکړه، بېرته راوګرځېدو. خدای شته زهٔ پرېشانه شوم چي دغه بیا څنګه دلته راغلی دی.؟

دهٔ تر رارسېدو له مخه خندل.له موږ ټولو سره یې روغبړ وکړی ویل یې"زرهٔ خو مي غواړي چي ستاسو په شان لټي وکړم خو څهٔ وکړم.یو وخت تېر دی بل زموږ لوي اجازه نهٔ راکوي.ستاسو لېونتوب او لټي بېخي ډېر خوند راکوي.

خو د خپلو له وجي نه شم درسره کښېنستای بیا به وایي چي دی هم لېونی دي.

دا بریال ډېر بې لارې هلک وو. هغه هم د دهٔ قصور نهٔ دی،قصور زموږ دی . موږ خپل ماشومان د علاقي له عامو خلګو سره نهٔ پرېږدو.د دوی تربیت داسي وشي چي بیا زموږ له اختیار څخه هم ووزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریالی چې له کومه وخته ستاسوسره ملګری شوی دی،له هغه ورځې یې بیا داسې حرکت نۀ دی کړی چې زۀ یا یې مور په خفه شو. یو سهار وختې راپورته کېږي لمونځ په جمع کوي. سبق له پروخت ځي او پروخت راځي .هان خو دا خپل ترېرونه او همزولي ځیني ناراضه دي. ورته وايي"دا لېونیان او لغړیان څۀ کوې"؟

خو دی یې داسې ځواب وکړي چې هغه په ځان حېران کړي".

ما پوښتنه ځیني وکړه.

"حاجي صیب! دا ولې تاسو خپل ماشومان له عامو خلګو سره نۀ پرېږدی؟".

**حاجي صیب**: "زویه! بس خپل غرور مو په غاړو کښې لوېدلی دی. نور څۀ دي".

د بریالي پلار ویل تاسو خپل مجلس وکړی.زۀ ځم.مونږ رخصت ور کړی.

مونږ بېرته راغلو خپله ګپه مو شروع کړه.لېونو او موټې ماما ښۀ وخندولو. په دې وخت کښې د بریالي دوی کشي (بزګر) شنې چای راوړې . مونږچای څښلې نو ما له بریالي څخه وپوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"بریالیه! په تاسو کښې دا پېښې ولې نهٔ کېږي؟".

**بریالی**: "یاره! ډېر چالاکه یې. تهٔ بیا اوس له ما انټرویو اخلې. څه ستا خوښه ده!

په اصل کښې خبره دا ده چې موږ خپلې پېښې ځای پر ځای حل کړو. ستاسو رنګه خو نهٔ یو چې یو را شي وایي "پلانکی حق نهٔ را کوي بل را شي پلانی ناحقه دی". هلکه خو له پلانکي سره په یو بل چا حساب وکړه. موږ ته د څهٔ پاره راځې. موږ خو له خدایه دا غواړو چې یو څوک راشي بیا یې نو موږ ته را پرېږده". ویې خندل.

"یاره! تر دې پورې یوه خبره را په یادشوه. یوه ورځ ډېر خلګ را تول شوي وو بابا ته مې راغلو. یو دوو کسانو یو بل ته د ورسې کولو ست وکړو. اخر یوه قسم وکړو هغه بل وینا شروع کړه.

د هغه په وینا کښې کله یو ورو غورزه کله بل د بل په هغه کښې ، چا به ویل "پلانکی او پلانکی ستاسو مخالف دي، چا او چا به بل په ګوته کړو". یو سړی چې تر اخره چوپ نا ست وو.

بابا هغه ته وویل "پلانکیه! تهٔ یې په زوره راویستلی یې. که تا دوی راوستلي دي؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه سړی یوه ګړی چوپ ناست وو بیایې ویل "مشره ! که رښتیا درته ووایم راغلي خو په دې وو چې له تا سره پریو څو قومي خبرو وږغیږو لېکن خلګو خبره څهٔ بلې خواته بوتله.
زهٔ به څهٔ داسې خبره درته وکړم. تهٔ داسې وکړه چې دا ساده خر پر اولس چې پوندي یې چاودلي وي، ږیري یې له خاورو ډکې دي، دا د خان کړه. په خدای که دې د دنیا یو طاقت هم خواب وکړي".
بریالي وویل یاره داخبرې پرېږدی له دغوخبرو زه کور تنګ یم، ماماته یوڅوکپې لاوکړه داسې ښه خوند یې وکړ.
ما هم خان لړ تکیه کړی. ماما د شاه بهرام د بیب نکل شروع کړی. د ډوډۍ خوړلو تر وخته پوري نکل شروع وو. شاه بهرام یې دومره غټ کړی وو چې پوره ښار به یې پر اوږه را اخیستی وو چې په نکل کښې به د خندا ځای راغلی، لیونی جانان به پورته شو، پر پونده به څرخېدو. اتن به یې شروع کړ. په دې وخت کښې ډوډۍ راغله.
د ډوډۍ خوړلو پس بریالي (ایل سي ډي) خونې ته راوړله. سمه یې کړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپانهٔ مېموري يې ور واچوله . د شپانهٔ په مېموري کښې د کوچيو نجونو داسې عکسونه وو (يوې ښځې به مېږي لوښلې بلې به د اوبو گوډې را اخيستې وو بلې به ډوډۍ پخوله .د رمو د غرهٔ په سر کښې د مېږو او ورو وريو د رمو عکسونه،اوښان او خرهٔ په کډو بار،په سر کښې يې چرګان او واړه وري،واړه ماشومان.د شپون له يوې ډېرې ښايستې نجلۍ سره ګډ عکسونه.د شپون د شپلۍ ببل ببل رغونه خو يو دوې داسې وېډيوګانې چې ببخي د کټلو نهٔ وې)مورِ ورته حېران دريان شو.

**بريالي**:"تهٔ دا غريبان وګوره په موبايل هر رنګه عکسونه باسي . وېډيوګانې جوړوي. د دوی خو دا خيال دی چې بل څوک يې نهٔ شي ليدلای، کله چې موبايل د موبايلونو دوکان ته يوسي،هغه يې ګرده مېموري په خپل کمپيوټر کښې کښېږدي بيا يې نو په پيسو خلګو ته په موبايلونو کښې ور اچوي.

دی خوار خو لا په دې هم نهٔ دی خبر چې مېموري ريکور کېږي هم.دا تېزه دنيا ،مړي له قبرونو را باسي

يعنې ډيليټ شوې مېموري ريکور کولای شي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کښې د ماښام ډوډۍ او ترکۍ نرسه يو ځای سره راغلو. د ډوډۍ له خوړلو پس بيې څۀ ويلو لېونی جانان ولاړ شو پر کټ وغځېدو. ما هم اودس او لمونځ وکړو ويدۀ شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (15)

په هسپتال کښې مو ډېرې شپې وشوې . سهار وختي ور خلاص شو ـ زما کشر ورور روغانی راورې، کومې چې ادې زما د پاره ورکړې وې . لېونی هم را وېښ شو ـ زه پوهېدم چې زمونږ خبرې اورې

**لېونی**: "مرې که یې وژنې ! د ادې د لاس روغانی دي ـ تر ادې قربان شم . څومره بې مفاده مینه یې ده . له هسپتاله څخه چې رخصتېدو له ادې سره به وینو ـ بختوریې چې مور دي ژوندۍ ده او هم دي ګرانوي".

هر وخت چې به چای، ډوډۍ یا د خوړلو بل شی راغلی لېوني به اتن شروع کړی خندل به یې خو په دې ورځ به یې یو خل ماته بیا زما ورور ته بیا د روغانی په خوا حېران حېران کتل بیا داسې وچ شو لکه بت . تر سترګو یې اوښکې را روانې شوې . داسې ښکارېدو لکه په سوچونو کښې چې ډوب وي ـ زه په دې پرېشانه وم ما ویل "بې هوښه نه شي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروړ ته مې رخصت ور کړې، زه د لېوني څنګ ته ورغلم ور سره کېښېنستم . په خپل دوسمال مې اوښکې ور پاکولې . ده مې لاس ونيو، په اشاره يې منع کړم زما پر لاس يې خپل دواړه لاسونه وګرځول ـ ښځه ترې بېره پورې يې وژړل بيا را کښېناسته شو . په چپه خوله سره يې روغانې له چای سره وخوړې.

ما يې هم خاموشي نه ماتوله چې له چای څخه فارغه شو، ماته يې په خپر خپر کتل . يو دم يې وخندل.

"مرې که يې وژنې! نن کيسه نه غواړې؟".

ما ورته وخندل.

"ولې نه".

**لېونی**: "مرې کـه يې وژنې! وروړکه! يو ورځ زه، صالو او لېوني جانان د موځي ماما ترې ته ورغلو ـ هغه ماستر (کوم چې شاعر وو) موږ چې کورته ورغلي وو. هغه کيسه دې په ياد ده؟".

**زه**: "هو ولې نه؟. تکي په تکي مې ياده ده".

**لېونی**: "مرې که يې وژنې! بيا خو نو د بېرد کار سړی يې نو چې د موځي ماما ترې ته ورغلو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماستربندوال ناست وو اخباريې مخته خوړ ووـ موږ هم د دهٔ وخنګ ته کښېنستو .د روغبړه پس دهٔ هم اخبار سره ټول کړو ـ چای راغلې .ماما هوټلي ته وويل

"دوې چائينکې نورې راوړه .ته نهٔ وينې چې لېونو راغلی دی".

هوټل والا هم وخندل روان شو.

يو موټر سايکل چې يو ځوانکی هلک پر سپور وو، موټر سايکل يې له لېوني سره نژدې تېر کړی . لېونی را ټولوت، ويې وېرولی .د موځې ماما برش يې په هلک پسې ورختا کړی .هلک يې په ځټه کښې وويشتی.

هلک بېرته را غبرګ شو چې ځهٔ به يې ويل پر ماستريې سترګې ولګېدې .هيڅ يې نهٔ وويل . بندوال صېب ورته وويل

"زويه سری خيال کوي .موټرسايکل وي، که سايکل، که موټر په پام يې چلوي".

هلک په اصل کښې د ماستر صېب شاګرد وو ځکه يې له ماستر او لېوني څخه معافي وغوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما سوچ وکړي چې"اوس هم په ټولنه کښې د استاد او شاعر قدر شته .که ماستران او شاعران خپله ذمه واري په صحي مانا پوره کړي .پر ټولنه ښهٔ اثر لوېدلای شي".

هغه هلک هوټل والا ته زمونږ د چای روپۍ هم ور کړې وې نو بندوال ویل

"تر دې هلک پوري یوه کیسه درته کوم.

خوانان پېغلې ټېښتوي .تهٔ په دې خبر یې چې په دې کښې داسې هم شته چې خور او ورور کېږي .دا خواران په دې نه دي خبر چې زما د مور د دې له پلار سره یاري وه یا د دې د پلار زما له موره سره یاري وه او بل داسې هم شته چې د بل د بنګلې او موټر عکسونه ورښکاره کړي نجلۍ تېر باسي چې ورسره وتښتېږي .هغه د بل په خونو کښې په سوال د ژوند شپې او ورځې تېره وي.

داسې هم شوي دي یاري د یوهٔ ور سره وي کله چې د تېښتې وار شي بل ورولېږي .په شپه کښې د بل تر کوره سره لاړ شي .د بل په کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې چې په رڼا کښې سره وويني نو تجلی حقه حېرانه کښېني يا له هلک سره يوې تجلی قول کړی وي ور سره وتښتېږي بله .دا خو ښکاره خبره ده چې دا سړی دی که تجلی له عېبه نهٔ دی خلاص".

**لېونی**: "مرې که يې وژنې !درخه چې خود ېر ناوخته دی".بندوال ماما ته ويل

"تهٔ به را سره ځې .دا لېونی يو پير ته بيايو ما پېژني .تهٔ به ورته ووايې چې دا مې ورور دی"-ماما ور سره خوښه کړه.

مور هم را ولاړ شو-ماسېتر له مخه شو مور وريسې .په تلو تلو کښې يو سرای ته ورد ننه شو-د يوې خونې ومخ ته څو ښځې او نارينه ناست وو-مور هم

د دې خونې و مخ ته کښېنستو .يو يو د ننه ورتلو-مور د خپل وار په انتظار کښې ناست وو-دې تنداري ته موکتل چې يو ځوان او يوه ښځه به راغلو هغه خالي خونې ته به تېر شو-نور چې به راغلو هغې بلې خونې ته به تېر شول .يو وخت به

(c) ketabton.com: The Digital Library



دورې وو بيا به را ووتول .نور به هغې خونې ته ورغلو.
دا يو دوه نۀ وو لکه څومره چې د خونو شمېر ډېر وو دومره هم د دې ښځواو خوانانو شمېر وو.
زۀ:چې له بندواله مې په قصد پوښته وکړه.
"ياره! په دې نورو خونو کښې هم پيران ناست دي؟".
**بندوال**: "وروره! دا پير نۀ دی .دا يو ټګ دی د دې پير په بهانه د ښار نر او ښځې راخې ملاقاتونه سره کوي، خپل مطلب تر سره کوي".
زۀ: "تو دا پير په دې بد نۀ وړي؟".
**بندوال**:"ياره! يو خو تۀ خان نۀ پوه کوې .سر خلاص کړه ياره!".
څۀ وخت پس زمونږ وار راغلی کله چې خونې ته ورغلو- په خونه کښې يو سپين ږيرى ګردى سړى ناست وو چې مخ ته يې يو وړوکې ټيبل، پر هغه سر ببره سپين کاغذونه،قلم او دوات پراته وو ، مونږ کښېنستو.
**پير**: "دا مو څۀ دی؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



**موشې ماما**: "ورور مې دی".

**پیر**:لېوني ته وکتل ."عجبه خلک یاست چې قریب ترمرګه ورسوي یا یې تردېرو بیا یې را ولي".

**زه**:"اخوندزاده صېب اوس به خدای کوي ته به کوې".

**پیر**:"اوس به د کلونو ناروغه په یوه ورځ رابانندي جوړوې، که نه شو جوړ ته یې بل ملا یا ډاکټر ته وړې .په ما پسې به دېغېږې چې د دې سري دم او تاویزیو کار نه کوي".

**موشې ماما**:"اخوندزاده صېب! بله خواته نه ځم .پېر د ېرو وګرځېدم فائده یې نه کړه وه . اوس به خدای کوي ته به کوې".

دهٔ چې د لېوني لاس پر هغو سپینو کاغذونو برسېره کښېښودی، په قلم یې سوکه سوکه وټکاوو.ولیکه د دهٔ ناروغي.

هغه کاغذ یې له هغه نورو را بېل کړو.په خپل لاس کښې یې نیولی وو.ماماته یې باکس په لاس کې ورکړو، یوه تېلۍ ووه،تر دې کاغذ لاندې یې وګرځوه .ماما چې تر کاغذ لاندې تېلۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځوله چې کله پر کاغذ توري ښکاره شو .زما د زړۀ ترک شو،وويرېدم.

په زړۀ کښې را وګرځېدو چې رښتيا ته سره ودرېدو.

پير وخندل.

**پير**:"په دې سرې تعويزونه شوي دي .اوس به که خير وو د غويي هډ راکوې".

**ماما**:"خود يې درکوم.دی دي خدای را جوړ کړي".

يو څښت تعويزيې ورکړو.

**پير**:"دا واخله .خدای به يې جوړ کړي . پوخ تعويز به که خير وو،هغه ورځ درکوم چې غويي دي را ويستو".

چې را ووتو سل روپۍ مو پر هغه تېل کښېښودې

**پير**:به ترخه لهجه وويل.

"ډاکټر ته چې ورشئ هم فيس ورکوئ،هم د زرو روپو دوا اخلئ .که وار د شکرانې شي بيا سل روپۍ پدې".

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ را ووتو. په لارې مو له بندوال څخه د کاغذ پوښتنه وکړه.

**بندوال**: "کاغذ يې په شيدو ليکلی دی يا د پياز په اوبو.دا دومره کيسه نه ده".

**لېونی**: "مرې کـه يې وژني! دا ښځې اوس ټولې د عزت منو کورنيو وې؟".

**بندوال**: "ته څيني هغه ښځې دي چې زه دې اوس ورولم".

**زه**: "چېرې ځو؟ څنګه ورځو؟".

**بندوال**: "هغو جونګړو ته".

**لېونی جانان**: "مرې کـه يې وژني! څنګه ورځو چې نه دوی موږ پېژني نه موږ دوی پېژنو".

**بندوال ماستر**: "ته بې غمه شه. ما پرون لا يوه ته روپۍ ورکړې. دی مې پوه کړ، تاسو هسې په ما پسې راځئ".

ماستر روان، موږ ورپسې شو چې جونګړو ته ورسېدو، يو تورکی ځوان ولاړ وو. خيرنه خولۍ يې په سر وه، دی له مخه موږ ورپسې شو. په جونګړو کښې روان وو، څادرونه مو پر سرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اچولي وو چې په يوه جونګړه کښې مودوه د ښار ښۀ مشهوره کسان په سترګو شو چې تر هغه تېر شو، د دوی جونګړې ته وردننه شو- مونږ کښېنستو هغه ځوان پر خپله مور رېږغ وکړ.

**موري**: "هغه واورګی، چيري ده .ورته ووايه چې چاي پخې کړي".

ماته يې خوند نه راکاؤ- رښتيا خبره وه چې هم شرمېدم، هم وېرېدم نو مې بندوال صېب ته سوکه وويل چې "چاي څۀ کوو څو".

**بندوال**: "تۀ صبر وکړه .زۀ په چل چل کښې خپلې پوښتنې ځينې کوم .غواړم چې تاسې دا هر څۀ په خپله هم ووينې هم يې واوری".

پنځلس، شل مينټه پس يوه ښايسته نجلۍ، تک سپين انتګي، اوږدې زلفې، تور کاکل يې په سپين مخ خور وور، واړه غاښونه، دنګه ونه دا سې ښايست چې ما په خپل ژوند نۀ وو ليدلی .ښکلې جامې دا سې ښکارېدو چې دا هر څۀ زمونږ د پاره شوي وي .چای يې راته کښېښودې، واړه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخندل .هغه ځوان کوم چې يې مور راوستي وو، هغه ورته ويل.
"واورې! دغه دې هغه ځوانان ما چې پرون درته ويلي وو".
**بندوال**: "(تورکي ځوان ته) واورګۍ دې څۀ ده؟".
**ځوان**: "کور ودانه مې ده".
زۀ حېران شوم چې خدايه! تۀ دا تورکی او دا ښايسته ښځه .دې حېرانتيا مجبوره کړم نو مې ورته وويل چې "واوره له کومه ځايه ده او څوک ده؟".
**ځوان**: "واوره زما د اکا لور ده".
دې خبرې لا يسې نور حېران کړم چې څنګه کېداى شي مور يې توره، پلار يې بې خوله بيا څنګه ده واورې جوړ او رنګ له دوى څخه بېل دى .زۀ لا په دې سوچ کښې وم چې د واورې مېړۀ او مور ووتو ويل يې چې "تاسې له واورې سره ګپه وکړئ، مونږ ګرى پس راځو".زما زړۀ لا په تو پوښو شو چې دا بيا کومه معامله ده.
واورې پروني له سره کښته کاوو، بندوال ورته ويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"واورې! تکری پر سر سم کړه. مورډ هغه نیت خلک نهٔ یو، نهٔ دلته تا له د دې د پاره راغلي یو چې تا ته په سپک نظر وګورو. موږ یوا ځې له تا سره په دې نیت وینو چې له تا څخه یو څو پوښتنې وکړو. له دې خبرې سره د واورې پر مخ د خوشالۍ رڼا له ورایه ښکاریده.

دلته زهٔ هم مطمینه شوم او بندال پوښتنه ځینې وکړه. "واورې! دا خلک چې دلته راځي، په دې کښې ستا خوښه موجوده وي؟".

**واوره**: "نهٔ زما خوښه نهٔ وي. دوی پر موږ پېسې اخلي، خپله هیڅ کار نهٔ کوي. دلته خلک راولي. اوس تا ویل چې موږ داسې خلک نهٔ یو، زهٔ ډېره خوشاله شوم. دا اول وار دی چې دې جونګړې ته اول وار داسې خلک راغلو چې هغه داسې نهٔ کوي".

**زهٔ**: "واورې! یوه پوښتنه کوم، شرمېږم هم. دا تهٔ ولې له دوی څخه په رنګ جلا یې؟".

**واوره**: "دلته خو رنګا رنګ خلک راځي نو زموږ اولادونه خو به خامخا رنګا رنګ وي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واورې مېرۀ ږغ را وکړ چې ژر کوئ .تر ماښامه پورې قول خو مې نۀ وو سره کړی،نور مېلمانۀ راغلو.

**زۀ:** "واورې د دې دوو خبرو لا ژر ژر خواب راکړه".

**واوره:** "لکه څنګه؟".

**زۀ:** "يوه دا چې تا سو دا نۀ غواړی چې له يو ښۀ عزت مند سره وادۀ وکړی.

بله دا چې دلته دا خلګ راځي .په دې کښې وتاته دا درک درکوي چې دا خو د هغه سرې ورور يا زوی نۀ دی چې پرون يا هغه بله ورځ راغلی وو".

**واوره:** "د عزت ژوند به ولې خوند نۀ راکوي خو دا خپل خاندان نۀ شم پرېښودلای.

بله دا چې زموږ له دې سره کار نشته چې دا د چا زوی يا ورور دی خو دا کومې روپۍ چې پر موږ اخيستل کېږي،دا هم زموږ په ښه نۀ دي .دا دوی پر کرکانو او چرسو ورکوي".

**زۀ:** "واروې! ستا يې کور ودان چې موږ ته دې پاک خوابونه راکړو او په موږ دې باور وکړ چې موږ دا د دې د پاره نۀ کوو چې ستا سو توهين وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـا مـو عزتونـه واخلـو .دا صـرف او صـرف د تـولنې
دا صـلاح د پـاره کـوو چې لـه تاسـو سره ولـي دا سـي
کېږي؟

مـوږ هـم خپـل سـرونه پـټ کـړو چې راووتـو ،راغلي
مېلمانـهٔ هـم دا سـي خلـک وو چې ځـان يـې د بـر صـفا
صفا کاوو.

**لیـوني جانـان**: "مـري کـه يـې وژنـې ! لسـمه ورځ
مـاخيگر بـه زمـوږ هوټـل تـه راشـئ ، زمـا مېلمانـهٔ
یاست".

**زهٔ**: "ستاسو هوټل چيري دی؟".

**لیوني جانان**: "مري کـه يې وژنې ! هغـه اولـه ورځ چې
پکښـې ناسـت وم ، تـا وپېژنـدلم .هغـه چولـه چـې
کـوي زمـا مشـر ورورردی .دا چـائینکې چـې ورې
زموږ تر ټولو کشر وروردی.اوس د الله په امان".

**موږ**:ورځه پر خدای مو سپارلی یې.

پـه دې وخـت کښـې بیـا دروازه خلاصـه شـوه ،هغه
نرسـه دننـه راغلـه .لیـوني اتـڼ واچاوو.لـه اتنـه پـس زهٔ
او نرسه دواړه راووتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (16)

**لېونی** : "مرې که يې وژنې ! په تاکلې ورځ هوټل ته سره راغلو.

**لېوني جانان** :بندوال ماستر هم راغوښتی وو-تول په هغه موټر کښې سپارۀ شو چې لېوني په کرايه نيولی وو چې له ښاره ووتو ،موټر دښته ته وګرځېدو ، په شګو او پوټيانو کښې روان وو چې کله موټر ودرېدو موږ راکوز شو.

ماجت مو وليدی چې د لېوني وکور ته د ېر نژدې وو-ملا د ماجت شا ته د محراب وڅنګ ته ولاړ وو ،په غوږو کښې يې ګوتې نيولې وې اذان يې کاوو".

**لېوني جانان**: "مرې که يې وژنې !ماجت ته ځی که لمنځونه کورکوو".

**ماستر**: "کورلمونځ زۀ درکوم".

د ميلمنو خوني ته دننه شو-د ېره غټه خونه وه چار پېره نالی هوارې وې،بالښتونه پراته وو-درې څلور الماری چې له کتابونو ډکې وې-موږ لمنځونه وکړو-د کلي سپين ږيري او ځوانان هم له مولوي صېب سره لس دولس وو چې راغلو-موږ ورولاړ شو په لاس مو پر خپل وار له هرچا سره روغبړ وکړ چې موږ بېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېنستو، د لاس مینځلو اوبه هم راغلې ـ دسترخوان هوار شو ـ د ښوروا کاسې راغلې، ورسره ښې توري او سپینې غوښې هم راغلې ـ ډوډۍ وخوړل شوه ملاصېب دعا وکړه د سترخوان ټول شو.

یوه سپین سري(لېوني جانان تر لاس نیولې راوسته) د یو بل سپین ږیري وځنګ ته یې کښېنوله ـ موږ له هغې مورکۍ سره روغبړ وکړی چې کله له روغبړه پس چپتیا خوره شوه.

**لېوني جانان**: چپتیا په دې ډول ماته کړه.

"مرې که یې وژنې! دا زما مور ده چې په ټول کلي کښې په بې شرمه تر ور مشهوره ده ـ موږ ورونه د بې شرمۍ په زامنو مشهوره یو ـ دا زموږ مور کومه بې شرمي کړې ده ـ دا خو به په اخیره کښې درته ووایم او که رښتیا درته ووایم زۀ دې بې شرمۍ مور ودې کار ته مجبوره کړم یا هغې ورځې چې د یو چا جوګۍ اور اخیستی وو ـ چا خاوري پر غورځولې، چا اوبه ـ ښځو چیغې وهلې چې د شپږو میاشتو ماشوم دننه پاته دی ـ خلک د پر ولاړ وو خوځوک د اور او هغو کارتوسو له وېرې دننه نه ورتلو(کوم چې په صندوخ کښې پراته وو)ـ ما توکل کړی پټو(څادر) مې پر ځان راتاو کړو ـ څو بالټۍ اوبه مې پر ځان تویې کړې، په بسم الله سره وردننه شوم ـ هغه د شپږو میاشتو ماشوم مې روغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رمتې تر اور راویستو چې کله هغه ماشوم مور په غېږ کښې ونیوو.

زۀ کښېنستم د دغې جوګې په اور کښې وماته تول پښتون ښکارېدو او دا ماشوم یې نوی نسل ـ دا چې په تولنه کښې مې خان لېونی کړو، سبب یې دا وو چې له هغې ورځې دا تولنه وماته هغه جوګې ښکارېده ـ نوی نسل هغه ماشوم او دا کار بې له لېونتوبه کېدو هم نه ـ نن که زۀ د کلو په لېونتوب کښې روغ سر کور ته راغلی یم ـ هغه د دې دوو کسانو برکت او مرسته وه چې نن یې زۀ د احسان بدل نۀ لرم ـ تش په شکریه یې عذر کوم ـ دا هغه کسان دي چې نه ستړي کېدونکي دي ـ دې دوو کسانو له ما سره په دې کار کښې ډېرې ستړې یوړې او ډېرې بدې بدې خبرې یې وخغملې.

دې دوو کسانو ته نۀ ما خواست کړی دی، نۀ مې څۀ معاوضه ور کړې ده ـ کله چې زۀ په لېونتوب کښې دې دوو کسانو وپېژندلم نو زما یقین شو چې په تولنه کښې سړي شته، اعتبار نشته ـ خیر را به شو ښځو ته ـ له هر چا چې مو پوښتنه وکړه یا یې اوس له تاسو کوم چې ښځه څۀ ده؟ ـ هغه به ووایي چې "ښځه ډېره عاجزه مور، خور او لورده". دا هریو درسره مني.

که ورته ووایې نن مورېدا درې کسان له تاسو دا پوښتنه کوو چې له هغو عاجزو او مظلومو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدکېږي ـ ظلم او جبر ورسره کېږي ـ خلک يې تېرباسي ـ پنځـه پنځـه يـوې ښـځې تـه ورځـي ـ پـه عکسـونو او وېډيوګانو يې د ښار دوکانداران کاروبار کوي ـ تول په خبر يو ـ نن نه خان شته، نه ملا، نه ملک، نه پير، نه فقير چې راپورته شي چې دا ولې کيږي.
ستا سو به ياد وي چې کله دلته جنګ راغلی ـ د جهاد په نوم چندې کېدلې چې مسلمانې خوندې مـرې ـ مسلمانې مندې سر تورې شوې.
نن هغه خلک چيرې دي چې راشي ويې ګوري ـ دا خو هغه خوندې، مندې نه دي چې د جوماتونو په دروازو کښې ناستې دي خيراتونه غواړي ـ دا هغه دي کـه نـورې چې بلـه زه د بلې ژبې او بل مذهب نه کوم ـ انسانيت خبره بېځې نه کوم.
دا د هغو مسلمانو مجاهدينو خوندې او مندې دي چې نن پـه لځو پښو زما او ستا پـه بازارونو کښې خيراتونه غواړي".
دلته يې سترګې لـه اختيـاره ووتې ـ سر يې کښته کړو ـ څه وخت پس يې له اوښکې ډکې سترګې راواړولې.
**لېـونی جانـان**: "تـه دې بدبختـه قـام تـه وګـوره ـ ښـځه يې ډاکټره، استازه نـه ده خوښـه ـ سـوال دې کوي، سـوالګره پروا نـه لـري ـ پـه دې وخـت کښې پېر، ملا، فقير، خـان او خوار تولو سترګې پټې کړي دي ـ دا ښځه نه ويني ـ ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـه یـې ولیـده بیـا خـو یـې ذمـه واري جـوړېږي چـې د دې خوارې ښځې سره مرسته وکړي".

بیـا یـې لکـه ماشـوم پـه چیغـو چیغـو وژړل چـې کلـه یـې اوښکې پاکې کړې.

**لېوني جانان**: "یـو بلـه خبـره ـ نـن مـې دا خبـره پـه غـور واورئ ـ کـه نـن د یـو څـو کسـانو د لوټـو او خونـدو عکسـونه پـه یـو او بـل دوکـان کښـې خرڅـېږي یـا یـې ګـوري ـ تـهٔ پـروا نـهٔ پـه کـوې، زهٔ پـروا نـهٔ پـه کـوم نـو سـبا زمـا او سـتا واردی ـ پـه خدای کـه خانـه تـهٔ پاتـه شـې یـا مـلا تـهٔ ـ کـه چیـري ښـځه د خپـل حـق غوښـتنه کـوي ـ مـلا تـا د هـر کـور و سـړي تـه سـوتې پـه لاس ورکـړی ـ هغـه د خپـل کـور پـه دروازه کښې ولاړ دی، وښځه ته د وتلو اجازه نهٔ ورکوي.

نـن هغـه خلـک ولـې تـا تـر لاس نـهٔ نیسـي چـې دا بـدمرغۍ او بدنامۍ ولې پېښې شوې.

نـن زهٔ وخپلـو منـدو تـه داوایـم چـې پـه کومـه ورځ سـتا میـړهٔ او مـلا صـېب سـوتې وغـورزاوهٔ ـ د دود او د سـتور لمنـه یـې ونیـوه ـ پـه هغـه ورځ کـه دي لـور سـوتې نـه شـو را اخیسـتای ـ تـهٔ یـې را واخلـه ـ و مـلا او خپـل میـړهٔ تـه لیکـه کـش کـړه چـې نـن نـو پـه خدای کـه زمـا لـور پـه پټـو سـترګو پـه لکونو روپو خرڅه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېري بیا هم جرأت وکړنو دغه حال به یې وي لکه زما د مور چې نن یې هم زامن د بې شرمۍ په نوم پېژندل کېږي.

وهغه بله خواته بیا ازاد خیاله ګډي دي ــ وايي چې "وښځه ته دومره ازادي ورکړئ چې څهٔ کوي هغه دي کوي".

دا غوښتنه دلته هغه خلک کوي چې خپلې خوندې، مندې په څو پردو کښې نغاړي چې کله یې له یوه کوره تر هغه بله بیايي یا یې په پرده کښې د موټر په تورو شیشو کښې تر ډاکټره وړي بیا وډاکټر ته هم وايي چې دا نور خلک وباسه.

اوس که ښځې یو فیصد اذادي اخیستې ده ـ هغه هم دې اذادو خیالو نهٔ ده ور کړې ـ دا اذادي هم ښځو ته دوران ور کړې ده ــ په یو فیصد اذادي کښې ښځو دې ټولنې ته نهه نوي فصیده بدې او بد مرغۍ راوړي دي.

یوه بله خبره، که مو اوس ښځه په پړونې کښې نغښتې ده یا مو په څلورو د بوالونو کښې تړلې ده ـ دا زما یقین دی چې ښځه زیاته اذاد بڼې ـ ترل یې زیاته د چا د وس خبره نهٔ ده ـ که د څلورو د بوالونو په میان کښې نغم (ګډې) ور وکاږي لا هم.

زهٔ: ، بازک(باومحمد ) صالوجان دا درې د دواړو ډلو مخالفه نهٔ یو بلکې تجویز دی ـ دلته هغه د چا خبره چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای "پر خپله ښځه د فولادو د ېوال راګرځوي د بل پر ښځه يې د شګو د ېوال نۀ دی خوښ".

دا ناروغې زموږ په درسته ټولنه کښې شته - دا بيا بېله ده په يو چا کښې لږ، په چا کښې ډېره ليکين خلاص نۀ ملا، نۀ خان، نۀ پېر، نۀ فقير او نۀ مزدور دی.

د اختلاف حق هم تاسو لری هم يې موږ - خبره د دې خپلې ټولنې کوم - زموږ په خيال تر ټولو ښه خبره دا ده چې په ښځه ازادي وپېژونو - زموږ په ټولنه کښې بايد وښځې ته د دې د صلاحيت مطابق ازادي ورکړل شي او تعليم يې لازمي شي - له دې سره سره دا اختيار ور کړل شي چې ويلايي شي، زما دا سړی خوښ دی - تاسو ورشئ ويې ګورئ چې ژوند او کردار يې څنګه دی بيا ا ميد دی چې ټولنه پر سکونه شي.

اوس راځم د خپلې مور بې شرمي ته - زما مور تر پنځمه سبق ويلی دی ځکه دا بې شرمې ځينې وشوه - دا کليوال ناست دي - په موږ کښې دا دود وو چې هر چا به وادۀ وکړو - دريمه شپه چې به سره يو ځای شو، مېړۀ به يې اول قسم ورکاوۀ چې له چا سره خو دي ياري نه ده کړې - هغې که هر څۀ کړي وو، مجبوره وه قسم يې خوړلو.

موږ په کلي کښې د بې شرمې په زامنو مشهور وو چې کله زۀ په ښۀ او بد پوه شوم، له موره مې پوښتنه وکړه -

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هغه ده مخامخ ناسته ده ـ هغه سپین ږیری چې یې وځنګ ته ناست دی (هغه مې پلار دی) ـ مور کې راته وویل "زویه ! کله چې زهٔ راواده شوم ـ پلار دي د ریمه شپه قسم راکاوهٔ چې له چا سره خو دي یاري نهٔ ده کړې".
ما ورته ویل "تهٔ اول قسم وخوره ـ تا خو به یاري نهٔ وي کړې" ـ دی وروتو بیا یوه میاشت پس خپل پلار راوستو ـ له هغې ورځې تولې ښځې له دې عذابه خلاسې شوې ـ اوس مورې دې د رو کسانو د دې تولنې ناروغي تر خپله وسه در په ګوته کړې ده ـ علاج یې اوس ستاسو کار دی".
لېوني وماته مخ راواړاوو ستا به دا خیال وي چې بازک په کیسه کې ځنګ راګډ شو؟
بازک زمانوم دی چې وتاته په هسپتال کې پروت یم ته مي لېونی بولې
په دې وخت کې دروازه وټکېده زه ورولاړ شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(17)

سهار وختي را پورته شوم، اودس او لمونځ مې وکړدی مې هم را ویښ کړی ، راووتم هوټلي ته راغلم د چای مې ورته وویل ـ مخامخ بېکری‌ته ورغلم یو ښهٔ کېک مې راواخیستو بېرته راغلم ـ لېوني هم اودس او لمونځ کړی وو ،تلاوت ته ناست وو ، قرآن مجید یې په دو سمال کښې ونغښتلو ،لوړ یې کښېښودو ،بېرته راغلی پر کټ چوپ چاپ ناست وو.داسي په سوچونو کښې ورک وو یو وار یو وار به یې لاس لاهم وځنډلی ـ کله چې هوټلي چای راوړلې،دروازه خلاصه شوه،دی د سوچونو له دنیا را غبرګ شو.راغلی له ما سره پر خپور شوي کالي کښېنستو بیا یې هوټلي ته وویل

"یاره ! یو دوې چائینکې نورې راوړه،روپۍ خو یې هسې هم بل ادا کوي ـ ما چای واچولې ـ دهٔ ژر ژر یوه پیاله ورپورته کړه.

**زهٔ**: "دا کېک در واخله".

**لېوني**: "مرې که یې وژني ! ما خپل کار ته پرېږده".

پیاله یې کښېښوده،ولاړ شو ،پر یوه پښه وځرخېدو.

واړوئ،واړوائ،لاسونه راواړوئ راواړوئ

سپین مړوندونه په اتڼ کښې خوندکوینه

نجونو واړوئ ،راواړوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرته راغلی چای ته کښېنستو. مور هغه چای څیښلې وې چې هوټلي نورې چای راوړلې.

له هوټلي سره سمه هغه ترکۍ نرسه هم راغله. دې د بېرته وتلو هڅه کوله چې لېوني ور وغوښېدو، ترلاس يې ټينګه ونیوله، راغبرګه يې کړه. دا هم له لېوني سره سم راغله له مور سره پر هغه کالي کښېنسته. لېوني خپلې ناتراشې کولې، ما او دې پر خندل.

ما له ځانه سره دا فکرکاوو چې "ته دا پرېدی ښځه وګوره، له مور سره دا سې مطمينه ناسته ده لکه مور چې دواړه د دې وروڼه یو".

نرسې چې کله خپله پياله ور پورته کړه، یوه خاشه يې له کېکه هم ورماته کړه.

**نرسه**: لېونولالا ! نن ډېر خوشاله راته ښکارې".

**لېوني**: "مرې که يې وژنې ! روغ رمټ شوم. نن به ماته رخصتي راکوې".

**نرسه**: "لالا ! دا خو د ډاکټر کار دی".

**لېوني**: "مرې که يې وژنې ! ډاکټر خو به نن راځي".

**نرسه**: "هو لس بجې پر وارډونو راوند وهي".

**لېوني**: "مرې که يې وژنې ! ستا يې په مخه ښه، ستا يې په مخه ښه. زه نن ستن نه لګوم".

**نرسه**: "ولې لالا !".

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لېونی**: "مرې که يې وژنې! بس زۀ روغ رمټ يم".
**ترسه**: "لالا! دا يوه ستن لا پاته ده، دا لاولګوه".
**لېونی**: "مرې که يې وژنې! درته و مې ويل چې زۀ نن ستن نۀ لګوم".
**ترسه**: "سمه ده".
زه"ترسې ته خوره! يوه پوښتنه در څخه کوم- تۀ چې دې پرېدو خلګو ته راځې، ولې و برېږې نۀ؟".
دې دومره په زوره زوره وخندل، کله چې يې له سره لوېدلی سپين پړونې بېرته پر سر سماوو.
**ترسه**: "لالا! سږ مې څلېرويشتم کال دی چې نوکري کوم".
د دې خبرې له کولو سره سمه ووته.
**لېونی**: "مرې که يې وژنې! ستا څۀ خيال دی- زۀ لېونی يم که دا خلګ؟"- **زۀ**: "تا دې خدای نۀ کړي لېونی. لېوني دوی دي".
لېونی راوغورځېدو پر مخ يې مچ کړم"وش! تۀ وماته چاراکړې"؟
اوس مې د برې شېپې او رځې ورسره شوې وې- د لېوني له ناتراشو سره بلد وم.
**زۀ**: "تر څۀ پورې دې وويل چې زۀ لېونی يم که خلګ"؟
**لېونی**: "مرې که يې وژنې! مابه وخلګو ته وويل چې ښځه دا سې هم کېدلای شي يکې يوازې. د ماشومانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشین نهٔ ده نهٔ یود........................

زهٔ: "یاره! قصور په ښځه کښې نهٔ دی- قصور په نر کښې دی . د ښځې په هره بدکارۍ کښې د نر لاس وي او بل ښځه تر نر ایمانداره هم وصیله ناکه او مینه ناکه ده".

چې کله لس بجې شوې، دی را ولاړ شو- د هوټلي راوړی پتنوس یې پرمخې واړاوو.

**لبونی**: "مرې که یې وژنې!"- زهٔ غزل وایم، تهٔ به یې کسر راسره نیسې".

زهٔ: "سمه ده.دې ته مې بېخي فکر نهٔ وو"- ډېر ښهٔ ږغ یې وو چې غـزل یې پوره کړه.

چـا لـه بـه ورشم تـول بدن مه پاړې پاړې
مورې دا د اوس ډاکټران سرې کښې کاړې
اول خـونه راځي نـوبته سفارش نه لـرم
اوس تېروم ځان په رشوته سفارش نه لـرم
صورت مـه اوراخلي لمبې باندي بلېږي
چـالـه به ورسم تـول بدن مـه پاړې پاړې
مورې دا د اوس ډاکټران سرې کښې کاړې
د دروازې چوکېدار هم دی سترګې وهي
د سپینو خولو خریدار هم دی سترګې وهي
لکه مجنون له خندا شین شین راته کېږي
چـاله به ورسم تول بدن مه پاړې پـاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موري دا داوس ډاکټران سري کښې کاږي
په دې وخت کښې دروازه خلاصه شوه، يو ډاکټر څو نور کسان، هم دننه راغلو.
ډاکټر ماته غصه وکړه ما خو ويل چې يو دی لېوني دی
..........

اخر يې يو بل ته وويل"دوی اوس اوس فارغه کړه ـ له هسپتاله يې استېديو جوړه کړې ده"

**لېوني**: د ډاکټر مخته ور وغورځېدو ـ "مرې که يې وژنې! ډاکټر صيب! دا چېرې ده؟
زۀ په کښې داخلېږم".

**ډاکټر**: "تر هسپتال دباندي يې پوښتنه وکړه".

**لېوني**: ډاکټر لا ولاړ وو ،لېوني زۀ ترلاس ونيوم ،کش يې کړم. "درځه هغه ځای ته ځو. دا ډاکټر صيب چې ياد کړو".
ما له کوره راوړي شيان سره راټولول، ډاکټر ووت ـ زۀ خو د لېوني په رخصت مخکې خوشاله وم خو د ډاکټر خبرې د ېر بد تاثير راباندي وکړی.
ډاکتر ووت ،دۀ ماته حېران کتل ـ بې اختياره مې تر ستر ګو اوښکې راغلې. دا سې پرېشانه شوم لکه له چا څخه چې سکه ورور ببلېږي. ما ويل "که دا مغزي ماتی لاړ، زۀ به څۀ کوم". مخ مې په بله خپنې واړا وو.

**لېوني**: "مرې که يې وژنې! انديواله ولې دي مخ واړا وو ؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په لاسونو پټې اوښکې پاکې کړې، مخ مې ور واړاوو. دۀ هغه بشتره په شا کړه، ما هغه نورشیان راواخیستو-دی له مخه، زۀ ور پسې شوم چې تر هسپتال راووتو، رکشې ته مې اشاره وکړه-رکشه راغله بشتره او نورشیان مو ور وخېژول، موږ هم ور وختو.

لېونی: "مرۍ که یې وژې ! استاده پر دې لاره درځه".

رکشه چې په ښار کښې لږ لاړه.

لېونی: "مرۍ که یې وژنې ! دلته یې ودروه، کوز شو-مرۍ که یې وژنې ! اژر راځم".

موږ ورته کتل دی هغه د مصالې وړوکې دوکان ته ورغلی چې و مخته یې بېخي د ډېر تېپونه له مصالې پېمانه ښکارېدو-له هغې خوا چې راغلی ، رکشې والا ته یې وویل.

**لېونی**: رکشې والاته" سیده پردې سړک درځه".

**لېونی**: "رکشه ودروه".

موږ ورته کتل لېونی کوزشو هغه د مصالې وړوکې دوکان ته ورغلی چې و مخته یې بېخي د ډېر د مصالې ډک تېپونه پراته وو له هغې خوا چې راغلی

یوه توره د پلاستیک لوته یې په لاس کښې وه.

**لېونی** : رکشې والاته" سیده تانې ته درځه".

تانې ته چې ورسېدو ، دۀ له هغې لوتې خپل شناختي کارډ راویستو ، تانې ته ورغلی.له هغې خوا چې راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



"مرې که يې وژنې !دا يې تۀ د تانې لـه کـار څخـه خلاص۔ اوس نو درځه چې ستا مورکۍ ووينو".
رکشه روانه شوه، ما لاروروښودله،کورته يې ورسولو.
ما لـه رکشې شيان کوزول،دۀ پـه کوڅـه کښـې اتڼ وا چـا وو چې شيان مې کورته يوړل،راووتم ورته و مې ويـل "راځـه تـۀ څۀ کوې چې ولاړيې"؟
**لېـونی**: "مرې کـه يـې وژنـې !مـورکۍ د ميلمنـو خـونې تـه را وغواړه".
دی
مې خونې ته بوتلی.مورکۍ مې راوغوښته،مورکۍ راغلـه
.
**لېـونی**: "مرې کـه يـې وژنـې !تـۀ لاړ شـه ،زۀ مـورکۍ تـه دوې ،درې خبرې کوم، تازيله مې ده".
زۀ راووتم کورته راغلم۔لږګړی وروستـه مـورکۍ راغلـه د لېونې لوته يې په لاس کښې وه ماته يې وويل
"ورشـــه هغـــه لېـــونی لـــه ژړا شـــين شـــين کېـــږي"۔
**زۀ**: "ولې؟".
**مورکۍ**: "څۀ خبره يم۔زويه !چې زۀ يې وليـدم را ولاړ شـو زمـا لاس يې ونيـوو ،پرلاس يـې مچ کـړم ،پـه چيغوشو۔لوتـه يـې زما پـه غېږ کښـې را وغورځولـه،دی ووتو۔ورشـه ويـې ګـوره چې ځان خوږ نۀ کړي


(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ چې راغلم دی په خونه کښې نه وو-د سرای تر دروازه راووتم، په کوڅه کښې مې وکتل،لېوني ولوړل که ما پیدا کړي؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**